# د زبورونو کتاب

د زبور کتاب چې د داود د زبور په نوم هم مشهور دی، د ۱۵۰ شعرونو او سندرو مجموعه ده. داود د مسیح د زیږېدنې نه زر کاله مخکې په اسراییلو او یهودا باندې حکومت کاوه. ډېر زبورونه یا خو د هغه له خوا لیکل شوي یا لږ تر لږه د هغه په یاد کې او په هغې طریقې چې هغه به لیکلي وي او مونږ دا د ډېرو زبورونو په عنوان یا سرلیک کې لیدلی شو. نور زبورونه د مختلفو اشخاصو په نوم دي، د مثال په ډول لکه قورح، اساف یا سلیمان. په نتیجه کې دا زبورونه سره په ترتیب سره یوځای شوي دي او د مسیح د زیږېدنې نه شاوخوا درې سوه کاله مخکې په دې کتاب کې چې اوس په ډېرو ژبو ترجمه شوی دی ځای په ځای شوي دي. په داسې حال کې چې ډېر خلک د متن په لیکلو او راټولولو کې شامل وو، دا مرحله څارل شوې او څېړل شوې ده او متن د روح القدس په وسیله الهام موندلی دی.

زبورونه په اصل کې په عبراني ژبه لیکل شوي دي. د هغې په شعر کې لکه د پښتو ژبې د شعرونو په شان د وزن او قافیې سخت اصول په کې نه دي مراعت شوي، نو له همدې امله دا د ازادو یا سپینو شعرونو په شان دي. په هرحال د دې جوړه خطونو بڼه یا شکل یو موازیتوب لري چې د شاعرۍ تاثیرات یې د دوهم لیک په وسیله تکرارېږي، یا داسې جوړ شوی دی چې کوم څه چې په لومړۍ کرښه کې ویل شوي دي هغه تکرارېږي او نور هم قوي کېږي. دا ډېره مشکله ده چې زبورونه د پښتو د یو ښه شعر په شان ترجمه شي او په همدې حال کې خپله اصلي معنی وساتي. نو دا ترجمه چې په کرښو کې لیکل شوې ده د عبرانی سره موازیتوب ښایي او سره له دې چې تر یوې اندازې د پښتو د شعر بڼه لري، خو مونږ دا منو چې دا سمه او رښتینې پښتو شعر نه دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ویلی شو چې دا زبورونه د سپېڅلي کتاب د مذهبي سندرو یا سرودونو او دعاګانو کتاب دی. کله کله مونږ په کې شخصي دعاګانې او ثنا او صفتونه وینو او کله کله په کې د اسراییلو د ټول قوم دپاره. د زبورونو ډېر مختلف ډولونه موجود دي. ځینې یې خدای ته د ثنا او صفت او عبادت کولو او ځینې یې د مرستې دپاره، د ساتنې دپاره، د خلاصون یا بخښنې دپاره دعاګانې دي. په هغو کې د برکتونو دپاره شکرګزاري یا د خدای نه د بدکارانو دپاره د سزا غوښتنې دي. زبورونه په غم او خوشحالۍ کې د خلکو دننني احساسات ښکاره کوي. لکه څنګه چې زبورونه ویل کیږي، مونږ پوهیږو چې خلک په کوم حالت کې دي، دوی کولای شي چې خپل زړونه د خدای په حضور کې خلاص کړي او په ازادانه توګه خپلې شخصي غوښتنې د هغه سره شریکې کړي. ځینې زبورونه په داسې وخت کې لیکل شوي دي چې هرڅه ښه په مخ روان وو او نور د شخصي یا ملي بحرانونو په وخت کې لیکل شوي دي، لکه کله چې لیکونکی ناروغه ؤ یا دښمنانو حمله کړې ده. په زبورونو کې مونږ وینو چې څښتن خدای یوازې د اسراییلو پاچا نه بلکې د ټولو خلکو پاچا دی. هغه د عاجزو، غریبو او رښتینو خلکو نه ملاتړ کوي، خو د مغرورو او بدکارانو په خلاف دی. خدای اورشلیم د خپل ښار په توګه غوره کړی دی او هلته په عبادتځای کې موجود دی. داود او د هغه اولاده به د خدای له خوا حکومت کوي او په زبورونو کې د داود د راتلونکې اولادې یعنې عیسی مسیح په هکله پېشګویي شوې ده چې هغه به د تل دپاره د پاچا په توګه حکومت کوي. څکه چې په مسیح باندې عقیده لرونکي یا ایمانداران ویني چې زبورونو په هغه کې تحقق موندلی او بشپړ شوي دي، یعنې زبورونه د مسیحي کلیسا دپاره د عبادت یو کتاب ګرځېدلی دی. عیسی خپله په خپل تعلیم کې د زبورونو د کتاب نه کار اخلي او د نوې لوظنامې نور لیکونکي د هغه څخه نقل قول کوي. د مثال په ډول، په صلیب باندې (متي ۲۷:۴۶) عیسی د زبور ۲۲:۱ څخه نقل قول کوي. زبور ۱۱۰ د مسیح د راتګ پېشګویي کوي او دا د عبرانیانو د کتاب د ۱:۱۳ څخه نقل قول شوی دی چې د عیسی مسیح په هکله دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه ځنګه چې اسراييليان او د هغوی قوم د ډېرو ستونزو او چلنجونو سره مخ وو، همدارنګه افغانان
او د هغوی قوم ورسره مخ دي. د ترجمانانو دعا دا ده چې د زبور کتاب چې په پښتو ترجمه شوی
دی، د لوستونکو سره به زياته مرسته وکړي، ځکه چې هغوی د هغه حقيقي خدای ته رجوع کوي
چې په عيسی مسيح کې ښکاره شوی دی او د ژوند په ټولو حالاتو کې به هغه ته دعا کوي.

## لومړی کتاب

(زبور ۱–۴۱)

## رښتينې خوشحالي

١ ۱ چې عمل د بد عملو په ويناوو باندې نه کړي

نه په لار د ګناهکارو باندې درومي

مسخرو ډلو کې هم کښېناستل نه کړي

نو بيا هغه بختور دی بختور دی

۲ خو شريعت کې د څښتن چې خوشحالېږي

شپه او ورځ کاندې فکرونه په هغې کې

۳ په مثال د هغې ونې دی دا شخص

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ولاړه د ویالې په غاړه شنه وي

چې مېوه نیسي په خپل وخت کې مدام

نه یې کله پاڼې وچې ښکاره کیږي

بریالی وي په هر کار کې چې یې کاندي

۴ بدکاران داسې هېڅکله نه ښکارېږي

ځکه هر خواته د بوس غوندې بادېږي

۵ دغه راز به خدای محکوم ګناهکاران کړي

هم به یې هغه د خپله قومه جدا کړي

۶ ښتن ته معلومه ده د نیکانو لاره

بدکاران به تباهۍ ته ور روان شي

## د خدای غوره شوی پاچا

۲ ۱ ولې په قهر شول نور قومونه دومره؟

ولې بېځایه دسیسې جوړوي دغه قومونه؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ تیاروي ځانونه جنګ ته پاچاهان د جهان

دي لګیا حکمرانان د دسیسو په جوړولو یو له بله سره

د څښتن او د هغه د غوره شوي پاچا په وړاندې

۳ وایي: «راځئ چې زنځیرونه مات کړو

د غلامۍ رسۍ به وغورځوو»

۴ څښتن چې ناست دی په اسمان کې په خپل تخت باندې

خاندي ملنډې وهي په پلانونو د دوی

۵ ورکوي دوی ته په خپل قهر اخطار

وېروي دوی په خپل غضب باندې:

۶ «ما مقرر کړ خپل پاچا

په خپله پاکه غونډۍ

نوم دی صهیون د غونډۍ»

۷ پاچا وایي: «زه به اعلان کړم د څښتن فرمان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماته وویل هغه چې ته مې زوی زه دې نن پلار شوم

٨ سوال وکړه له ما نه ته

ټول قومونه در به کړم

نړۍ ټوله به د ستا شي

٩ هغوی به مات کړې

د اوسپنې امسا باندې

د خاورینو لوښو په شان

به کړې دوی سم ټوټې ټوټې»

١٠ شئ هوښیار ای پاچاهانو

تاسو دې نه عبرت واخلئ د نړۍ حکمرانانو

١١ د څښتن عبادت وکړئ

ښه په ویره او لړزان

١٢ زوی ته یې ټیټ کړئ د درناوي سرونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هسې نه چې دی په قهر شي زر

او خپلو لارو کې هلاک شئ

هرڅوک چې پناه وروړي بختور دی

## د مرستې دپاره سهارنی دعا

(د داود زبور، کله چې هغه د خپل زوی ابشالوم څخه تښتېدلی ؤ)

۳ ۱ خومره ډېر مې دښمنان دي ای ښښتنه

خومره ډېر دي چې زما په ضد پاڅېږي

۲ زما په هکله کړي خبرې او دوی وايي:

«خدای به ونه ژغوري هغه»

۳ خو ښښتنه په خطر کې ګردچاپېره مې ته سپر یې

راکوې کامیابي ماته، راکوې زړورتیا ماته

۴ زه فریاد کوم ښښتن ته د کومک

راکوي هغه ځواب د سپېڅلي غونډۍ خپلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ زه څملمه ویده کېږم

ټوله شپه ساتي څښتن مې

۶ نه وېرېږم له زرګونو دښمنانو

چې راتاو له هرې خوا نه دي پر ما

۷ ای څښتنه زما پاځه!

ومې ژغوره زما خدایه

ژامې ماتې کړه زما د دښمنانو

او غاښونه وباسه د بدکارانو

۸ د څښتن له خوا خلاصون ورکول کیږي

په خپل قوم باندې دې وي ستا برکت

## د مرستې دپاره ماښامنۍ دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقۍ د تار لرونکو آلو سره د داود زبور)

۴ ۱ ای زما دفاع کوونکی خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته قبوله زما دعا کړه

په سختۍ او په تنګۍ کې

وکړه تا راسره مرسته

مهربان اوسه پر ما

او زما واوره دعا

۲ ترڅو به تاسو سپکوئ ما خلکو؟

ترڅو به تاسو خوښوئ دا بې‌ارزښته شیان؟

ترڅو به ګرځئ په دروغو پسې؟

۳ تاسې پوه شئ ښښتن کړل غوره

وفادار خلک د ځان دپاره

کله چې کړمه زه دعا قبلوي یې هغه

۴ وېرې نه ولړزېږئ نوره ګناه مه کوئ

کله چې تاسو خپل بستر کې غلي پرېوځئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې هکله ژور فکر وکړئ

۵ وکړئ مناسبې قربانۍ د خپل ښښتن لره

او په هغه باندې توکل وکړئ

۶ ډېر خلک پوښتنه کړي او وايي چې

«څوک به وي چې وکړي خپل احسان په مونږ؟»

ای ښښتنه وځلوه نور دې د خپل ځان په مونږ

۷ تا ماته دومره خوشحالي راکړې

چې دي زياتې د غلو او د شرابو حاصل د هغوی

۸ خملم او ويده به شم په سوله کې

ای ښښتنه صرف ته يې چې خوندي به مې ساتې

## د ساتنې دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د شپېليو سره د داود زبور)

**۵** ۱ واوره ای ښښتنه ته ګفتار زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه پام په اسوېلو زما

٢ ای زما پاچا ای زما خدایه!

واوره ته فریاد زما کومک لره

ځکه چې زه تاته دعا کومه

٣ هر سهار کې اواز اورې ته زما

هر سهار کې زه کوم درته دعا

انتظار د ځواب کړمه زه له تا

٤ نه یې داسې خدای چې خوښوې بدکاري

اوسېدی نه شي له تا سره هېڅ ډول ګناهکار

٥ ستا حضور کې کبرجن ودرېدی نه شي

ته نفرت لرې له ټولو بدکارانو

٦ ټول دروغجن هلاکوې ته

جابران او چلبازان هم سپکوې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ خو په سبب د ستا له زیاتې او تلپاتې مینې

زه به درشمه ستا کور ته

او ستا له وړې په سجده به شمه

ستا سپېڅلي کور ته

٨ ای څښتنه، زما ډېر دي دښمنان

لارښوونه راته وکړه چې زه وکړم ستا رضا

زما مخې ته کړه خپله لار صفا

٩ ځکه چې نشته رښتیا د هغوی په خوله کې

او زړونه یې غواړي د نورو بربادي

او ژبې یې ډکې دي

د ریاکارۍ او چل او وله څخه

ستوني یې خلاص دي لکه د قبر په شان

١٠ ته سزا هغوی ته ورکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او محکوم یې کړه ای خدایه

چې په خپلو دسیسو خپله برباد شي

په سبب د دوی د ډېرو ګناهونو

په سبب د سرکښۍ ستا مقابل کې

هغوی وشړه بیخي له خپل حضوره

١١ پرېږده چې وي هغه ټول کسان خوشحال

څوک چې ځان په تا کې پناه مومي

پرېږده چې مدام د خوشحالۍ سندرې ووايي

وساته هغوی چې کوي مینه ستا د نوم سره

په ربښتیا چې له امله ستا خوشحال وي

١٢ ای ښښتنه، ورکوې ته برکت نېکانو ته

کړي به ستا رحم حفاظت د هغوی

لکه د سپر په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تکلیف په وخت کې د مرستې دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقی د تار لرونکو آلو سره چې دروند اواز لري
د داود زبور)

# ۶

۱ مه په قهرېږه ای څښتنه او ما مه رټه ته

په خپل غضب سره دې ماته سزا مه راکوه

۲ زه یم کمزوری ای څښتنه، په ما رحم وکړه!

ماته شفا راکړه څښتنه، چې هډوکي ټول خوږېږي زما

۳ څښتنه زه ډېر په کړاو کې یمه

دا به ترڅو پورې تر کومې به وي؟

۴ ای څښتنه زما! راشه ما وژغوره

په خپلې مینې دې له مرګه ما راخلاص کړه

۵ کله چې څوک مړ شي بیا تا نه شي یادولی

ګور کې هېڅوک نه شي ستا ثنا بیانولی

۶ په زګیروو شومه زه ستړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هره شپه مې بستر لوند وي په ژړا

هم مې لوند بالښت په اوښکو

۷ دید مې ډېر کمزوری شوی له غمو

زما سترګې پړسېدلې له ژړا نه

په سبب د دښمنانو

۸ ای بدکارو خلکو، لېرې شئ له ما

اورېدلې ده څښتن ژړا زما

۹ د کومک دپاره واورېده څښتن فریاد زما

کړي قبوله به هغه دعا زما

۱۰ زما دښمنان به ټول شرمېږي

او وېرېږي به ډېر

هغوی به تښتي ناڅاپي

په رسوايۍ سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عدالت دپاره دعا

(د داود سرود چې هغه د بنیامیني کوش له امله ووایه)

۷ ۱ ای څښتنه، زما خدایه، ما پناه راوړې تاته

وژغوره ما خلاص کړه د دوی ټولو راپسې چې دي

۲ هسې نه چې د زمریو په شان مې بوځي هغه ځای ته

چې مې څوک د خلاصون نه وي

ما به کړي ټوټې ټوټې په هغه ځای کې

۳-۴ ای زما څښتنه خدایه زما

که مې کړې وي له چا سره بدي

یا مې کړی وي کوم دوست سره خیانت

یا بې‌سببه مې په خپل دښمن تیری کړی وي

که مې کړی وي کوم کار له دې کارونو

۵ نو بیا پرېږده دښمنان مې راپسې شي او ما ګېر کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي پايمال مې او ما مړ کړي

هم عزت زما له خاورو سره خاورې

۶ په خپل قهر کې راپورته شه څښتنه!

زما د دښمنانو د غضب په وړاندې شه راپورته

نو اوس راويښ شه ته زما دپاره

برقرار کړه عدالت چې ته يې غواړې

۷ ټول قومونه دې خپل ځان باندې راټول کړه

حکومت وکړه په هغو له اسمانه

۸ ته قاضي يې د ټولو قومونو

زما حق کې قضاوت وکړه څښتنه

ته پوهېږې چې صادق او بې‌ګناه يم

۹ خدايه ته عادل يې عدالت کې

ته ازمايې زړه او فکر د هرچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بدکارو د بدیو مخه نیسه

اجر ورکړه هغه چاته چې نېکان دي

۱۰ خدای دی سپر زما

هم ژغورونکی د هغو دی

چې په زړونو کې صادق وي

۱۱ خدای دی عادل قاضي

بدکاران هره ورځ غندي

۱۲ که دوی نه کړلي بدلې خپلې لارې

خدای به تېره کړي ورته خپله توره

هغه کشوي او تیاروي ورته لینده خپله

۱۳ کړي به وژونکې وسله ورته تیاره

جوړوي ورته هم غشي سوځوونکي

۱۴ ګورئ څنګه کوي فکر د بدۍ دا بدکاران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړوي د ځورولو پلانونه دروغ وايي

۱۵ نورو خلکو ته چې دوی کيندي ځاګانې

شي به په خپله ورګوزار په کې

۱۶ ومومي سزا د خپلو بدو به

هغه ظلمونه به يې انبار شي په خپل سر باندې

۱۷ شکر به وکړم له څښتنه د انصاف دپاره

څښتن تعالی ته به ثنا وايمه په سندرو سره

## د خدای لوی والی او د انسان وقار

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د جت د بنار په تال د داود زبور)

۸ ۱ ای څښتنه، زمونږ باداره!

په ټول جهان کې د ستا نوم لوی دی

ستا ثنا او صفت رسيږي تر اسمانه

۲ ماشومان او تي رودونکي ماشومان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د لويې سندرې وايي

تا جوړه کړې ده قوي کلا د خپلو دښمنانو په ضد

هم په خپله چوپ کوې مخالفان خپل

۳ کله چې وګورم اسمان ته چې جوړ کړی دی تا

ستورې سپوږمۍ ته چې ځای په ځای کړي دي تا

۴ نو انسان څه دی چې ته يې خيال ساتې؟

فاني انسان چې ته پرې پام ساتې؟

۵ ځان پسې دوهمه درجه دې ده ورکړې ده ته

تاج د عزت او شان شوکت دې ورته ايښی په سر

۶ تا مقرر کړل دوی په هرڅه چې جوړ کړي دي تا

د دوی په واک کې دې ورکړي ټول شيان دي

۷ هم دې ورکړي ټول پسونه او غويان

او وحشي حيوانات

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ هم د هوا مرغان او د درياب ماهيان

دا ټول مخلوقات چې په درياب کې ګرځي

٩ ای څښتنه، زمونږ باداره!

په ټول جهان کې د ستا نوم لوی دی

## د خدای د عدالت دپاره شکرګزاري

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: «د زوی د مرګ» په تال د داود زبور)

**٩** ١ زه به ستا شکر کوم د زړه له کومې ای څښتنه

بيانوم به ټول کارونه عجيبه چې کړي تا

٢ زه به وايمه سندرې د خوښۍ ستا له سببه

ستا په نامه باندې سندرې د ثنا به وايم

ای خدای تعالی

٣ دښمنان زما چې مخ شي تا سره

تښتي او خوري دوی ټيندکونه هلاکيږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ تا زما په حق کې وکړه فيصله

ناست يې په تخت په انصاف قضاوت کوې

۵ تا محکوم کړل نور قومونه

تا نابود کړل بدکاران

تا د دوی نومونه ورک کړل تر ابده

۶ ختم شوي تل دپاره دي زمونږه دښمنان

تا کړل وران د دوی ښارونه تر ابده

دوی به بيا نه شي هيڅ وخت د چا په ياد

۷ خو ښښتن دی تل ترتله په تخت ناست

ده خپل تخت دی تيار کړی قضاوت ته

۸ او حکومت کړي په راستی په دې جهان

په انصاف کړي د قومونو قضاوت

۹ ښښتن د مظلومانو پناه ځای دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سختيو په شېبو کې امن ځای دی

۱۰ هغه خلک چې تا پېژني ښبتنه

کړي په تا به توکل

يوازې نه پرېږدې هغوی چې رجوع کړي تاته

۱۱ د ثنا سندرې ووايئ ښبتن ته

چې صهيون کې پاچاهي کړي

څه چې هغه کړي دي بيان يې کړئ قومونو ته

۱۲ اخلي بدل د قاتلانو ځينې

او مظلومان يې هم په ياد کې وي

فرياد د هغو هېرولی نه شي

۱۳ ای ښبتنه رحم وکړه په ما باندې

دښمنان زما، ما خومره ځوروي ورته وګوره

ای ښبتنه ته د مرګ د خولې ما خلاص کړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ نو به ستا ټول صفتونه بيانومه د صهيون په دروازه کې

زه به هلته يم خوشحاله ځکه تا يمه ژغورلی

۱۵ هغه کنده چې قومونو وه ايستلې

په کې خپله ولوېدل

هغه دام چې دوی ؤ ايښی

په کې خپله ونښتل

۱۶ مشهور شوی دی ښښتن په خپل انصاف

بدکاران په خپلو بدو عملونو کې ګېرېږي

۱۷ ګور د بدکارانو سرنوشت دی

هم د هغو ټولو چې هېر کړی يې دی خدای

۱۸ ځکه محتاجان به تر ابده نه هېرېږي

نه اميد به د خوارانو تر ابده بربادېږي

۱۹ ای ښښتنه انسان مه پرېږده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستا په محکمه کې شي برلاسی

کړه قومونه ته حاضر دې خپل حضور ته

ته هغوی محاکمه کړه

۲۰ وېره واچوه په دوی کې ای خښتنه

ترڅو پوه شي چې دوی يوازې انسانان دي

## د عدالت دپاره دعا

۱۰ ۱ ای خښتنه ولې لېرې ته ودرېږې؟

د سختيو وخت کې ولې پټوې ځان؟

۲ کبرجن دي بدکاران او ځوروي دوی غريبان

هغوی دې ګېر شي هغو نقشو کې

چې جوړې کړې دي دوی

۳ کوي فخر بدکاران په خپلو بدو خواهشاتو

حريصان سپکوي خښتن ورته بښکنځلې کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ هېڅ پروا د څښتن نه کړي بدکاران

دوی له کبره کوي فکر چې خدای هېڅ دی

۵ تل کامیاب دي بدکاران خپلو کارو کې

د دوی د پوهې نه اوچت دي قضاوتونه د خدای

وهي ملنډې دوی په خپلو ټولو دښمنانو باندې

۶ خپلو زړونو کې دوی وایي:

«نه لړزېږو مونږ هېڅکله

په پېړیو کې ځورېږو نه هېڅکله»

۷ خولې یې ډکې د لعنتونو، دروغو او اخطارونو

او د ژبو په سرونو یې بدي او شرارت دی

۸ نژدې کلیو کې ځانونه پټوي

بې‌ګناه خلک قتلوي پټو ځایونو کې

د دوی سترګې د کم‌بختو څار کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ د زمریانو په شان دوی کړي انتظار پټو ځایو کې

دوی پراته وي انتظار کې د خوارانو

دوی رانیسي او راکاږي دا خواران خپلو دامو کې

١٠ دي بې‌وزله قربانیان پراته ټوټې ټوټې

دي مات کړي د بدکارو زور دا خلک

١١ بدکاران خپلو ځانونو سره وایي:

«خدای هېر کړي هغه ټول دي

هغه سترګې پټې کړې ما به نه ویني هېڅکله»

١٢ راپاځه ای څښتنه

سزا ورکړه بدکارانو ته ای خدایه

ته هېر نه کړې هغه خلک چې محتاج دي

١٣ بدکاره خلک ولې خدای سپکوي؟

خپلو ځانونو سره داسې وایي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«هغه به ماته سزا نه راکوي»

۱۴ خو ته ګورې او د خلکو تکلیفونه او غمونه وینې

نو تل د مرستې ورکولو ته تیار یې

خدایه سپاري مسکینان ځانونه تاته

ته همېش د یتیمانو مددګار یې

۱۵ کړه مات لاسونه د بدانو او بدکارو خلکو

ته هغوی ته د بدیو سزا ورکړه

چې نور ونه کړي دا کار په اینده کې

۱۶ تل ترتله به پاچا وي څښتن

نور قومونه نابودیږي به د ځمکې د ده

۱۷ ته دعا اورې څښتنه، د خوارانو

ورکوې د هغوی زړونو ته قوت

۱۸ د یتیمانو، مظلومانو فریادونه اورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی په حق کې قضاوت کوې ته

چې فاني انسان يې نور ونه وېروي

## په ښښتن باندې باور

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۱۱

۱ زه په ښښتن لرم باور، هغه به وساتي ما

څنګه تاسو ماته دا ويلی شئ:

«والوزه مرغی په شانتې غرونو ته

۲ بدکارانو تيار کړي دي خپل غشي

هم راکش کړې يې ليندې خپلې دي

چې د تيارې نه پرې نېکان وولي

۳ که ويجاړ شي بنيادونه

څه به وکړي بيا نېکان؟»

۴ ښښتن په خپل سپېڅلي کور کې دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه تخت پاس په اسمان کې دی

هغه ټول خلک څاري په هرځای کې

او پوهیږي چې دوی څه کوي

٥ اخلي امتحان د بدکارانو او نېکانو نه

کوي نفرت د هغه چا چې زورزیاتی خوښوي

٦ وروي به سرې سکروټې او ګوګړ په بدکارانو

وي په برخه به یې بادونه سوځوونکي

٧ څښتن نېک دی خوښوي نېک عملونه

د څښتن دیدن به وکړي چې کوي نېک کردارونه

## د مصیبت په وخت کې د مرستې دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقۍ د تار لرونکو آلو سره چې دروند اواز لري

د داود زبور)

## ١٢

١ مرسته وکړه ای څښتنه!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دیندار خلک پاتې نه شول

وفادار انسانان ورک شول له دنیا نه

۲ دروغ وايي يو بل ته هغوی ټول

هغوی يو بل غولوي په چاپلوسۍ

۳ غوړه‌مالې ژبې غوڅې کړه څښتنه!

بندې هم لاپوکې خولې کړه چې وايي

۴ «مونږ په خپلو ژبو شو ګټلی هرڅه

مونږ ويلی شو هرڅه چې مونږ يې غواړو

هېڅوک نه شي کړای زمونږه مخنيوی»

۵ «خو به زه راپاڅېږمه اوس» څښتن وايي

«دا په دې چې په غريبانو ظلم کيږي

محتاجان کوي زګېروي له خپله درده

ورته ور به کړم امنيت چې په ارمان يې دي»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ د څښتن ټولې وعدې داسې سوچه دي

لکه اووه ځله چې سپين زر

په داشونو کې سوچه شي

۷-۸ بدکاران دي په هرځای کې

ټول ستاينه کړي د بدو

ای څښتنه، مونږه تل په امن ساته

مونږه وساته له دا رنګه کسانو

## څښتن ته د مرستې دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۱۳

۱ ته ترڅو به هېروې ما ای څښتنه؟ تر ابده؟

ته ترڅو به اړوې خپل مخ زما نه؟

۲ ترڅو به روح وي پرېشانی کې زما؟

ترڅو به هره ورځ زړګی له غمه ډک وي زما؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترخو دښمن به بريالی وي په ما؟

٣ راته وګوره څښتنه، زما خدايه ځواب راکړه

ماته بيا خپل قوت راکړه

هسې نه چې زه ويده د مرګ په خوب شم

٤ دښمن به وايي: «زه په ده شوم غالب»

دوی به خوشحالي کړي چې مې ماتې وخوړله

٥ خو کړم باور ستا په تلپاتې مينه

زړګی زما ستا په نجات کې خوشحالي کوي

٦ زه به ستا د ثنا وايمه سندرې ای څښتنه

ځکه چې ما سره دې کړی احسان

## د انسان بدکاري

## (د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

(زبور ٥٣)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۴

۱ کمعقلان خپلو ځانونو سره وايي چې خدای نشته

هغوی ټول دي فاسد شوي او کوي ډېر بد کارونه

دوی کې هېڅ يو نېک کار نه کړي

۲ له اسمانه څښتن ساتي خپل نظر په انسانانو

ترڅو وګوري کوم شته داسې عاقل

چې رجوع وکړي خپل خدای ته

۳ خو هغوی ټول ګمراهان شول

ورسره هم فاسدان شول

دوی کې هېڅ يو نېک کار نه کړي

يو هم نه کړي نېک کردار

۴ څښتن کړي دغه پوښتنه:

«ايا دوی هېڅ نه پوهېږي؟

بدکاران ټول جاهلان دي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما خلک داسې خوري دوی

لکه وړې چې ډوډۍ خوري

هېڅ دعا نه کوي ماته»

۵ خو په دوی به وېره راشي

ځکه خدای مل دی د نېکانو سره

۶ بدکاران د عاجزانو پلانونه شنډوي

خو ښېښتن يې ساتندوی دی

۷ کاشکې راشي نجات د اسراييلو له صهيونه

برکت چې کله بيا ورکړي ښتنه خپل ولس ته

بيا خوشحاله کورنۍ به د يعقوب شي

اسراييل به په دې کار سره خوشحال شي

## خدای څه غواړي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۵

۱ ای څښتنه څوک کولای شي چې پاتې شي ستا کور کې؟

اوسېدی شي څوک د ستا په سپېڅلي غره؟

۲ څوک چې کاندي اطاعت د خدای هر کار کې

او همېش کړي نېک کارونه

چې خبرې يې رښتيا د زړه له کومي

۳ څوک چې نه وايي تهمت په نورو باندې

څوک چې ملګرو سره بد نه کوي

نه کړي خبرې ګاونډيانو پسې

۴ څوک چې بدکارو ته په سپکه ګوري

خو عزت کوي د هغو چې کړي وېره له څښتنه

څوک چې وفا کوي خپلو وعدو باندې

نه کړي پروا که په ضرر يې هم وي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ورکوي قرضونه نورو ته بې‌سوده

نه اخلي رشوت د شاهدۍ په بې‌ګناهو

کړي چې دا کارونه همېشه به مستحکم وي

## د ډاډګیرنې دعا

(د داود زبور)

# ۱۶

۱ ته مې وساته ای خدایه، زه پناه غواړم له تا نه

۲ ما دا وویل ښبنتن ته: «ته زما ښبنتن یې

ټول زما نعمتونه دي د ستا له خوا نه»

۳ د وطن سپېڅلي خلک، شریف خلک دي!

په هغوی کې زما ټوله خوشحالي ده

۴ چې ځغلي څوک نورو خدایانو پسې

د هغو خلکو به غمونه زیات شي

د هغو خلکو قربانیو کې به نه شم شریک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه به يې نومونه د خدايانو واخلم

۵ ته زما دپاره هرڅه يې څښتنه

زه چې هر شي ته محتاج شم هغه ته راکوې ماته

زما قسمت ستا په لاسونو کې دی

۶ تا ماته په برخه کې راکړي ښه ځايونه دي

هيڅ په کې شک نشته چې ښايسته زما ميراث دی

۷ کوم ستاينه د څښتن چې کوي ماته لارښوونه

حتی په شپه کې مې وجدان راته کوي سمه ښودنه

۸ څښتن تل زما سره دی زه پوهېږم

هغه موجود دی زما ښي لاس ته

نو زه به نه غورځېږم

۹ نو زما زړه دی خوشحال او خوشحالي کومه

هم بدن مې دی په امن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ځکه چې ته به ما پرېنږدې د مړو په دنيا کې

او ته به پرېنږدې مړی د خپل سپېڅلي خادم

چې شي خراب

۱۱ راښايې ماته د ژوندون لاره

ډک دی زما زړه د خوشحالی نه ستا ديدار سره

ستا ښي لاس ته ناست به تل خوشحاله يم

## د بې‌ګناه سړي دعا

(د داود دعا)

# ۱۷

۱ واوره زاری زما ښښتنه، د انصاف دپاره

هم د مرستې په خاطر زما فرياد واوره

واوره دعا ته زما د بې ريا زړه

۲ زما په حق کې ته انصاف وکړه

ځکه پوهېږې حقيقت باندې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ تا امتحان کړ زما زړه

ته په شپه کې راغلې ماته

زه دې ښه وازمايلم

هېڅ بدي دې پيدا نه کړله په ما کې

٤ لکه د نورو په شان نه کوم خبرې بدې

ما دی کړی اطاعت د ستا د امر

ما د ظلم لاره نه ده خپله کړې

٥ يمه تللی همېشه د ستا په لاره

ښويېدلي مې هېڅ نه دي قدمونه

٦ خدايه فرياد کومه ځکه راکوې ته ځواب

ونيسه غوږ ماته واوره زما بيان

٧ عجيبه او تلپاتې مينه دې ښکاره کړه ماته

ژغورې ستا ځواکمن لاس هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې پناه غواړي په تا کې له دښمنه

۸ ومې ساته لکه کسي د چشمانو

پټ مې کړه د سیورې د وزرو نه دې

۹ ومې ساته له بد کارو چې حمله کوي په ما

له قاتلو دښمنانو چې چاپېره دي له ما

۱۰ رحم نشته په هغوی کې

کړې خبرې کبرجنې

۱۱ په ما پسې دي هغوی

چاپېر شوي دي له ما نه

په هرځای کې چې زه ګرځم

دوی فرصت ته انتظار کړي

چې ما وولي په ځمکه

۱۲ دوی په شان دي د هغو وږیو زمریانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کړي ښکار خوراک دپاره

یا په مثل د زمریانو د بچیانو

چې په پټ ځای کې وي ناست حملې دپاره

۱۳ ای څښتنه، شه راپورته مقابل کې

ته زما د دښمنانو او دوی مات کړه

له بدکارو مې کړه خلاص په توره خپله

۱۴ چې هرڅه لري هغوی په دې دنیا کې

ما کړه خلاص له داسې خلکو

سزا ورکړه د کړاو چې تا ساتلی دوی دپاره

هم ورکړه پرېمانه کړاوونه یې بچیانو ته

دغه شانتې ورکړه کړاوونه د بچیانو اولادو ته یې

۱۵ خو زه به وکړم ستا دیدار

ځکه بد مې کړي نه دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چې کله رابېدار شم

موجوديت د ستا قانع به زما زړه کړي

## د داود د برياليتوب سندره

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د څښتن د خدمتګار داود زبور کله چې څښتن داود د شاوول او د هغه د نورو ټولو دښمنانو څخه خلاص کړ. هغه دا زبور ووايه.)

(دوهم سموييل ۱:۲۲-۵۱)

# ۱۸

۱ ته زما قوت يې ای څښتنه په ما ګران يې

۲ څښتن دی زما ساتونکی

دی زما قوي کلا

زما ژغورونکی زما خدای دی

زما امن دی هغه کې

کوي ساتنه زما لکه د سپر په شان

دی زما قوي ژغورونکی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د امن پناه ځای دی زما

۳ مرسته غواړم له ښښتنه

چې لایق دی د صفت

خلاصوي مې هغه

ما له خپلو دښمنانو څخه

۴ د مرګ رسی رانه راتاوې شولې

د بربادۍ سیلابو واخیستمه

۵ د ګور په لومه کې راګېر یمه زه

مرګ راته لاره کې خپل دام ایښی ؤ

۶ په خپل تکلیف کې مې ښښتن ته غږ کړ

کومک دپاره مې خپل خدای ته غږ کړ

زما اواز یې په خپل کور کې واورېد

زما فریاد یې د کومک واورېده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ بيا ځمکې وخوړ ټکان ولړزېدله

خوځېدل د غرو بېخونه په لړزه شول

ځکه په قهر ؤ خداى

٨ شو له سپېږمو نه يې راپورته لوګى

بلې لمبې او سرې سکروټې يې بادېدلې د خولې

٩ ده کړې خلاصې دروازې د اسمانونو او رابنکته شو

تورې ورېځې وې د ده ترپښو لاندې

١٠ سپور په اسماني مخلوق شو والوته

سپور شو په وزرو د باد زر راغى

١١ ځان ته جوړه يې پرده کړه له تيارې نه

د اوبو ډکې ټينګې ورېځې وې چاپېره د ده

١٢ جلال يې د حضور شولو ښکاره په منځ د ورېځو کې

ږلى او سرې سکروټې ورېدې لکه باران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ لکه تندر ځښتن وکړلې خبرې له اسمانه

شو اواز د خدای تعالی په اورېدو

۱۴ وویشتل هغه خپل غشي، دښمنان یې تار په تار کړل

د برېښنا په پړکېدو یې وارخطا کړل

۱۵ بیا ستا په رټلو باندې ای ځښتنه

ستا د تنفس په انفجار سره

تل د دریاب هم راښکاره شولو

وو پراته د ځمکې بنیادونه لوڅ

۱۶ له اسمانه ځښتن لاس خپل کړ رااوږد ویې نیولم

له ژورو اوبو ده راوویستلم

۱۷ زه یې کړمه له قوي دښمنه خلاص

او له هغو چې نفرت یې کړ له ما نه

دوی وو ډېر قوي له ما نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ هغه وخت کې چې زه ومه په تکليف کې

دوی حمله وکړه په ما

خو څښتن راڅخه وکړ ملاتړ

۱۹ له خطره يې کړم بچ مرسته يې وکړه

ځکه يې کړم بچ چې ؤ راضي له ما

۲۰ اجر راکوي څښتن ځکه کړم کارونه نېک

يمه بېګناه ځکه انعام راکوي ماته

۲۱ ما د څښتن د قوانينو اطاعت کړی دی

نه مې د بدی په خاطر مخ له خپل خدای نه اړولی دی

۲۲ ما عمل کړی د هغه په ټولو حکمونو

نافرماني مې کړې نه ده له قوانينو د ده

۲۳ هغه پوهيږي زه بېعيبه يمه

بدو کارونو نه مې ځان ساتلی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ نو اجر راکړی ښښتن ځکه کړم کارونه نېک

هغه پوهېږي بېګناه يمه زه

۲۵ ای ښښتنه، وفادار يې هغه چاته چې وي تاته وفادار

تل نېکي کړې د هغو سره چې وي بېعيبه

۲۶ پاک ته خپل ځان پاک ښکاري

ټګمار ته ځان پېچلی

۲۷ ته عاجزانو ته نجات ورکوې

خو کبرجن ټيټوې

۲۸ ای ښښتنه زما خدايه، ساتې زما ډېوه روښانه

هم تياره مې بدلوې په رڼا باندې

۲۹ راکوې قوت چې کړم حمله په دښمن

راکوې قدرت په دېوالو د ختلو

۳۰ ګوره زما خدای څومره کامل يې عملونه دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځومره د باور يې ټول لوظونه دي

هغه دی سپر هغو ته

ټول چې پناه ده ته راوړي

۳۱ ځکه چې څوک دی خدای بې له څښتنه؟

څوک کړي دفاع زمونږه بې له هغه نه؟

۳۲ هغه خدای دی چې قوت راکوي ماته

هغه خدای دی چې خوندي مې ساتي لاره

۳۳ زه ثابت قدم لکه هوسی يې کړم

او په غرونو کې مې ساتي خوندي

۳۴ هغه ما تياروي د جنګ دپاره

ترڅو زه کړمه راکش ليند‌ه د زيړو

۳۵ سپر راکوې ماته د خلاصون خپل

مرسته کوي ښي لاس ستا زما سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه قوي کړی ستا کومک يمه

۳۶ ته پراخوې زما د پښو لاره

ځکه نه ښوييږي پښې زما هېڅکله

۳۷ دښمنان تعقيبوم او وررسېږم

نه راګرځم تر هغې چې يې نابود کړم

۳۸ داسې يې وهم چې پاڅېدی نه شي

دي زما د پښو لاندې نسکور پراته

۳۹ راکوې ما له ته قوت د جګړې

غورځوې ماته دښمنان په پښو کې

۴۰ مجبوروې دښمنان زما تېښتې ته

زه تباه کوم هغه چې کرکه کړي زما ځينې

۴۱ دوی د کومک دپاره کړي فرياد

نشته څوک چې کړي دوی خلاص

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهي چيغې دوی ښبنتن ته

هغه نه ورکوي دوی ته ځوابونه

۴۲ لکه د دوړې ميده کومه يې زه

چې يې هر خوا والوزوي بادونه

داسې يې ايسته غورځوم

لکه د خټو د کوڅو په شان

۴۳ تا د سرکښانو خلکو خلاص کړلم

او د قومونو دې سردار کړلم

اوس مې خدمتونه هغه خلک کوي

څوک چې پخوا نه پېژندل ما کله

۴۴ هم بېګانه خلک زما په مخکې ټيټوي سرونه

چې کله اوري زما په هکله اطاعت مې کوي

۴۵ دوی بايلي خپل همتونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په لړزه باندې راوځي دوی له خپلو کلاګانو

۴۶ څښتن ژوندی دی!

وي دې ثنا زما ساتونکي ته!

کړئ اعلان لويي د هغه خدای چې مې ژغورې

۴۷ راکوي ماته توفيق چې بدل واخلم له دښمنه

راولي زما د ځواک لاندې قومونه

۴۸ او ما له خپلو دښمنانو خلاصوي

راکوې بريا په دښمنانو ای څښتنه ته

او ما ساتې له ظالمو انسانانو څخه

۴۹ نو ځکه څښتنه د قومونو منځ کې به ستا ثنا وايمه

او صفت به ستا د نامه کومه زه په سندرو سره

۵۰ خدای ورکوي لويې برياوې خپل پاچا ته

مينه تلپاتې کوي د خپل غوره کړای شوي سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تل ترتله د داود او د هغه د اولادې سره

## د دنيا په پيدايښت کې د خداى لويې

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۱۹

۱ اسمانونه څومره ښه بيانوي د خداى جلال

کارنامې د لاس يې وايي فضا

۲ هره ورځ يې اعلانوي راتلونکې ورځ ته

هره شپه يې تکراروي سبا شپې ته

۳ نه کوي هغوی خبرې

نه اواز يې اورېدی شي

۴ خو بياهم د دوی پيغام ټولې دنيا تهوررسيږي

د دوی خبرې د دنيا تر بل سره اورېدل کيږي

خداى خيمه ده لګولې په اسمان کې لمر دپاره

۵ لمر راوځي لکه زوم د خپل مکانه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه ښنګه چې خوشحال وي یو اتل مسابقې ته

۶ لمر راخېژي د اسمان له یوه سره

او رسیږي تر بل سره

هیڅ شی پټ نه دی د هغه له ګرمی نه

## د ښښتن شریعت

۷ د ښښتن شریعت کامل دی

او تازه کوي روح

باوري دي ټول حکمونه د ښښتن

ورکوي حکمت هغو ته چې ساده دي

۸ دي سم د ښښتن اصول

د خلکو زړونو ته خوښي ورکوي

پاک دي حکمونه د ښښتن

ورکوي ذهن ته پوهه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ ویره ښه ده له ښبتنه

برقرار به وي مدام

د ښبتن قضاوتونه دي برحقه

او همېش عادلانه دي

۱۰ ده په زړه پورې د سوچه طلا نه ډېره هغه

ډېره خوږه ده د سوچه شاتو نه

۱۱ ورکوي هغه اخطار د ستا خادم ته

که يې ومنم نو مومم به لوی اجر

۱۲ نه شي څوک کولای چې په خپله خطا پوه شي

معاف کړه ای ښبتنه خطاګانې نامعلومه مې

۱۳ نو قصدي ګناه نه ما خوندي وساته

پرې يې نږدې چې په ما شي مسلطه

او بيا زه به شم کامل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شم به خلاص له ګناهونو لويو لويو

۱۴ ای ښبنتنه، ای زما د پناه ځايه! ای زما ژغورونکيه!

شي منظورې دې خبرې او فکرونه زما تاته!

## د فتحې دپاره دعا

## (د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۲۰

۱ په سختۍ کې دې ښبنتن کاندي قبوله ستا دعا

د يعقوب خدای دې ساتنه وکړي ستا

۲ له خپل سپېڅلي ځای نه دې کومک واستوي تاته

د صهيون له غره دې مرسته وکړي ستا

۳ کړي رايادې دې ستا ټولې نذرانې

کړي قبولې دې ستا ټولې سوځېدونکې قربانۍ

۴ کړي پوره دې هغه ستا د زړه ارمان

او د ستا ټول پلانونه دې کامياب کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ بیا به چیغې د خوشحالۍ ستا په بریا کړو

د خپل خدای په نوم به جګ کړو بیرغونه

کړي ښتن دې ټول قبول ستا سوالونه

۶ اوس پوهېږم چې ښتن خپل غوره کړی پاچا ژغوري

کړي دعا به یې قبوله له خپل پاک ځایه اسمانه

ور به کړي په خپل قدرت هغه ته لویې کامیابۍ

۷ ځینې توکل کوي ګاډیو جنګي خپلو باندې

ځینې توکل کړي په اسونو باندې

زمونږ توکل دی په نامه د خپل ښتن خدای

۸ داسې خلک به ښوییږي او رالوېږي

خو مونږه به پاڅېږو ټینګ ودرېږو به

۹ ای ښتنته، ته پاچا ته بری ورکړه

د کومک دپاره زمونږه فریاد واوره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د کامیابۍ دپاره د ښبنتن ثنا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۲۱

۱ پاچا ستا په طاقت کوي ښبنتنه خوشحالي

کړي څومره لویه خوشحالي ځکه چې تا ورته بری ورکړی

۲ تا دی پوره کړی د هغه د زړه ارمان

رد کړی نه دی تا د هغه د خولې سوال

۳ تا پاچا کړ استقبال په ډېرو ښو برکتونو

کېښود دې په سر د هغه تاج د سوچه سرو زرو

۴ هغه ژوند وغوښت له تا نه

اوږد عمر دوامدار دې ورته ورکړ

۵ ستا په مرسته د هغه جلال ډېر لوی شو

تا ورکړی دی هغه ته ښه شهرت

هم ډېر زیات شان او شوکت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ هغه ته دې ورکړی برکت نه‌ختمېدونکی دی

ورکړی خپل دیدار دې ورته زړه خوشحالوونکی دی

۷ کړي پاچا توکل څښتن تعالی باندې

په سبب د ده د تلپاتې مینې

هغه تل به وي په امن

۸ ته به خپل ټول دښمنان ونیسې

وبه نیسې هغو چې کوي کرکه له تا نه

۹ چې ښکاره کله ته ځان کړې

د تنور د اور په شان به دوی برباد کړې

په خپل قهر به څښتن هغوی هلاک کړي

دوی به وسوځوي اور

۱۰ ته به مړه کړې هغوی ټول

څوک ژوندی به پاتې نه شي د هغوی د اولادې نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ جوړوي د ستا په ضد دوى دسيسې

او ستا په ضد د شرارت پلانونه

خو كامياب به دوى پرې نه شي

١٢ په هغوى باندې به خپل غشي ګوزار كړې

دوى په شا به شي او وبه كاندي تېښته

١٣ مونږه ستا كوو ستاينه اى څښتنه

ستا د لوى قوت دپاره

مونږ به ووايو سندرې او ثنا ستا د قدرت

## د تكليف، فرياد او د ستاينې سندره

(د سرود ويونكو د مشر دپاره: «د سباوون د هوسۍ» په تال د داود زبور)

**٢٢** ١ زما خدايه، زما خدايه، تا زه ولې يم پرې ايښى؟

شولې دومره لېرې ته ولې له ما نه؟

نه مې اورې ته زګېروې، ولې نه راځې خلاصون له؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ هره ورځ درته فریاد کړم زما خدایه

خو ځواب نه راکوې ته

هره شپه درته فریاد کړم

خو ما ونه موند ارام

٣ خو ته سپېڅلی یې او ناست یې پاچاهي کړې

قبلوې د اسراییلو ثناګانې

٤ په تا وکړلو توکل زمونږ نیکونو

چې توکل یې په تا وکړ تا خلاصون هغوی ته ورکړ

٥ هغوی تاته فریاد وکړ او تا خلاص کړل له خطره

چې توکل یې په تا وکړ هغوی نه شولو مایوسه

٦ خو د خلکو په نظر کې زه چینجی یم انسان نه یم

خلک خاندي په ما پورې او په سپکه راته ګوري

٧ وهي ما باندې ملنډې چې هرڅوک ویني ما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوباسي راته ژبې خوځوي راته سرونه

٨ دوی وايي: «په ښبنتن دې تکیه وکړي

چې خلاصون ورکړي

ځکه ښبنتن ورسره مینه کوي

نو هغه دې وژغوري»

٩ همدا ته وې چې دې راوویستم

خوندي د مور د خېټې نه

زه ماشوم ومه د غېږې تا ساتنه کړه زما

١٠ زه چې شومه راپیدا له هغې ورځې

تا په ما کولو پام

له کوم وخت نه چې پیدا شوم

همدا ته وې زما خدای

١١ لېرې کېږه مه له ما نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی کړاو رانژدې شوی

هېڅوک نشته دی د مرستې

۱۲ ډېر دښمنان رانه چاپېر دي د غويانو په څېر

دي په مثال د غويانو زورورو د باشان د سيمې

۱۳ زما دښمنان لکه زمريان دي

خولې يې خلاصې غړمبار کړي

هم کوي په ما بريدونه

۱۴ لکه توی چې شي اوبه په ځمکه باندې

داسې لاړلو قوت مې له بدنه

ټول هډوکي مې بندونو نه جدا شول

زړه زما شولو د موم په شان

اوبه زما سينه کې

۱۵ زور مې ټول لکه د خټو د کودي په شانتې خلاص شو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په تالو پورې مې ژبه ده نښتې

زه دې پرېښودمه مرګ ته په ګردونو کې

۱۶ بدکاران خلک زما نه راچاپېر شول

لکه د سپيانو په شان راتاو شول رانه

پښې او لاسونه يې زما وداړل

۱۷ شم شمېرلی مې هډوکي د بدن ټول

دښمنان زما په ځير ځير راته ګوري

او خوشحالېږي په ما

۱۸ اچوي پچه دوی زما په جامو

او يې وېشي په خپل منځ کې

۱۹ خو ای څښتنه، لېرې کېږه مه له ما نه

ای زما ځواکه، بيړه کوه زما مرستې ته راشه

۲۰ زما ځان خلاص کړه د تورې د ګوزار نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قيمتي ژوند زما وژغوره له سپيانو

٢١ د زمرو د خولې مې خلاص کړه

هم مې خلاص کړه د وحشي غويو د ښکرو

٢٢ زه به اعلان کړمه ستا نوم خپلو خلکو ته

د دوی غونډه کې به وکړم ستا ثنا او صفت

٢٣ له څښتنه چې ويرېږئ، د هغه ثنا ووايئ!

ای د يعقوب اولادې، ټول کړئ عزت د هغه!

د اسراييلو ټولو خلکو، کړئ عبادت د هغه!

٢٤ نه دی غافل شوی غريبانو نه

او نه يې د نظره غورځولی د هغوی تکليف

نه دی اړولی هغه خپل مخ له هغوی څخه

هم اورېدلي فريادونه د هغوی يې د کومک دي

٢٥ لويه غونډه کې به وکړمه صفت ستا د کارونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په حضور د هغو خلکو چې کوي عبادت ستا

زه به ورکړمه نذرونه چې يې وعده کړې ما

۲۶ غريبان چې خومره غواړي دوی به وخوري

چې رجوع کوي څښتن ته د هغه ثنا به وايي

تل ترتله دې نېکمرغه وي هغوی!

۲۷ ټوله ځمکه به څښتن يادوي

هم به ټول ده ته راواوړي

ټول قومونه به څښتن ته په سجده شي

۲۸ ځکه دی څښتن پاچا

حکومت کړي په قومونو

۲۹ ټول مغرور خلک به ده ته سجده کاندي

ټول فاني خلک به ده ته په سجده شي

او هغوی چې ځان ژوندي ساتلی نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ عبادت به د هغه کوي راتلونکي نسلونه

د څښتن په باب به وکاندي بل نسل ته بيان

۳۱ دا به وويل شي هغو ته چې لا نه دي پيدا شوي:

«څښتن ژغورلي يو مونږ!»

## څښتن زما شپونکی دی

(د داود زبور)

# ۲۳

۱ دی څښتن زما شپونکی

زه هيڅ شي ته محتاج نه يم

۲ راکوي ارام سرسبزه څړځايو کې

هم مې بوځي اوبو ارامو لره

۳ هغه ماته راکوي تازه قوت

ما په سمه لاره بيايي

د خپل نيک نامه دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ که د مرګ تیاره دره کې هم روان یم

له خطره به زه ونه کړمه وېره

ځکه ته راسره مل یې ای څښتنه

ستا کوتک او امسا دواړه به زما په تسلی کاندي ساتنه

۵ ته زما د دښمنانو په حضور کې

ته ماته غوړوې خپل دسترخوان

هرکلی زما کوې ته د درانه مېلمه په شان

ډکوې ته تر خولې پورې زما جام

۶ زه ډاډه یم چې ستا مینه او نېکي

به تر عمره راسره وي

ای څښتنه، ستا په کور کې به اوسېږم تل ترتله

د جلال پاچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۴

۱ چې په ځمکه کې هرڅه دي
هغه واړه د څښتن دي
چې په دنیا کې اوسي
هغه واړه د څښتن دي
۲ ځکه تهداب د ځمکې کېښود څښتن
هغه یې کلکه ودروله دریابونو باندې
هم یې قایمه ودروله په اوبو د ځمکې لاندې باندې
۳ څوک شي ختلی د څښتن غونډۍ ته؟
څوک ودرېدی شي د هغه پاک کور کې؟
۴ هغه څوک چې لاسونه یې په ګناه نه وي ککړ
او زړه یې پاک وي
چې د بتانو عبادت نه کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په دروغو قسمونه نه خوري

۵ نو برکت به د څښتن نه واخلي

کړي د هغه ژغورونکی خدای به یې معصوم اعلان

۶ دا هغه خلک دي چې کړي رجوع خدای ته

څوک چې غواړي د یعقوب د خدای دیدار

۷ ای دروازو خلاصې شئ

شئ تاریخي دروازو تاسې بېرته

چې د جلال پاچا راننوځي

۸ څوک دی دا د جلال پاچا؟

هغه څښتن چې دی قوي او زورور

هغه څښتن چې دی تکړه په جنګ کې

۹ ای دروازو خلاصې شئ

شئ بېرته تاسې تاریخي دروازو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د جلال پاچا راننوځي

۱۰ څوک دی دا د جلال پاچا؟

دا مطلق قادر څښتن دی

دا دی پاچا د جلال

## د لارښوونې او ساتنې دپاره دعا

(د داود زبور)

**۲۵** ۱ څښتنه ستا درګاه ته زه دعا کومه

۲ زما خدایه، توکل دی زما په تا

مه مې پرېږده چې شرمنده شم

مه پرېږده چې دښمنان مې شي خوشحال راباندې

۳ چې په تا کوي توکل هغه به نه شي شرمنده

بېسببه چې خیانت کړي شي هغوی به شرمنده

۴ ای څښتنه، خپلې لارې دې راوښایه ته ماته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طريقي د ژوند رازده کړه خپلې ماته

٥ حقيقي لاره راوښايه ما پوه کړه

ځکه ته زما ژغورونکی خدای يې

تل په تا باندې توکل کړم

٦ در په ياد کړه ای ښښتنه

هغه خپل رحم او تلپاتې مينه

چې دې کوله له ازله ځينې

٧ ګناهونه او سرکښۍ د ځوانۍ مې کړه ته هېرې

در په ياد مې کړه ښښتنه په تلپاتې مينې خپلې

مهربان يې ای ښښتنه

٨ ښښتن نېک دی او صادق دی

ګناهکارو ته ورښايي سمه لاره

٩ عاجزانو ته ورښايي نېغه لاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طريقه خپله وروښايي هغوی ته

۱۰ هغو خلکو ته به وکړي لارښوونه په مينه او وفا

چې ولاړ د ده په لوظ وي او مني د ده حکمونه

۱۱ د خپل نوم په خاطر دې ای څښتنه

ګناهونه زما معاف کړه ځکه زيات دي

۱۲ هغه څوک چې کوي وېره له څښتنه

هغه وبه ښايي هغه ته سمه لاره چې پرې لاړ شي

۱۳ دی همېش به وي سوکاله

اولاده به يې د ځمکې وارثان شي

۱۴ دی څښتن ملګری د هغو خلکو

څوک چې کوي وېره د هغه ځينې

دی به هغوی سره خپل لوظ کړي تاييد

۱۵ سترګې په لاره يمه همېش څښتن ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه هغه مې خلاصوي د دښمن له دامه څخه

١٦ زما خواته نظر وکړه ای ښتنه رحم وکړه په ما

ځکه چې زه يمه تنها او هم مظلوم يمه زه

١٧ د زړه غمونه مې زيات شوي دي

ټولو سختيو نه نجات راکړه

١٨ زما غمونو، تکليفونو ته نظر وکړه ته

او ګناهونه راته وبخښه ټول

١٩ ګوره څومره زيات دي دښمنان زما

ګوره څومره سخت کوي نفرت له ما

٢٠ ته مې وساته خلاصون راکړه ته ماته

مه پرېږده چې شرمنده شم

له همدې وجې پناه راوړمه تاته

٢١ کړي نېکي او صداقت دې زما ساتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې زه کوم توکل په تا

۲۲ ته کړه خلاص ای خدایه

اسراييل له خپلو ټولو تکليفونو

## د بې‌ګناه کس دعا

(د داود زبور)

# ۲۶

۱ ته ښکاره کړه ای څښتنه

چې زه يمه بې‌ګناه

دې دپاره چې کومه سم کارونه

او په تا باندې توکل کومه بې له شکه

۲ کړه امتحان مې ای څښتنه او مې وازمايلو

زما د زړه او ذهن دواړو ازمېښت وکړه ته

۳ ځکه ستا تلپاتې مينه زما په سترګو کې ده

زه تېرومه خپل ژوند ستا وفادارۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ د دروغجنو خلکو ملګرتیا نه کوم

د منافقو هېڅ ملتیا نه کوم

۵ زه د بدانو د ناستې نه نفرت کومه

او د بدکارانو سره نه کېنېنمه

۶ خپل لاسونه زه وینځمه

چې دا وښایم بې‌ګناه یم

قربانګاه نه دې تاوېږم ای څښتنه

۷ په لوړ اواز وایم سندرې

او ادا کوم ستا شکر

بیانومه زه ستا ټول عجیبه کارونه

۸ ای څښتنه، هغه کور کې چې ته اوسې په ما ګران دی

هغه ځای کې چې جلال د ستا اوسیږي په ما ګران دی

۹ ګناهکارو سره مه تباه کوه ما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قاتلو له تقديره ته ساته ما

١٠ هغه خلک چې جوړوي پلانونه تل د بدۍ

چې همېش دي ته تيار وي رشوت واخلي

١١ خو زه کړم سم کارونه

رحم وکړه ته په ما او نجات راکړه

١٢ زه د ټولو خطرونو نه خوندي يم

په لويه غونډه کې ثنا او صفت به د څښتن کومه

## د ثنا او صفت دعا

(د داود زبور)

## ٢٧

١ څښتن زما رڼا زما نجات دی

نو بيا چا نه وېره وکړم؟

دی څښتن زما د ژوند ښه پناه ځای

وېره نه کړم زه د چا نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ چې کړي کله بدکاران په ما حمله

رقیبان او دښمنان چې کله هڅه زما د مرګ کړي

تیندکونه خوري رالویږي

٣ که لښکرې هم له ما نه شي چاپېرې

زه به ونه کړمه وېره

که جګړه زما په ضد هم شي روانه

بیا به هم کوم توکل په ښښتن

٤ زه د یو شي سوال کومه له ښښتنه

هغه دا دی چې یې غواړم

چې ټول عمر د ښښتن کور کې دېره شم

چې زه ووینم ښېګڼې د ښښتن

او چې وکړمه طلب د هدایت یې

٥ د سختیو په وختونو کې به ماته پناه راکړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما به وساتي په امن په خپل کور کې

ما به وساتي خوندي په سر د لوړ ګټ

۶ بریالی به شم په ټولو دښمنانو

چې زما څخه چاپېر دي

زه به ورکړم قرباني د ده په کور کې

د خوشحالۍ په چیغو

زه به وایمه سندرې د ښښتن به کړم ثنا او صفت یې

۷ زه چې کله کړم فریاد نو ته یې واوره ای ښښتنه

مهربان شه په ما باندې او دعا مې کړه قبوله!

۸ کله تا چې دي ویلي: «راشئ زما عبادت وکړئ»

ما ځواب درته ویلی: «زه به درشم ای ښښتنه»

۹ ته دې خپل مخ له ما نه مه اړوه

ته په ما مه په قهرېږه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما مه شړه یمه زه ستا خدمتګار

تل زما يې مددګار

ای زما د نجات خدايه

ته مې مه پرېږده او مه مې لېرې باسه

۱۰ که مې مور او پلار هم پرېږدي

خو څښتن به ما قبول کړي

۱۱ ماته خپله لاره وښايه څښتنه

ما په سمه لاره بوځه

ځکه ډېر مې دښمنان دي

۱۲ ما د رقيبانو واک کې مه ورکوه

راپورته شوي زما په ضد دي دروغجن شاهدان

راکوي د تاوتريخوالي اخطارونه

۱۳ زه باور لرم تر هغې به يم ژوندی ا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خپل ژوند کې د څښتن نېکي وګورم

۱۴ کړه توکل په څښتن

اوسه مضبوطه او پرېړده زړه دې چې جرات پیدا کړي

کړه توکل دې په څښتن

## د دښمنانو په خلاف د مرستې دپاره دعا

(د داود زبور)

# ۲۸

۱ ای څښتنه، ای زما دفاع کوونکیه

زه فریاد کومه تاته

په ما دې مه کڼوه خپل غوږونه

که ځواب راته رانه کړې

نو زه به د هغو په شان شم

چې وي روان د مرګ کندې ته

۲ زه چې کله د کومک دپاره تاته زاري کومه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د ډېر سپېڅلي ځای په لور چې کړم لاسونه پورته

نو قبوله مې زاري کړه

۳ ما په هغو بدکارانو کې مه نيسه

کوم چې کاندي بد کارونه

هغوی تل کاندي خبرې دوستانه

خو په زړونو کې يې تل وي نفرتونه

۴ څه چې دوی کړي د هغو سزا ورکړه

د هغو بدو کارونو چې دوی کړي

د خپلو ټولو عملونو سزا ورکړه ته هغوی ته

چې د کوم شي دوی لايق دي هغه ورکړه

۵ هغه کارونه چې ښښتن کړي دي

او يا هغه څه چې جوړ کړي دي هغه

هغوی يې نه ساتي پروا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو به ونړوي دوی شي راګوزار به

بيا هېڅکله به هغوی نه کړي اباد

۶ ثنا او صفت دې وي څښتن ته

چې يې واورېدې زاری زما د رحم په خاطر

۷ دی څښتن زما قوت او زما سپر

زه د زړه نه توکل په هغه کړمه

هغه کوي راسره مرسته خوشحالېږي زړګی

زه يې د شکر په سندرو صفتونه کوم

۸ څښتن قوت ورکوي خپل ولس ته

هغه کلا ده د نجات د خپل غوره پاچا

۹ ته خپل قوم ته نجات ورکړه ای څښتنه

هغه چاته برکت ورکړه چې ستا دي

ته شپونکی د هغوی اوسه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

همېشهورباندې پام کړه

## په توفان کې د څښتن اواز

(د داود زبور)

# ۲۹

۱ د څښتن ستاینه وکړئ د اسمان مخلوقه

ووایئ چې څومره ډک دی د جلال نه د څښتن نوم

۲ د څښتن عبادت وکړئ د هغه په سپېڅلتوب

او شان شوکت کې

کړئ څښتن ته عبادت په سپېڅلې توګه

۳ په دریابونو اورېدلی شي اواز د څښتن

جلالي خدای کړي خبرې لکه تندر

په ټولو دریابونو اورېدی شي اواز د هغه

۴ زورور دی د څښتن اواز

ډک دی له جلاله د څښتن اواز

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ چې ښښتن کاندي خبرې

نو اواز يې ماتوي د سبر ونې

حتی دا چې ماتوي هم د لبنان د سبر ونې

۶ لړزوي هغه ټول غرونه د لبنان

وهي خرنګه ټوپونه چې خوسی

د حرمون غر په دا ډول خوځېدل کړي

لکه د ځوان وحشي غويي د ټوپونو په شان

۷ ځلېدونکې برېښنا جوړه

له اوازه د ښښتن شي

۸ د ښښتن اواز دښته په لړزان راولي

ده په لړزان د قادش دښته

۹ د ښښتن په اواز کړوي د څېړی ونې

او د ونو څخه پاڼې رژوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د خدای په کور کې هر يو چيغې وهي:

«وي دې جلال څښتن ته»

۱۰ حکم چلوي څښتن سېلاب باندې

وي هغه پاچا به تر ابده

۱۱ ورکوي څښتن ولس خپل ته قوت

ورکوي ورته د سولې برکت

## د شکرګزارۍ دعا

(د داود زبور. د خدای د کور د وقفولو دپاره سرود)

۳۰ ۱ ای څښتنه بيانومه ستا لويي

ځکه تا يمه ژغورلې

دښمنان دې زما نه دي پرېښې

چې په ما شي دوی خوشحاله

۲ ای څښتنه زما خدايه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما فریاد وکړ ستا د کومک دپاره

تا شفا راکړله ماته

٣ زه د مرګ په لار روان وم

تا له قبره وساتلم

نوی ژوند دې راکړ ماته

٤ ای ښښتن ته وفادارو خلکو!

ثنا يې وايئ په سندرو باندې

ساتئ يې په ياد شکر يې کړئ چې دا سپېڅلی دی

٥ وې غضب د ده یوې شېبې دپاره

خو یې فضل وې د ټول عمر دپاره

د شپې کېدای شي چې ژړا وې ټوله

خو په سهار کې خوشحالي راځي

٦ چې مې احساس د بې‌غمی وکړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا مې د ځانه سره داسې وویل:

«زه به هېڅکله په لړزان نه شم»

۷ کله چې تا وکړ احسان په ما ای څښتنه

زه دې د غره په شان قوي کړمه

کله چې مخ دې رانه واړاوه زه ووېرېدم

۸ ما فریاد وکړ تاته ای څښتنه

ما د رحم سوال وکړلو له تا نه

۹ «زما مرګی به څه فایده ولري؟

څه فایده به وکړي چې قبر ته زه لاړ شم؟

ایا خاورې به ویلی ستا ثنا شي؟

دا به وکړای شي بیان وفا د ستا؟

۱۰ کړه دعا زما قبوله ای څښتنه رحم وکړه ته په ما

ای څښتنه مددګار شه ته زما»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ تا زما ماتم بدل کړې د خوشحالۍ په ګډا

تا د وير جامې زما نه وويستلې

دې جامې د خوشحالۍ راواغوستلې

۱۲ نو زه به غلی پاتې نه شم

زه به وايم ستا د ثنا سندره د زړه له تله

ای څښتنه! زما خدای يې

تل ترتله به زه ستا شکر کومه

## په خدای باندې د توکل کولو دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۳۱

۱ ما پناه راوړې تاته ای څښتنه!

مه پرېږده مې ته هېڅکله خجالت ته

ته عادل يې ماته راکړه نجات ته

۲ ونيسه غوږ ماته واوره زما دعا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زر شه ماته نجات راکړه

زما دپاره پناه ځای شه چې ساتنه زما وکړې

ته زما قوي کلا شه چې نجات راته راکړې

٣ زما کلا او پناه ځای یې ته

ته د خپل نوم په خاطر وکړه هدایت او لارښوونه راته

٤ ما له هغه دامه وساته چې دوی دی راته ایښی

ځکه ته مې پناه ځای یې

٥ زه خپل روح سپارمه تاته

ما به وژغورې څښتنه

وفادار یې ته ای خدایه

٦ له هغو خلکو څخه کرکه کوم

چې عبادت کړي د بتانو بې‌ارزښتو

خو زه په تا باندې توکل کومه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ زه به خوشحاله یم خوښي به کوم

ستا په تلپاتې مینه

ځکه چې تا زما درد ولیدلو

او د تکلیف نه مې خبر شولې

۸ زه دې ورنه کړم په لاس د دښمنانو

خوندي ځای ته دې زه بوتلم

۹ رحم وکړه په ما باندې ای څښتنه

ځکه یمه په تکلیف کې

زما سترګې سترې شوې له ژړا نه

زه بیخي یمه ستومانه

۱۰ ژوند مې شو په غم تالا

د خفګان د لاسه عمر مې لنډ شوی

زه مې خپلو ګناهونو کړم کمزوری

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ان هډوکي مې له کاره دي وتلي

١١ راته په سپکه سترګه ګوري دښمنان ټول زما

په تېره بیا ګاونډیان

هغوی چې پېژني ما زړه يې چوي زما څخه

کله چې دوی مې په کوڅه کې ویني

دوی کاندي تېښته زما څخه

١٢ زه هرچا یمه هېر کړی لکه مړی چې څوک هېر کړي

زه په شان یم د کودي چې وي چا لېرې غورځولی

١٣ کړي ګونګوسي راپسې ډېر دښمنان اورم يې زه

له هرې خوا راباندې وېره ډېره

دوی پلانونه زما په ضد جوړوي

هم جوړوي مې د مرګې دسیسې

١٤ خو توکل زما په تا دی ای څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه دا وایم: «ته مې خدای یې»

۱۵ زما ژوند دی ستا په لاس کې

د دښمنانو د لاسونو نه مې خلاص کړه

او له هغو نه مې خلاص کړه

چې په ما پسې دي

۱۶ په ورین تندي وګوره خپل خدمتګار ته

وژغوره ما ته په خپلې تلپاتې مینې

۱۷ ته مې مه پرېږده څښتنه چې خجل شم

ځکه تاته زه فریاد کړم

بدکاران دې خجالت شي

پټه خوله دې دوی شي ښکته خپلو قبرو ته

۱۸ د هغوی دروغجنې ژبې دې شي غلې

چې مغرور او کبرجن دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې نېکانو پسې کړې سپکې خبرې

١٩ څه عجيبه دا ښه شيان دي

چې تا ساتلي دي هغوی ته چې کړي وېره له تا

هر يو پوهيږي چې ته څومره نېک يې

څنګه ته ساتې هغوی چې غواړي پناه ستا نه

٢٠ ته هغوی د نورو خلکو دسيسو نه

خپل حضور کې خوندي ساتې

دوی د خپلو دښمنانو له تورونو

په ډاډمنه پناه ځای کې پټ ساتې

٢١ ثنا او صفت دې وي څښتن ته!

کله چې زه په کلا بند ښار کې ګېر شوی ومه

څه عجيبه مينه يې وکړه له ما سره

٢٢ زه وېرېدلی وم او خيال مې کاوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستا حضور ځینې زه لېرې شړل شوی یمه

خو کله ما چې زاری وکړې د کومک دپاره

نو تا زما دعا قبوله کړله

۲۳ ای خپل څښتن ته وفادارو خلکو

ده سره مینه وکړئ

څښتن ساتنه کوي د وفادارو خلکو

خو کبرجنو ته د خپل عمل پوره سزا ورکوي

۲۴ اوسئ ځواکمن او زړور ای خلکو

ټول هغه چې هیله له څښتن لرئ

## په ګناه اقرار کول او بخښنه

(د داود زبور)

۳۲ ۱ بختور دی هغه څوک چې سرکښي یې بخښل شوې

هغه څوک چې په ګناهونو یې اچول شوې پرده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ بختور دی هغه څوک چې څښتن يې نه ګڼي مجرم

او هغه څوک چې د ټګۍ نه پاک وي

٣ کله چې نه مې کاوه اقرار په ګناهونو خپلو

نو ټوله ورځ به له زګېروو نه زه ستومانه ومه

٤ راکوله به سزا راته شپه او ورځ تا ای څښتنه

ما قوت خپل بيخي ورکړ له لاسه

لکه څنګه چې د اوړي ګرمي وچ کړي لنده بل

٥ نو ما تاته اقرار وکړلو د خپلو ګناهونو

پټ مې نه کړل ما له تا نه خپل جرمونه

دا مې وويل د خپل ځان سره په زړه کې:

«زه به په خپلو سرکښيو باندې وکړمه اقرار څښتن ته»

او تا زما ټول ګناهونه معاف کړل

٦ نو چې موقع نه وي د لاس ځينې وتلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باید ټول وفادار خلک دعا وغواړي له تا نه

چې کله زیات شي تکلیفونه د سېلاب په شان

تکلیف به دوی ته ور ونه رسیږي

۷ ته پناه يې زما ما به ساتې د تکلیفونو نه

زما د بچ کېدو نغمې چاپېره به ویلی شي

۸ څښتن وايي: «هغه لار به درته ښایم

چې باید ته پرې لاړ شې

تاته به وکړم لارښوونه زه

او په تا به ساتم نظر

۹ بې‌عقل کېږئ مه لکه د اس او د قچر په شان

چې کنترول يې په قیضه او واګې کیږي

او که نه نو رابه نه شي ستاسو خواته»

۱۰ ډېر وي غمونه بدکارانو لره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو چې څوک کړي په ښتن باندې توکل

ساتل کیږي به هغه د ده په تلپاتې مینه

١١ ای نېکانو، هغه څه چې ښتن کړي

په هغو خوشحاله اوسئ او ښادي کړئ

صادقانو، د خوښۍ ووهئ چيغې!

## د ستاینې سندره

# ٣٣

١ ای نېکانو هغه کارونه چې ښتن کړي

هغې دپاره ووهئ د خوشحالۍ چيغې

مناسبه ده ستاینه د هغه د صادقانو دپاره

٢ وکړئ شکرونه د ښتن په وهلو د رباب

هم ورته وغږوئ ساز په چنګ سره

٣ هغه ته ووایئ سندره نوې

په ښو سازونو سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او لوړ اوازونو سره

۴ د څښتن کلام رښتينی دی او سم دی

ټول کارونه د هغه د باور وړ دي

۵ خوښوي څښتن نېکي او عدالت

ده ځمکه ډکه د څښتن له تلپاتي مينې

۶ اسمانونه د څښتن په حکم جوړ شول

په خبره يې د خولې لمر او سپوږمۍ او ستوري جوړ شول

۷ دريابونه يې په يو ځای کې راټول کړل

کړل بحرونه هغه بند په لويو لويو ذخيرو کې

۸ پرېږدئ ټوله ځمکه د څښتن څخه په وېره شي

پرېږدئ ټول خلک د نړۍ يې درناوی وکړي

۹ کله چې ده ورکړو فرمان نو دا دنيا شوه پيدا

د ده په امر ټول شيان پيدا شول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ د قومونو پلانونه څښتن ورشنډوي

نه پرېږدي هغوی چې کړي حاصل خپل مقصدونه

۱۱ خو تل ترتله کړي دوام د ده پلانونه

ټولو نسلونو پورې وي به دوامدار يې مقصدونه

۱۲ چې خدای يې وي څښتن نو هغه قوم بختور دی

چې خپل ځان ته يې غوره کړي هغه خلک بختور دي

۱۳ لاندې ګوري له اسمان ځيني څښتن

ويني مونږ ټول انسانان

۱۴ په اسمان کې له خپل تخت نه

هغه څاري ټول اوسېدونکي د جهان

۱۵ دی جوړوونکی د هغوی د ټولو زړونو هغه

او هم خبر يې دی د ټولو عملونو هغه

۱۶ په خپل قوي لښکر پاچا کامیابېدلی نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپل زيات ځواک سره عسکر روغ راوتلی نه شي

١٧ څوک چې يقين لري په جنګي اس نو بری موندلی نه شي

که زورور وي جنګي اس بيا‌هم څوک بچ کولای نه شي

١٨ څښتن ساتي خپل نظر په هغو خلکو

چې کړي ويره له هغه نه

او څوک چې باور لري د هغه په تلپاتې مينه

١٩ هغه دوی ساتي له مرګي نه

په وختونو د قحطۍ کې يې هم ساتي ژوندي

٢٠ مونږ يو په اميد کې کړو څښتن ته انتظار

دی مرستندوی زمونږ او زمونږ سپر دی

٢١ زمونږ زړونه دي خوشحال د ده په وجه

ځکه مونږ کړو توکل د ده په پاک نامه

٢٢ څنګه چې تاته دی زمونږ اميد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې دې ستا تلپاتې مينه وي زمونږه سره

## د خدای د نېکۍ له امله ستاينه

(د داود زبور کله چې هغه ابي‌ملک ته ځان لېونی وښود. بيا ابي‌ملک هغه وشاړه او داود لاړ)

# ۳۴

١ تل به کومه د څښتن ثنا او صفت

وي به همېش زما په شونډو د هغه ستاينه

٢ زه به يې وستايم په هغه چې يې کړي دي څه

پرېږده ټول بې‌وزلي واوري او خوشحال شي

٣ د څښتن لويي زما سره اعلان کړئ

راشئ يوځای يې د نوم ستاينه وکړو

٤ ما دعا وکړه څښتن ته او هغه کړله قبوله

زه يې کړم خلاص د ټولو وېرو ځينې

٥ خوک چې توکل کړي په هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د خوشحالی نه به يې ځليږي مخ

هغوی به هېڅکله ونه شرميږي

۶ دې بېوزله سړي وکړلو فرياد ښتن ځواب کړ

هغه خلاص کړلو د خپلو ټولو تکليفونو څخه

۷ هغه خلک چې د ښتن څخه کړي وېره

فرښته وي د ښتن د داسې خلکو نه چاپېره

او خلاصون ورکوي دوی ته له خطره

۸ ګورئ ځان پوه کړئ چې ښتن دی څومره غوره

بختور دي هغه څوک چې د هغه نه پناه غواړي

۹ وېره وکړئ له ښتنه د ښتن سپېڅلو خلکو

محتاج به نه وي هغه خلک چې کړي د ده نه وېره

۱۰ د لوږې او احتياج نه زمريان هم ځوريږي

خو هغه چې رجوع وکړي ښتن ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوی دپاره نه به وي کمی د نعمتونو

١١ راشئ، بچیانو ماته غوږ ونیسئ

چې د څښتن عزت کول درزده کړم

١٢ ایا د ژوند خوند اخیستل غواړئ؟

ایا خوشحاله اوږد ژوندون غواړئ؟

١٣ وساتئ خپله ژبه بدو خبرو نه

وساتئ خپلې شونډې د دروغو نه

١۴ له بدو لېرې ګرځئ کوئ نېکي

سولې دپاره هلې‌ځلې کوئ او ورپسې وګرځئ

١۵ دی د څښتن نظر نېکانو باندې

او نیسي غوږ يې فریادونو لره

١۶ خو دی څښتن د بدکارانو خلاف

او ورکوي د ځمکې د مخ نه د هغوی نوم او نښان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ نېکان فریاد کوي څښتن ته او هغه يې اوري

دوی خلاصوي له خپلو ټولو تکليفونو څخه

١٨ څښتن نژدې دی هغو خلکو ته چې زړونه يې مات وي

ورکوي نجات هغو ته چې بايللی يې اميد وي

١٩ ډېر تکليفونه په نېک شخص راځي

خو هغو ټولو نه څښتن دا ژغوري

٢٠ هغه ساتي ټول هډوکي د ده

هېڅ يو ماتيږي نه له هغو څخه

٢١ خپلې بدۍ له لاسه مړه به شي بدکاره خلک

سزا به ورکړل شي هغو ته چې کړي کرکه د نېکانو څخه

٢٢ څښتن نجات ورکوي خپلو بندګانو لره

څوک چې هغه ته پناه يوسي نو مجرم به نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سختيو په وخت کې د مرستې دپاره دعا

(د داود زبور)

# ۳۵

۱ مخالفت وکړه ته زما د دښمنانو سره ای څښتنه

هغوی چې ما سره کړي جنګ ورسره وجنګېږه

۲ ته دې خپل سپر او خپله زغره واخله

او راشه ته زما د مرستې لره

۳ خپله نېزه او جنګي تبر دې راپورته کړه ته

د هغه چا په وړاندې چې په ما پسې دي

دغه ډاډ راکړه چې به ماته راکوې خلاصون

۴ هغه کسان چې غواړي ما ووژني

هغوی دې ماتې سره مخ شي او رسوا دې شي

زما په ضد چې دسيسې جوړوي

شي دې ناکام او خجالته دې شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ دوی دې د بوسو په شان شي چې باد يې الوزوي

او فرښته د ښښتن دې هغو وځغلوي

۶ په هغه وخت چې فرښته د ښښتن وي په هغوی پسې

د هغوی لاره دې تیاره شي ښویېدونکې دې شي

۷ بېسببه هغوی ایښی راته دام دی

بېسببه راته کنده يې ایستلې چې مې ښکېل کړي

۸ بربادي دې ناڅاپي وربانديې راشي

دوی دې په خپل دام کې په خپله ګېر شي

ودې غورځېږي او برباد دې شي

په هغه کنده کې چې دوی کیندلې

۹ نو بیا زه به شم خوشحاله له سببه د ښښتن

زه به کړمه خوشحالي ځکه خلاصون يې دی راکړی

۱۰ د زړه له کومي به ښښتن ته وایم:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«نشته هېڅوک د ستا په شان څښتنه

له زورورو ښخه ژغورې ته کمزوري خلک

ته خواران خلک ژغورې له ظالمانو»

١١ بدکاران زما په ضد شاهدي وايي

د هغو جرمونو تور راباندې وايي

چې خبر ورڅخه نه يم

١٢ د نېکۍ بدل کې ما سره بدي کړي

زه يم ډوب نااميدۍ کې

١٣ خو چې کله به هغوی شول رنځوران

نو په تن کولې د غم جامې به ما

په روژه نيولو ځان مې ځورولو

ما خپل سر به ټيټاوه کړله دعا مې

١٤ لکه چې دوست او يا خپل ورور سره مې وير کاوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سر به مې ټيټ کړلو له غمه ځينې

لکه چې څوک کوي ژړا په خپلې مور باندې

١٥ کله چې زه وم په تکليف کې، دوی خوشحاله وو ټول

سره راټول شول او ملنډې يې وهلې په ما

پرديو خلکو به وهلمه زه

او دوامداره سپکاوی به يې کولو زما

١٦ د هغو خلکو په شان څوک چې وهي

ريشخند ملنډې په ګوډانو باندې

دوی چيچل ماته د نفرت غاښونه

١٧ ترڅو به ګورې ورته ای څښتنه؟

د دې خلکو د بريدونو نه مې خلاص کړه

د دې زمريانو نه مې قيمتي ژوند وژغوره

١٨ بيا به د ستا د قوم په غونډه کې ستا شکر کړمه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغو ټولو مخکې زه به ستا ثنا وايمه

۱۹ زما بې‌سببه دښمنان مه پرېږده

چې شي خوشحاله زما په ماتې باندې

مه يې پرېږده چې بې‌سببه کړي زما نه کرکه

چې کړي خندا د خوشحالۍ زما په غم باندې

۲۰ د خير خبرې نه کوي د شر خبرې کاندي

د هغوی پسې کوي غلطې خبرې

څوک چې په سوله کې ژوندون تېروي

۲۱ دوی په ما لګوي تور او وهي چيغې:

«واه! واه! تا چې څه وکړل مونږ وليدل»

۲۲ خو ای څښتنه وليدل تا هرڅه

نو چوپ کېږه مه څښتنه

ته له ما مه لېرې کېږه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ ای څښتنه، شه راپورته او دفاع راڅخه وکړه

شه راپورته، زما خدايه، ته زما د دعوې وکړه وکالت

۲۴ ته عادل يې ای څښتنه، نو زما بې‌ګناهي کړه ته اعلان

ته زما دښمنان مه پرېږده چې ما باندې خوشحال شي

۲۵ هغوی مه پرېږده چې ووايي خپل منځ کې:

«مونږ هغه له منځه يووړ

هغه څه چې مونږ غوښتل هغسې وشول!»

۲۶ څوک چې زما په بدبختۍ کې خوشحالي کړي

هغوی دې سمه ماتې وخوري وارخطا دې شي

څوک چې خپل ځان له ما بهتر ګڼي

شي په جامو د شرم پټ دې او رسوا دې شي

۲۷ هغوی چې غواړي ما برحق ووينې

د خوشحالۍ چيغې دې ووهي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تل دې وايي: «څومره لوی دی څښتن!

په سوکالۍ د خپل خادم باندې خوشحاله دی»

٢٨ ستا عدالت به بیا په ژبه زه بیان کړمه

او ټوله ورځ به زه د ستا ثنا صفت کړمه

## د انسان بدکاري او د خدای نېکي

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د څښتن د خدمتګار داود زبور)

# ٣٦

١ د زړه په تل کې د بدکاره خلکو

کوي ګناه خبرې

هغوی هېڅ وېرېږي نه له خدایه

٢ دا چې دوی ځان ته ډېر اوچت فکر کړي

فکر کوي چې خدای به نه کړي پیدا

د دوی ګناه او نه به یې وغندي

٣ د دوی د خولې خبرې بدې، له دروغو ډکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوی نور نه کړي عقلمن کار او نېکي

۴ کله چې پروت وي بستره کې پلانونه د بدی جوړوي

هغه خپل ځان په بده لار بوځي

نه اخلي لاس له بده کاره ځينې

۵ تلپاتې مينه دې رسيږي اسمانونو پورې ای څښتنه

وفاداري دې تر فلکه رسي

۶ ستا عدالت داسې قايم دی د لوړو غرونو په شان

د ستا انصاف لکه ژور درياب دی

ته پام کوې په انسانانو او حيواناتو باندې

۷ دا ستا تلپاتې مينه څومره قيمتي ده خدايه!

ستا د وزرو لاندې پناه اخلي ټول خلک

۸ کړي د پرېمانه خوړو ستا نه خوراکونه هغوی

خپل د خوښۍ د سيند نه دوی ته، ته اوبه ورکوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ یې د ژوندون سرچینه

ستا د نور په سبب وینو مونږ رڼا

۱۰ څوک چې تا پېژني هغو سره کوه مینه تلپاتې مینه

څوک چې نېکان دي د هغوی سره نېکي کوه ته

۱۱ مه پرېږده مغروره خلک چې مې تر پښو لاندې کړي

یا بدکاران خلک چې ما وشړي

۱۲ ګورئ هلته دي پراته هغه بدکاره خلک

غورځول شوي، بیا هېڅکله جګېدلی نه شي

## د بدکارانو او نېکانو سرنوشت

(د داود زبور)

# ۳۷

۱ په خاطر د بدکارانو اندېښنه مه کړه

څوک چې کړي غلط کارونه بخیلي ورسره مه کړه

۲ د وابښو په شان به دا خلک زر وچ شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې به مړاوي شي چې ښنګه بوټي شنه وچيږي

٣ کړه توکل دې په ښښتن کوه نېکي

نو خپل وطن کې دې اوسېږه خوند د امن اخله

۴ لټوه ته خوشحالي دې په ښښتن کې

هغه به ستا د زړه ارزو کړي پوره

۵ خپله لاره دې ته وسپاره ښښتن ته

وکړه توکل په هغه باندې مرسته ستا به وکړي

۶ کړي به سهار په خير روښانه نېکي ستا

وځلوي به دې انصاف غرمې د لمر په خير

٧ وکړه انتظار غلی ښښتن په مخکې صبر شه

اندېښنه مه کړه د هغه چا په هکله چې خوشبخت دی

يا هغه چې دی کامياب په خپلو بدو پلانو کې

٨ مه په قهرېږه غوسه کېږه مه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مه کړه اندېښنه ځکه بدی ته به دې بوځي اندېښنه

٩ له منځه لاړ به شي ټول بدکاران

خو څوک چې کاندي توکل په څښتن

ځمکه به شي د هغوی

١٠ ورک به په لږ وخت کې بدکاران شي

نه به پیدا کیږي که هرڅومره یې لټون کوې

١١ عاجزان خلک به د ځمکې وارثان شي

د سوکالۍ او ارامۍ نه به خوندونه اخلي

١٢ بدکاره خلک د نېکانو مقابل کې دسیسې جوړوي

او دوی ته چیچي د غوسې غاښونه

١٣ خو څښتن کوي خندا په بدکارانو پسې

ځکه څښتن ویني راروانه ده د هغوی د سزا ورځ

١٤ راوباسي خپلې تورې بدکاران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او راکاږي يې لينديې

چې عاجزان او محتاج خلک مړه کړي

چې کاندي قتل هغه خلک چې سم کاروونه کوي

۱۵ تورې د هغوی به غوڅوي د هغوی خپل زړونه

ماتې به لينديې شي د هغوی

۱۶ که وي کمه شتمني د نېک سړي

ډېرو بد کارو د دولت ځينې بهتره ده دا

۱۷ ځکه لاسونه د بد کارو به څښتن ورمات کړي

خو حمايه کړي د نېکانو خلکو

۱۸ ورځ په ورځ څښتن ساتي نېک بندګان

تل مدام به وي د ځمکې وارثان

۱۹ د سختيو په وختونو کې به دوی شرمنده نه شي

هم به ماړه وي د قحطی په وخت کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ خو بدکاران به مړه شي

دښمنان به شي تباه د څښتن

وحشي ګلانو په شان

شي به ورک لکه لوګي په شان

٢١ بدکاران اخلي پورونه او بیا نه یې خلاصوي

خو نېکان ورکړه کوي په سخاوت

٢٢ چې د څښتن له خوا نه چاته برکت ورکړل شي

ځمکه به دوی کړي خپله

خو په چا چې وي لعنت د هغه

هغوی به وشړل شي

٢٣ په هغه لار چې نېکان ځي ورباندې

څښتن د هغو لارښوونه کوي

له هغه چا چې ډېر راضي وي څښتن ساتي هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ که هغوی وغورځیږي پورته به شي

ځکه ښښتن به هغوی ونیسي له لاسه ځینې

۲۵ له ځوانۍ نه بیا تراوسه چې زه زوړ یم

ما هیڅکله نېکان خلک نه دي لیدلي

چې ښښتن وي دوی پرې ایښي

یا یې کړی اولادونو وي ډوډۍ دپاره سوال

۲۶ همېشه هغوی سخیان وي

ورکوي نورو ته قرض

اولادونه د هغوی ګرځي سبب د برکت

۲۷ له بدۍ لېرې ګرځه کړه ته نېکي

نو ته او ستا نسل به اوسئ په دې خاوره کې تل

۲۸ مینه ښښتن کوي انصافه سره

هغه نه پرېږدي خپل وفادار خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تر ابده هغوی ساتي

خو نسلونه د بدکارو به تباه شي

۲۹ نېکان به واک د ځمکې واخلي

په کې اوسي به تل

۳۰ د نېکو خلکو له خولې وځي د حکمت خبرې

وي يې په ژبه د انصاف خبرې

۳۱ هغوی د خپل خدای قانون زړه کې ساتي

ځکه يې پښې هېڅکله نه ښوييږي

۳۲ په نېکانو پسې څار کړي بدکاران

او کوښښ کوي د دوی د قتلولو

۳۳ خو څښتن به دوی پرېږدي چې دښمن ته په لاس ورشي

يا محکوم په محکمه کې وګڼل شي

۳۴ کوه توکل دې په څښتن باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په حکمونو يې عمل کوه

ځمکه به درکړي تا به کړي سرلوړی

د بدکارانو تباهي به ته په خپله ګورې

۳۵ ما يو بدکاره او ظالم وليده

لکه شنې ونې په شان

چې يې شاخونه او پاڼې خپرې کړي هر خوا

۳۶ خو چې وروسته تېرېدم زه هغه نه ؤ هغه ځای کې

ما هغه ولټاوه خو پيدا نه شو

۳۷ نېکو خلکو ته پام وکړه او صادقانو ته وګوره

خوښوي چې کوم خلک سوله

لري دوی به ښه راتلونکې

۳۸ خو ګناهکاران به ټول شي هلاک

اولاده د بدکارانو به تباه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٩ ښبښتن ژغوري نېکان خلک

د سختیو په وختو کې يې ښبښتن وي پناه ځای

٤٠ ښبښتن کاندي له هغو سره کومک

او ورکوي ورته نجات

ورکوي خلاصون هغوی ته له بد کارو

ځکه دوی وروړي هغه لره پناه

## د ځورېدلي رنځور دعا

(د داود زبور په کوم کې چې هغه د خدای ښخه غواړي چې په یاد يې وساتي)

٣٨ ١ کله چې ته په قهرېږې ای ښبښتنه نو ما مه رټه

په خپل غضب سره دې ماته سزا مه راکوه

٢ په خپلو غشو دې زخمي کړمه زه

او په خپل لاس باندې دې ووهلم

٣ زما بدن کې روغ ځای نشته ستا د قهر له لاسه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حتی هډوکي مې خوږیږي د ګناه له لاسه

۴ زه د خپلو ګناهونو په دریاب کې یم ډوب شوی

هغه دي دومره درانه چې وړلی یې نه شم

۵ په سبب زما د خپلې بې‌عقلۍ

پرهارونه مې خوسا شول بوی ترې خېژي

۶ زه کړوپ شوی یمه زه یم ځپل شوی

ټوله ورځ زه ویر کومه

۷ زه له تبې نه خوټېږم

زما بدن کې روغ ځای نشته

۸ زه له کاره یم لوېدلی او بیخي یمه مات شوی

زما زړه دی ناقراره او له درده زګېروي کړمه

۹ ای څښتنه، ته پوهېږې چې زه څه ارمان لرمه

ټول زګېروي ته زما اورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ زړه مې درزيږي او قوت رانه لاړ

زما د سترګو ديد کمزوری شولو

۱۱ نه رانژدې کيږي په سبب د ناروغی راته

ټول زما ملګري او دوستان زما

حتی تر دې چې خپل خپلوان هم رانه لېرې ګرځي

۱۲ هغوی چې غواړي چې ما مړ کړي راته ږدي دامونه

هغوی چې غواړي راته ورسوي زيان

د بربادئ کوي ګواښونه راته

ټوله ورځ دوی دسيسې جوړوي او دروغ وايي

۱۳ خو زه د هغه کوڼ په شان يم چې څه نه اورمه

او د هغه ګونګ په شان يم چې هېڅ نه کوي خبرې

۱۴ زه يم د هغه چا په څېر چې خپله دفاع کې

نه شي دليل ويلی ځکه چې نه اوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ خو تا باندې باور لرم څښتنه

او ای زما څښتنه خدایه، راکوې به ته ځواب

۱۶ سوال مې وکړ: «مه پرېږده دښمن زما

چې وکړي خوشحالي زما په غم باندې

مه پرېږده هغوی چې لاقې ووهي

زما په ناکامی او بدبختی باندې»

۱۷ یمه نژدې چې زه راپرېوځمه

مدام دي مل راسره زما دردونه

۱۸ زه اقرار کوم د خپلو ګناهونو

یمه پرېشانه زه د خپلو ګناهونو له امله

۱۹ دښمنان زما قوي او صحتمند دي

هغوی ډېر دي چې کوي کرکه له ما نه بېسببه

۲۰ هغه خلک چې بدي کړي د نېکی په بدله کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی دي زما په ضد

ځکه زه کړمه کوښښ چې نېک کار وکړم

٢١ ته ما مه پرېږده ښتنه

لېرې کېږه مه له ما نه زما خدایه!

٢٢ زر راشه کومک وکړه زما سره

ای ښتنه ته زما یې خلاصوونکی!

## د یو ځورېدونکي د ګناه اقرار

(د سرود مشر یدوتون دپاره: د داود زبور)

# ٣٩

١ ما د ځانه سره وویل: «څه چې کړمه

په هغه کې به احتیاط کړم

خپله ژبه به پرېنږدم چې ګناه راباندې وکړي

د بدکارانو خلکو مخکې به زه هېڅ نه وایم»

٢ هېڅ خبره مې ونه کړه زه خاموش پاتې شوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه وم خاموش حتی د ښو شیانو ذکر مې هم نه کولو

خو پرېشاني مې نوره هم زیاته شوه

۳ زړګی مې ډک د پرېشانی ځینې شو

څومره ژور فکر چې ما به کاوه

راباندې اور لګېده

ترڅو اخر مې وویل:

۴ «زه به ترڅو یمه ژوندی څښتنه

او زه به کله مرمه؟

راته ووایه چې ژوند به زما څنګه زر شي ختم!»

۵ تا زما د ژوند نه مازدیګر د ژمي جوړ کړ

نه دی هېڅ شی ستا نظر کې زما ژوندون

ژوند د انسان دی په رښتیا لکه پوکي په شان

۶ په رښتیا د انسان ژوند لکه سیوری پناه کیږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په رښتيا چې دی زحمت وباسي هغه بېځايه دی ټول

راټولوي دولت خو نه پوهېږي چاته پاتې کيږي به ترې

٧ نو ای ښتنه، بيا د څه اميد کولای شمه؟

دی توکل زما په تا

٨ خپلو ټولو ګناهونو نه مې خلاص کړه

کم‌عقلان مه پرېږده خندا وکړي په ما پورې

٩ زه وم خاموش او هېڅ مې نه ويله

ځکه چې تا راباندې دارنګه عذاب راوستلی

١٠ نور مې مه ځوروه ډېر دې ځورولی يمه

زه ستا په وهلو باندې ډېر ضعيفه شوی يمه

١١ په سبب زمونږ د خپلو ګناهونو

راکوې سزا ته مونږ ته په رټلو

هغه څه چې خوښوو مونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته بربادوي لکه حشرې په شان

په رښتيا چې مونږ پوکی يو بل څه نه يو

۱۲ ای څښتنه، ته دعا واوره زما

غوږ دې ونيسه فرياد ته ته زما

هغه وخت چې زه ژړا کړم نو کومک لره مې راشه

زه د څو شپېو دپاره ستا مېلمه يم

لکه څنګه چې نيکونه وو زما

۱۳ مخکې له دې نه چې زه مړ شم او نور پاتې نه شم

يوازې پرېږده ما ترڅو چې لږ خوشحاله شمه

## د ستايني سندره او د مرستې دپاره دعا

## (د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۴۰

۱ په صبر ما انتظار وکړ د څښتن کومک ته

بيا هغه راته غوږ کېښود او فرياد يې زما واورېد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ زه یې د مرګ له کندې وویستلم

زه یې له خټو او چکړو نه راوویستلم

هغه زه ودرولم ګټ باندې

او پښې زما یې کړلې ښې محکمې

۳ هغه زما په ژبه نوې نغمه راوستله

زمونږ خدای ته د ثنا سندره

ډېر به یې ووینې او وبه ډار شي

توکل به وکړي په څښتن باندې

۴ هغه څوک دی بختور چې کړي توکل په څښتن

څوک چې نه ګرځي مغرورانو پسې

نه کړي رجوع هغه چاته

چې عبادت کړي د دروغجنو خدایانو

۵ عجیبه ډېر کارونه تا دي مونږ ته کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای زما ښښتنه خدایه

هېڅوک نشته ستا په شان!

زمونږ دپاره دې جوړ کړي عجیبه دي پلانونه

دومره زیات د هغو شمېر دی!

نه شم خبرې زه کولای د هغو په هکله

٦ قرباني او نذراني دې نه غوښتلې

نه دې اړتیا وه سوځېدونکو نذرانو او نذرانو د ګناهونو ته

خو تا راکړي دي غوږونه چې زه واورم ستا امرونه

٧ نو ما وویل: «ګوره، زه حاضر یمه

زما په هکله لیکل شوي د تورات کتاب کې

٨ ښنګه خوښېږي مې پوره چې ستا رضا کړمه ای زما خدایه

دا ستا شریعت زه په خپل زړه کې ساتم»

٩ ښښتنه ستا د قوم غونډه کې ما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا زېرى ورکړ چې نجات راکوې

ته پوهېږې زه به هېڅکله بند نه کړم دا بيان

١٠ ما په خپل زړه کې پټ ونه ساته ستا د نجات زېرى

ما همېش خلکو ته ويلي

چې ته څومره وفادار يې خپل قوم ته

او کوې ورسره مرسته

ستا د تلپاتې مينې او وفا په هکله

پاتې زه نه شومه خاموشه ستا د قوم غونډه کې

١١ دا خپل رحمت دې په ما مه بندوه اى څښتنه

ستا تلپاتې مينه او وفا دې همېشه وي زما ساتونکې

١٢ ځکه ايسار کړى بې‌حسابه تکليفونو يمه

رانيولى يمه خپلو ګناهونو

د تېښتې لاره زه ليدلى نه شم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دي زيات زما د سر له ويښتو

ما خپل همت بايللی

## د مرستې دپاره دعا

(زبور ۱:۷۰-۵)

۱۳ مهرباني وکړه څښتنه ته مې خلاص کړه

ای څښتنه، زر کومک راسره وکړه

۱۴ هغوی چې هڅه کوي ما ووژني

هغوی دې ماتې مکملې سره مخ شي وارخطا دې شي

چې زما په کړاوونو خوشحالي کړي

هغوی دې تېښتې سره مخ شي او رسوا دې شي

۱۵ څوک چې په ما باندې ملنډې وهي

له خپلې ماتې دې دوی وبوګنيږي

۱۶ هغه ټول خلک چې کړي تاته رجوع

شي دې خوشحاله او خوښي دې کړي له تا نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه چې کړې مينه ستا د خلاصون سره

او دوی دې تل وايي:

«څومره عظيم دی ښښتن»

١٧ زه يم غريب او زه محتاج يمه

خو زه پاتې په نظر کې يمه ستا

ته مې مددګار او خلاصوونکی يې

بيړه وکړه او کومک لره مې راشه زما خدايه!

## د ناروغۍ په وخت کې دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۴۱

١ بختور دی هغه څوک چې کوي فکر د غريبو په هکله

د سختۍ وخت کې ورکوي ښښتن خلاصون ده ته

٢ ښښتن به وکاندي ساتنه د ده او وبه يې ساتي ژوندی

برکتي به کړي دا خپل وطن کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا به پرېږدي چې دې خپل دښمن ته لاس ته ورشي

۳ د ناروغۍ وخت کې څښتن به مرسته وکاندي له ده سره

او د ده صحت به بېرته روغ کاندي

۴ ما وویل: «څښتنه، ما باندې رحم وکړه راکړه شفا

ستا مقابل کې مې ګناه کړې ده»

۵ بدې خبرې دښمنان مې کړي زما په هکله

وايي چې «کله به مړ کېږي چې يې نوم ورک شي؟»

۶ څوک چې کتلو ته راځي زما

هغوی نه دي اخلاصمن خلک

راټولوي زما په هکله هغوی بد خبرونه

بيا بهر وځي او هرچا ته دا خبرې کوي

۷ ټول دښمنان مې پس پسې کوي

په خپل منځ کې زما په هکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوی جوړوي پلان چې راته ورسوي زيان

۸ وايي هغوی چې «دی اخته دی په وژونکي مرض

بيا به پورته نه شي له خپل ځای ځينې»

۹ حتی تر دې په نژدې دوست چې ډېر اعتبار مې کاوه

هغه چې زما سره ډوډی خوړله

هغه زما په ضد راپورته شولو

۱۰ ای ښبښتنه، رحم وکړه په ما باندې

او ماته بېرته ښه صحت راکړه

نو زه به واخلمه بدل له دښمنانو

۱۱ زه پوهېږم چې خوشحاله يې له ما نه

ځکه چې نه مومي دښمن بری په ما باندې

۱۲ راسره کړی دې کومک ځکه صادق يمه زه

په خپل حضور کې مې ساتې ته تر ابده پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ثنا او صفت دې وي د اسراييلو څښتن خدای ته

وکړئ ثنا او صفت يې د ازل نه تر ابده پورې

امين! امين!

## دوهم کتاب

(زبور ۴۲-۷۲)

## د اندېښمن سړي دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د قورح د طايفې زبور)

# ۴۲

۱ لکه هوسۍ وي په ارمان کې د ويالو د اوبو

داسې ای خدايه، يمه ستا په ارمان

۲ ای ژوندی خدايه، زه د ستا د ديدار تږی يمه

کله به درشم ستا حضور کې عبادت به وکړم؟

۳ شپه او ورځ ژاړمه زه اوښکې دي خوراک زما

دښمنان تل راته پېغور راکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې «د ستا خدای چېرې دی؟»

۴ زړه مې رامات شي چې رایاد کړم هغه تېر وختونه

چې د خدای کور ته به ورتلم له ګڼو خلکو سره

وو به خوشحال د شکرانې سندرې مونږ به ویلې

د دوی په مخکې به روان ومه زه

داسې یوه ګڼه چې نیوه به یې جشن

۵ ای زما ځانه، دومره خفه ولې یم؟

دومره پرېشان ولې یم؟

باید په خدای باندې توکل ولرم

یوځل بیا به یې ثنا ووایم

ای زما خدایه، خلاصوونکیه زما

۶ زما زړګی ماتیږي

نو ځکه تاته یمه لاس په دعا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په داسې حال کې چې زه دلته راګېر شوی يمه

يعنې چې سيند د اردن اخلي سرچينه له دې ځای

دعا کوم دلته د غره له حرمون

د ميسعر له غره نه

۷ ستا پارېدلې څپې

ما باندې واوختلې

لکه يو قهرېدلی درياب

يا غړمبېدونکی ابشار

۸ څښتن د ورځې راسره ښايي تلپاتې مينه

زه ورته وايمه د شپې سندرې

دعا کومه خدای ته زه چې يې ژوندون راکړی

۹ زه هغه خدای ته چې ساتونکی مې دی داسې وايم:

«زه دې ولې يم هېر کړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل دښمن له ظلمه

ولې زه ویر کې یمه؟»

۱۰ ان هډوکي مې ماتیږي

چې دښمن راته پېغور کړي

تل دوی وایي ماته داسې:

چې «ستا خدای چېرې دی؟»

۱۱ ای زما ځانه، دومره خفه ولې یم؟

دومره پرېشان ولې یم؟

باید په خدای باندې توکل ولرم

یوځلې بیا به یې ثنا ووایم

ای زما خدایه، خلاصوونکیه زما

## د اندېښمن سړي د دعا پاتې برخه

# ۴۳

۱ بې‌ګناهي مې کړه ښکاره، خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېدینه خلکو مقابل کې مې دفاع وکړه ته

له دروغجنو او بدکارو خلکو خلاص مې کړه ته!

٢ ته ساتونکی یې زما

زه دې ولې یم پرې ایښی؟

د خپل دښمن له ظلمه

ولې زه ویر کې یمه؟

٣ راواستوه راته خپل نور او حقیقت

چې راته لار وښایي

چې مې دوی راولي صهیون ته ستا سپېڅلي غره ته

او ستا خپل کور ته چې اوسېږې په کې

٤ زه به بیا ورشم د خدای د قربانۍ ځای ته

د هغه خدای چې یم خوشحاله ترې زه

زه غږومه به رباب او ستا ثنا به وایم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدایه، زما خدایه

۵ ای زما ځانه، دومره خفه ولې یم؟

دومره پرېشان ولې یم؟

باید په خدای باندې توکل ولرم

یوځلې بیا به یې ثنا ووایم

ای زما خدایه، خلاصوونکیه زما

## د خلاصون دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د قورح د طایفې زبور)

# ۴۴

۱ زمونږ نیکونو ته تا کړي لوی کارونه دي

دا په ډېره پخوانی زمانه کې د هغو، خدایه

چې په دې هکله اورېدلي دي مونږ

په دې هکله یې ویلي مونږ ته

۲ وشړل تا نور قومونه په خپل لاس باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی خاوره کې دې خپل قوم مېشته کړ

نورو قومونو ته دې څرنګه سزا ورکړله

تا په خپل قوم نېکمرغي راوستله

٣ دا خاوره فتح نه کړه ستا قوم په خپلو تورو

هغه يې په خپل قوت ونه ګټله

د ستا په زور او په قوت يې هغه وګټله

ځکه په دې باندې ډاډه وو هغوی

چې ته وې مل ورسره

او هم ته وې ډېر د هغوی نه راضي

٤ ای خدايه! ته زما پاچا يې

ته ورکوې برى د يعقوب قوم ته

٥ ورکوو ماتې دښمنانو ته مونږ ستا په مرسته

خپل دښمنان پايمالوو مونږه د ستا په قدرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خپلې لیندې باندې تکیه نه کوم

نه مې په توره چې به خلاص کاندي ما

۷ خو تا له خپلو دښمنانو مونږه خلاص کړلو

چا چې له مونږه کړله کرکه دوی دې وشرمول

۸ مونږه به تل مدام ویل چې کوو فخر په تا

تر ابده به کوو مونږ ستا شکرونه

۹ خو اوس دې پرېښودو رسوا دې کړلو

زمونږ لښکرو سره نور ته نه ځې

۱۰ تا مجبور کړلو چې تېښته له دښمنه وکړو

څه چې زمونږه سره وو

لوټ کړل هغو چې زمونږه څخه کرکه کوي

۱۱ تا پرېښودلو چې حلال شو د پسونو په شان

پردو قومونو کې دې مونږ خواره واره کړلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ په کمه بیه دې خپل قوم خرڅ کړ

او دې خرڅلاو درته فایده ونه کړه

۱۳ ګاونډي ملکونه ګوري تا زمونږ سره څه وکړل

دوی په مونږ وهي ملنډې او خندا راپورې کاندي

۱۴ په قومونو کې دې مونږه مسخره کړو

له تحقیره خوځوي راته سرونه

۱۵ مدام رسوا یمه زه

په شرمو پټ یمه زه

۱۶ اورو مونږ د دښمنانو پېغورونه

دښمنان او غچ اخیستونکي وینو

۱۷ دا هرڅه وشول په مونږ

خو ته مو هېر نه کړلې

تا چې زمونږ سره کوم لوظ کړی ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږه مات کړی نه دی

١٨ بې‌وفا نه يو تاته

د ستا له لارې ګرځېدلي نه يو

١٩ خو تا مونږ پرېښودو بې‌وسه

د وحشي ځناورانو منځ کې

تورو تيارو کې دې مونږ پرېښودلو

٢٠ که مونږ خپل خدای ته وای بس کړی عبادت کول

او پردي خدای ته مو دعا کړې وای

٢١ ته په رښتيا به پوهېدلی وای پرې

ځکه خبر يې په رازونو د زړه

٢٢ مونږه له مرګه سره مخ يو هر وخت ستا په خاطر

مونږه ګڼي هغو پسونو په شان وي چې حلالې دپاره

٢٣ شه رابېداره ای څښتنه! ته ويده ولې يې؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته رابېدار شه! تر ابده مونږه مه ردوه

۲۴ ولې پټوې مخ دې زمونږ ځينې؟

ولې هېروې تکليفونه او مصيبتونه زمونږ؟

۲۵ مونږ ټوک ټوک شوي رالوېدلي يو په ځمکه باندې

مونږ مغلوب شوي يو پراته خاورو کې

۲۶ پورته شه، زمونږ کومک ته راشه ته!

مونږ ته نجات راکړه په وجه د تلپاتې مينې

## د شاهي واده سندره

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: «د سوسن د ګل» په تال يوه د مينې سندره او د قورح د طايفې زبور)

**۴۵** ۱ خنګه چې زه دغه سندره جوړومه د پاچا دپاره

راځي مې ذهن ته ښايسته او پارېدونکي الفاظ

د ښه ليکونکي د قلم په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژبه زما شوله تیاره شعر ته

۲ ته د ټولو انسانانو نه ښایسته یې

ستا د خولې خبرې دي د مرغلرو په څېر

ځکه خدای تاته تل برکت درکړی

۳ ای جنګیالیه، توره وتړه د ملا څخه دې

ته دې خپل شان او دبدبه وښایه

۴ خپلې لویې سره دې سپور شه چې برې ومومې

د حقیقت او عاجزۍ او عدالت نه د دفاع دپاره!

پر پړېده څواکمن لاس دې چې وښایي ستا لوی کارونه!

۵ غشي د ستا دي تېره

ننوځي ستا د دښمنانو په زړه

نابود قومونه ستا ترپښو لاندې دي

۶ تاته چې خدای کوم پاچاهي درکړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوام به وکړي تر ابده پورې

او کړې به حکومت په خپلو خلکو باندې

د انصاف له مخې

٧ ته خوښوې عدالت او کرکه کوې له بدی

په دې خاطر خدای، یعنې ستا خدای

ته یې ستا د نورو ملګرو نه زیات

مسح کړی یې د خوشحالی په تېلو

٨ ستا د کالیو نه خوشبوي راځي

د مر کنډ، عود او دالچینی د عطرو

رباب وهونکي خوشحال ساتي تا په داسې قصرو

چې سینګار شوي دي د فیل په غاښو

٩ ستا معززو ښځو کې دي د پاچاهانو لوڼې

دا ستا د تخت په ښي لاس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده د اوفیر په سرو زرو خالصو

سینګار شوې ملکه ولاړه

١٠ ای شاهزادګۍ ونیسه غوږ زما بیان ته په غور

ته دې خپل خلک او د پلار کور هېر کړه

١١ نو په ښایست به پاچا ستا شوقمن شي

هغه څښتن دی د ستا، نو اطاعت يې کوه

١٢ تاته راوړي به سوغاتونه دا د صور خلک

ستا نه به غواړي پېرزوینه دولتمن خلک

١٣ په ماڼۍ کې شاهزادګۍ څومره ښایسته ده!

چې کالي يې دي جوړ شوي د سرو زرو له تارونو

١٤ پاچا ته بیايي هغه په رنګارنګ لباس کې

پېغلې نجونې سهېلۍ يې ورپسې دي

هغوی به هم هغه ته راولي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ هغوی به راشي په خوښۍ او خوشحالۍ سره

شي به داخلې د پاچا ماڼۍ ته

۱۶ ای زما پاچا ته به زامن ولرې

چې پاچاهان شي ستا نیکونو په ځېر

ټولې نړۍ باندې هغوی به حاکمان کړې ته

۱۷ زه مشهور به کړم ستا نوم ټولو نسلونو کې

قومونه وايي ستا ثنا به تر ابده پورې

## خدای زمونږ سره مل دی

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: په نري اواز د قورح د طایفې سندره)

## ۴۶

۱ خدای سرپناه دی زمونږ، قوت دی زمونږ

د سختۍ وخت کې زمونږ مرستې ته حاضر دی همېش

۲ مونږ به ونه وېرېږو، که ځمکه ولړزېږي

غرونه راپرېوځي د بحرونو تل ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ که دریابونه وغړمبیږي، توفاني هم شي

او له دې زوره غرونه ولړزیږي

۴ داسې یو سیند دی چې د خدای ښار ته خوښي راولي

سپېڅلی کور چېرته چې دی خدای تعالی په کې

۵ خدای په دې ښار کې اوسي، هېڅکله دا وران به نه شي

هغه به یې کړي ساتنه د سباوون په وخت کې

۶ قومونه سخت دي په غوغا او پاچاهۍ لړزیږي

خدای کړي اواز لکه د تندر ویلي کیږي دنیا

۷ مطلق قادر ښښتن دی مل راسره

د یعقوب خدای دی پناه ځای زمونږه

۸ راشئ کارونه د ښښتن وګورئ

وګورئ څنګه هیبتناک کارونه وکړل په دنیا کې هغه

۹ ټوله دنیا کې بندوي جنګونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لينديِ له منځه وړي او نېزې ماتوي

سپځي سپرونه په سور اور بانديِ

۱۰ خښتن وويل: «جنګ بس کړئ

په دې پوه شئ چې زه خدای يم

ټولو قومونو څخه لوړ يمه زه

ټولې دنيا باندې زه لوړ يمه»

۱۱ مطلق قادر خښتن دی مل راسره

د يعقوب خدای دی پناه ځای زمونږه

## خدای د جهان پاچا دی

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د قورح د طايفې زبور)

# ۴۷

۱ ای ټولو خلکو پړکوئ لاسونه!

د خدای ثنا په خوشحالی او لوړو چيغو وکړئ!

۲ چې هيبتناکه دی خښتن تعالی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ډېر لوی پاچا دی

کوي حکومت ټولې دنیا باندې

۳ نورو قومونو باندې مونږ ته یې بری راکړی

او یې هغه قومونه لاندې کړل زمونږ ترپښو

۴ ده غوره کړې ځمکه مونږ دپاره ویاړو پر دې

مونږ د یعقوب اولاده خدای ورسره مینه چې کړې

۵ وخاته خدای خپل تخت ته

وې هلته چیغې د خوښۍ

هلته غږونه د سرنو وو

چې ښښتن پورته لاړ

۶ وایاست سندرې او ثنا خدای ته!

وایاست سندرې او ثنا خپل شاه ته!

۷ ځکه چې خدای د ټول جهان پاچا دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثنا يې ووایاست سندرې باندې!

٨ خدای کړي پاچاهي ټولو قومونو باندې

خدای دی په خپل سپېڅلي تخت باندې ناست

٩ د قومونو رهبران دي راټول شوي په يو ځای

د ابراهیم د خدای د قومه سره

د دنيا ټول شاهان د خدای واک کې دي

هغه ډېر لوړ خدای دی

## صهيون يعنې د خدای ښار

(يوه سندره کومه چې د قورح د طايفې زبور هم دی)

# ۴۸

١ خښتن خدای دی لوی

هغه لایق دی د ثنا ټولې په هغه ښار کې

چېرې اوسیږي چې په خپل سپېڅلي غر باندې

٢ لوړ او ښايسته دی صهيون

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه لوی پاچا ښار کوم چې خوشحالي راوړي نړۍ ټولې ته

دی د هغه لوړ غر په شېر کوم چې شمال کې پروت دی

۳ خلکو ته وښودله خدای چې خونديتوب دی د هغه سره

دا خونديتوب په پناه ځای د ښار کې

۴ سره راټول شول پاچاهان

چې د صهيون په غره حمله وکاندي

۵ خو چې يې وليده هغه، نو دوی حيرانه شول

او له وېرې وتښتېدل

۶ داسې درد او داسې وېره په دوی راغله

لکه چې ښځو باندې راشي د زېږون په وخت کې

۷ داسې نابود دې کړل هغوی

لکه شرقي باد چې کشتۍ د ترشيش ماتې کړلې

۸ هغو کارو په هکله مونږ وو اورېدلي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم چې کړي دي خدای

هغه مو اوس ولیدل

دا د مطلق قادر ښتن ښار کې د خپل خدای ښار کې

هغه به خوندي وساتي تل ترتله دغه ښار

۹ خدایه، د ستا د کور په منځ کې

مونږ کوو فکر ستا د مینې په هکله د تلپاتې مینې

۱۰ نوم دې خپور شوی دی په ټول جهان کې

ځکه خلک هرځای کې ثنا وايي ستا

ته په انصاف سره حکومت کوې

۱۱ د صهیون خلک دې خوشحالي کوي!

وي دې خوښي د یهودا کلیو کې

ځکه ته سم قضاوتونه کوې

۱۲ ای د خدای قومه، د صهیون په شاوخوا وګرځئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو حساب کړئ د هغه برجونه

۱۳ په دېوالونو يې په غور سره نظر واچوئ

او امتحان يې کړئ جنګي کلاوې

راتلونکي نسل ته بيا تاسو دا ويلی شئ

۱۴ چې دغه خدای دی تل ترتله زمونږ خدای

رهنمايي به زمونږ ټول عمر وکړي

## په شتمنۍ باندې د تکيه کولو کمعقلتوب

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د قورح د طايفې زبور)

# ۴۹

۱ واورئ دا ټولو خلکو

د نړۍ ټولو اوسېدونکو غوږ شئ!

۲ ای غټانو او کوچنيانو

ای شتمنو هم خوارانو

۳ زه به کومه د حکمت خبرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو ته پوهه ورکوي د زړه بيان زما

۴ زه به خپل فکر اړومه متلونو لره

حلوم به معماګانې د رباب په اواز

۵ ولې به ويرېږم د خطر په وخت

کله چې زه شمه راګېر د شريرانو له خوا

۶ د داسې خلکو له خوا څوک چې کړي توکل په دولت

او وهي لافې د ډېر زيات ثروت

۷ هېڅوک نه شي کولای کړي ادا د چا د سر بيه

هېڅوک خدای ته کفاره د چا د ژوند نه شي سپارلی

۸ ځکه ډېره قيمتي ده د انسان د ژوندون بيه

څه چې څوک ادا کوي هغه هېڅکله کافي نه دي

۹ چې څوک وساتي له مرګه

چې ژوندی وي تل ترتله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ هرڅوک ویني چې هوښیار خلک هم مړه کیږي

همدارنګه ساده ګان او بې عقلان هم

بیا نورو ته پرېږدي هغوی خپل دولت

۱۱ تل ترتله د هغوی قبرونه دي د دوی کورونه

هلته اوسیږي به دوی ټولو نسلونو پورې

که څه هم دوی یو وخت په خپل نامه لرلې ځمکې

۱۲ د انسان شان او شوکت نه شي خلاصولی دی له مرګه

څاروي چې مري هغه به هم مړ کیږي

۱۳ دا دی د هغو سرنوشت چې توکل کړي په خپل ځان

او د هغو د پیروانو چې باور کړي په بیان د دوی

۱۴ هغوی به مړه شي لکه چې مري پسونه

مرګی به وي د دوی شپون

نېکان به کړي په دوی حکومت سبا ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو کورونو څخه لېږي په قبرونو کې به

خوسا شي زر د هغو خلکو مړي

۱۵ خو خدای به ما لره خلاصون راکوي

هغه به کش کړي ما د مرګ له پنجو

۱۶ ته مه ډارېږه که یو څوک شي شتمن

د کور د هغه چې جلال زيات شي

۱۷ کله چې مړ شي هغه نه شي وړی له ځانه سره

ده سره لاړ به نه شي قبر ته جلال د هغه

۱۸ که څه هم هغه په ژوند کې بختور ګڼي خپل ځان

صفت يې کيږي ځکه هر کار کې کامياب وي هغه

۱۹ دی به په مرګ کې شي يوځای خپلو نيکونو سره

هغوی به هېڅکله رڼا نه ويني

۲۰ انسان لري شان او شوکت خو هغه نه پوهيږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې شي به مړ لکه خاروي په شان

## حقيقي عبادت

(د اساف زبور)

**۵۰** ۱ کوي خبرې ښبتن خدای چې دی مطلق قادر

ټولې دنيا نه خلک راغواړي له ختيځه تر لوېديځه پورې

۲ د صهيون ښار چې په حسن کې کامل دی

ځليږي خدای ورڅخه

۳ زمونږه خدای راځي خو خاموشه نه راځي

د هغه مخکې سوځېدونکې اور وي

او ګيرچاپېره ترې وي سخت توفان

۴ ځمکه او اسمان راغواړي د شاهدانو په حيث

چې په خپل قوم باندې د هغه عدالت ووينې

۵ وايي: «راټول زما وفادار خلک کړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قربانۍ په ورکولو يې چې ما سره لوظ کړی دی»

۶ اسمانونه ورکوي دا خبرتيا چې خدای عادل دی

ځکه چې خپله قاضي دی

۷ ای زما قومه، زما خبرې واورئ

ای اسراييلو، ستاسو ضد زه شاهدي به وايم

زه يمه خدای، د ستاسو خدای يمه زه

۸ د قربانيو په خاطر زه تاسو نه رټمه

او نه د هغو سوځېدونکو نذرانو په خاطر

چې تل يې ماته راوړئ

۹ ستاسو د کور غويو ته نه يم محتاج

يا زه شپولو ته د نرانو وزو نه يم احتياج

۱۰ ټول حيوانات چې په ځنګل کې دي هغه زما دي

هم په زرګونو غونډيو ټول ځاروي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ پېژنم زه د غرونو ټول مرغان

د ېټیو ټول خزندګان زما دي

١٢ که چېرې وږی یم زه تاسو ته یې نه وایمه

ځکه دنیا او چې په کې دي هغه ټول زما دي

١٣ ایا زه خورمه د غویانو غوښې؟

یا د وزو وینې څښم؟

١٤ شکر ادا کړئ د خدای دا ده قرباني د ستاسې

هغه څه ورکړئ خدای تعالی ته

چې منلې مو په نذر کې دي

١٥ د تکلیف په وخت کې ماته فریاد وکړئ

زه به خلاصون درکړمه تاسو لره

ثنا او صفت به کوئ تاسو زما

١٦ خو بدکاره ته خدای داسې وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«دی ستا څه کار چې زما حکمونه وایې؟

زما د لوظ په هکله ته کوې خبرې ولې؟

١٧ اصلاح کېدو څخه انکار کوې ته

زما خبرې غورځوې شاته

١٨ هر غل چې وګورې ملګری یې شې

او یوځای کېږې زناکارو سره

١٩ خلاصوې خوله دې شرارت باندې

بې له دروغو بل څه نه وایې ته

٢٠ دې ته تیار یې چې په خپل ورور دې تهمت پورې کړې

او هم د خپلې مور د زوی پسې غیبت وکړې

٢١ دا ټول کارونه تا کول او ما هېڅ ونه ویل

نو ستا دا خیال ؤ چې زه ستا په شان یم

خو اوس به زه تا رټم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کړم به تا تورن

۲۲ تاسو چې زه یمه هېر کړی دې ته غوږ ونیسئ

که نه نو تاسو به زه وداړمه

هېڅوک به نه وي چې مو خلاص کاندي

۲۳ څوک چې د منني قرباني کړي هغه ماته درناوی کوي

هغه چې کړي خپله لاره سمه ورکوم نجات»

## د بخښنې دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د داود زبور، د هغه وخت په هکله چې ناتان نبي داود
ته له هغې څخه وروسته راغی چې داود د بتشبع سره زنا کړې وه.)

# ۵۱

۱ په خاطر ستا د تلپاتې مینې خدایه

ما باندې رحم وکړه

ستا د لوی رحمت په سبب

له منځه یوسه ګناهونه زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ ته زما ټولې بدی ووینځه

او ما له خپلې ګناه پاک کړه ته

٣ کړم اعتراف یاغیتوبونو باندې

تل یم خبر له خپلو ګناهونو څخه

٤ ستا مقابل کې مې ګناه کړې ده

یوازې ستا په وړاندې

څه چې د ستا په نظر بد وو ما هغه کړي دي

نو ته په حقه یې زما د قضاوت په هکله

حق په جانب یې ته زما د محکومیت په هکله

٥ له پیدایښت څخه بدي موجود وه زما وجود کې

د مور د ګېډې نه ګناه موجود وه زما بدن کې

٦ ته زمونږ په زړه کې حقیقت خوښوې

ډکوې ذهن له حکمته زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ لکه کاهن چې پاکوي خلک

داسې پاک مې کړه په بوټي د ویلني

ووینځه ما چې شمه سپین له واورې

٨ پرېږده چې وکړمه احساس د خوشحالی او خوښی

که څه هم مات مې دي هډوکي ټکولی دې یم

یوځلې بیا به زه خوشحاله شمه

٩ سترګې دې پټې کړه زما په ګناهونو باندې

ټولې بدی زما له منځه یوسه

١٠ په ما کې پاک زړه راپیدا کړه خدایه

کړه راپیدا یو وفادار او نوی روح په ما کې

١١ له خپل حضور څخه دې مه شړه ما

خپل سپېڅلی روح دې له ما مه وباسه

١٢ یوځلې بیا دې د نجات خوشحالي راکړه ماته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ته مې جوړ کړه چې د ستا اطاعت وکړمه زه

۱۳ نو بیا به زه وښایم ستا لار بدکارانو لره

ګناهکاران بېرته را وبه ګرځي ستا لوري ته

۱۴ خدايه ما وژغوره د وينې تويولو له جرمه

ای خدايه! زما نجات بخښونکی خدايه

په خوشحالۍ به زه نېکي د ستا اعلان کړمه

۱۵ مرسته وکړه ته زما سره ښتنه

چې بيان کړم ستا ثنا

۱۶ په قربانۍ نه خوشحالېږې ته

نو ځکه زه به هغه وړاندې نه کړم

نه خوشحالېږې سوځېدونکو نذرانو باندې

۱۷ خدای ته چې غوره قرباني ده هغه مات روح دی

سپک به نه ګڼې عاجز او توبه‌ګار زړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ شه مهربانه په صهیون مرسته یې وکړه ته

کاندي دېوالونه د اورشلیم چې دوباره ودان

۱۹ بیا به راضي شې په سمو قربانیو باندې

او سوځېدونکو نذرانو باندې

قرباني به شي غویان ستا د قربانی ځای کې

## د بدکاره کس برخلیک

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د داود زبور، کله چې دواغ ادومي شاوول ته ورغی او
ورته ویې ویل چې داود د اخیملک کور ته تللی ؤ.)

# ۵۲

۱ ای زوروره، څه له فخر کړې په خپلو بدو؟

ده تلپاتې د خدای مینه

۲ ته پلانونه جوړوې چې کړې تباه نور خلک

د ستا ژبه د چاړې په شان تېره ده

ته همېش جوړوې دروغ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ له نېکۍ نه بدي زياته خوښوې ته

له رښتيا څخه دروغ ډېر خوښوې ته

٤ اى دروغجنه! دا خوښيږي د ستا

چې په خبرو خپلو زيان خلکو ته ورسوې

٥ نو خداى به تا کړي تل دپاره نابود

هغه به ونيسي تا او له خپله کوره به دې وتښتوي

او ستا ريښې به د ژونديو له دنيا وباسي

٦ نېکان به ووينې دا، شي به حيران

هغوى به هغه پورې خندا کوي او وبه وايي:

٧ «وګورئ هغه زورور ته تاسو

چې په خداى يې تکيه نه کړه خير دپاره

بلکې په خپلې شتمنۍ باندې تکيه کوله

په بدکارۍ کې يې خپل خير لټاوه»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ خو زه یمه د زیتون د هغې ونې په شان

چې د خدای کور کې راشنه کیږي هغه

په ابدي مینه د خدای زه تل توکل کومه

۹ هغو کارونو په خاطر چې تا دي کړي خدایه

همېشه شکر کوم

زه به اعلان کړم ستا د قوم په مخکې

ستا وفادارو خلکو مخکې به اعلان وکړم

چې مهربان یې خدایه

## د انسان ګناه

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د «مهلات» په تال د داود زبور)

(زبور ۱۴)

۵۳ ۱ کم‌عقلان خپلو ځانونو سره وایي چې خدای نشته

هغوی ټول دي فاسد شوي او کوي ډېر بد کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوی کې هېڅ یو نېک کار نه کړي

٢ په انسانانو له اسمانه خدای نظر ساتي خپل

ترڅو وګوري کوم شته داسې عاقل

چې رجوع وکړي هغه ته

٣ خو هغوی ټول مرتدان شول

ورسره هم فاسدان شول

دوی کې هېڅ یو نېک کار نه کړي

یو هم نه کړي نېک کردار

٤ خدای کوي دغه پوښتنه:

«بدکاران هېڅ نه پوهیږي؟

زما خلک داسې خوري دوی

لکه وږي چې ډوډی خوري

هېڅ دعا نه کوي ماته»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ خو په دوی باندې به داسې وېره راشي

چې به هېڅ نه وي موجود په حقيقت کې

وشيندي خدای به د هغو هډوکي

چا چې د خدای قوم کلابند کړی دی

دغه خلک دي خدای رد کړي

نو اسراييل به پوره ماتې ورکړي

۶ کاشکې راشي نجات د اسراييلو له صهيونه

برکت چې کله بيا ورکړي خدايه خپل ولس ته

بيا خوشحاله کورنۍ به د يعقوب شي

اسراييل به په دې کار سره خوشحال شي

## له دښمن څخه د ساتنې دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د موسيقۍ د تار لرونکو آلو سره د داود زبور، وروسته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغې چې د زيف اوسېدونکي سړي شاوول ته ورغلل او هغه ته يې وويل چې داود زمونږ په سيمه کې پټ دی)

# ۵۴

۱ ته په خپل واک باندې ما خلاص کړه خدايه

وکړه قضاوت د عدالت په خپل قوت زما

۲ خدايه زما دعا قبوله کړه ته

زما خبرو ته ته غوږ ونيسه!

۳ پردي خلک کړي په ما باندې حمله

ظالمان کوي کوښښ چې ومې وژني

هغه دي چې نه لري پروا د خدای

۴ خو خدای زما دی مددګار

ښتن ساتونکی دی زما د ژوند

۵ خدای دې راوګرځوي خپل بد عملونه په دښمن زما

ای خدايه زما د حفاظت وعده په ځای کړه او ته ختم يې کړه

۶ د رضاکاره نذرانې سره به تاته قرباني کومه ای ښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به شکر ستا کومه ځکه ته یې مهربانه

٧ زه دې د ټولو تکلیفونو نه خلاص کړی یمه

په خپلو سترګو د دښمن ماتې لیدلې ده ما

## د دوست د خیانت په هکله دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقۍ د تار لرونکو آلو سره د داود زبور)

# ۵۵

١ دعا قبوله کړه زما خدایه

زما زاریو ته شا مه اړوه!

٢ زما خبرو ته غوږ ونیسه او راکړه ځواب

زه اندېښنو سخت راګیر کړی یم زګېروي کومه

٣ د دښمنانو له شورونو وېرېدلی یمه

زه له ظلمه د بدکارو ځپل شوی یمه

هغوی په ما باندې تکلیف اچوي

هغوی په قهر دي په زړه کې له ما کرکه کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ زړه مې سينه کې په لړزان دی

او د مرګ وېره ده پرېوتې په ما

۵ لړزه او وېره ده راغلې په ما

او غالب شوی دی هيبت په ما

۶ کاشکې لرلی مې وزرونه د کوترې په شان

الوتلی به وای لېرې او په ارام به وای

۷ زه به لېرې ګرځېدلی

اوسېدلی به په دښته کې وای زه

۸ د سخت باد او سخت توفان نه

ما به زر ځانته موندلی پناه ځای وای

۹ ای خښتنه، ګډې وډې کړه خبرې ته زما د دښمنانو

ځکه زه تېری او جنګ وينم په ښار کې

۱۰ شپه او ورځ يې دېوالونو باندې ګرځي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له بدیو، تکلیفونو يې ډک کړی

١١ په هرځای تباهي ده

کوڅې ډکې دي له ظلم او تګی نه

١٢ که دا وای زما دښمن چې په ما وهي ملنډې

ما به صبر کړی وای

که دا وای زما رقیب چې وهي راته دی لافې

ترې پټ شوی به وای زه

١٣ خو ته يې يو زما له خپلو خلکو

زما يار يې او ملګری وفادار يې

١٤ مونږ له یو بل سره لرلې صمیمي خبرې

د نورو خلکو سره یوځای د خدای کور ته عبادت ته به تلو

١٥ ناڅاپه دې زما دښمنان مړه شي

دوی دې ګور ته ژوندي ورښکته شي!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه بدي د هغوی زړونو او کورونو کې ده

۱۶ زه کړم فریاد خدای ته کومک دپاره

هماغه ښبتن به وژغوري ما

۱۷ سهار، غرمه او ماښام

شکایتونه او فریاد کومه

او زما اواز به واوري

۱۸ سره له دې چې دښمنان مې زیات دي

خو دی ما له هغه جنګه سلامت ژغوري

۱۹ هغه خدای چې له ازله په تخت ناست دی

هغه به واوري دعاګانې زما

دوی ته به ورکړي ماتې

ځکه چې دوی له بدو لارو شخه نه راګرځي

له خدایه نه وېرېږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ زما ملګري په دوستانو خپلو وکړه حمله

ده کړلو مات هغه خپل کړی تړون

٢١ د ده خبرې وې خوږې له شاتو

خو په زړه کې د جګړې اراده

د ده خبرې له ورېښمو پستې

خو پرېکول يې کړل د تورو په شان

٢٢ خپل مشکلات دې ښښتن ته پرېږده

هغه به وکاندي ساتنه د ستا

هغه به هېڅکله پرېنږدي نېکان خلک

چې دوی وغورځيږي

٢٣ ته به ای خدايه، دا ټګمار قاتلان

د بربادۍ کندې ته وغورځوې

هغوی به مړه شي په ځوانۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو زه به تا باندې توکل کومه

## په خدای باندې توکل

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: «د څېړیو په لېرې ونو کې ناستې کوترې» په تال، د داود زبور، وروسته د هغې چې فلسطینیانو هغه په جت کې ونیوه.)

# ۵۶

۱ په ما رحم وکړه خدایه

ځکه خلک راپسې دي

خپل دښمنان ما همېشه څوروي

۲ زما دښمنان دي راپسې ټوله ورځ

کوي بریدونه په ما ډېر خلک په غرور سره

۳ کله چې ووېرېږم

نو زه به تا باندې توکل وکړمه

۴ کوم ستاینه زه د خدای د وعدو

زه توکل کړم په هغه او نه وېرېږمه زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فاني انسان څه شي کولای په ما؟

۵ زما دښمنان بدلوي ټوله ورځ زما خبرې

دسیسې تل راجوړوي چې راته زیان ورسي

۶ پټو ځایو کې راټولیږي هغوی

څارنه کړي زما د هر حرکت

په دې امید کې دي چې ومې وژني

۷ بدکاران دي دوی نو مه پرېږده چې تېښته وکړي

ته رانسکور کړه د دښمن قومونه په خپل قهر سره

۸ تا دي شمیرلې زما ټولې لاالهانده ورځې

زما د اوښکو حساب تا نیولی

د هغوی لست ستا په کتاب کې نشته؟

۹ په هغه ورځ چې تاته وکړم فریاد

بیرته په شا به شي زما دښمنان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دي پوهېږمه زه

ځکه چې خدای دی ولاړ زما په طرف

١٠ کوم ستاینه زه د خدای د وعدو

کوم ستاینه د څښتن د وعدو

١١ زه توکل کوم په خدای او نه وېرېږمه زه

څه کولای شي انسان ما سره؟

١٢ ما چې منلي دي نذرونه تاته

هغه زه پوره کومه خدایه

زه به ادا کړم نذراني د شکراني تاته

١٣ ځکه چې تا کړمه زه خلاص له مرګه

زه دي کړم بچ د تیندکونو څخه

نو زه به وګرځم د خدای حضور کې

هغې رڼا کې کوم چې خلکو ته ژوندون ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خطر په وخت کې د مرستې دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د «مه ورانوه!» په تال د داود زبور، وروسته د هغې چې د شاوول څخه سمڅې ته وتښتېده.)

# ۵۷

۱ په ما رحم وکړه خدایه، رحم وکړه

ځکه چې تاته مې پناه راوړې

پناه به زه ستا د وزرو تر سیورې لاندې واخلم

ترڅو تېر دغه افت شي

۲ زه کومه خدای تعالی ته فریاد

هغه خدای ته چې خپل مقصد زما دپاره سر ته رسوي

۳ کړي له اسمانه به قبوله مې دعا نجات به راکړي ماته

هغه چې ما باندې کړي ظلم خدای به ورکړي شرم

خدای به راوښايي وفا او هم تلپاتې مينه

۴ زه د داسې دښمنانو له خوا ګیر یم

چې د زمرو په شان دي وږي د انسان غوښو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی غاښونه دي د غشو او نېزو په شان

د هغوی ژبې دي تېرې لکه د تورو په شان

5 خدایه لویي دې کړه ظاهره اسمانونو باندې

په ټوله ځمکه خپل جلال ښکاره کړه

6 دی دښمنانو راته ایښی دام چې ګېر مې کړي

له پرېشانی نه ستړی شوی یمه

کنده کیندلې وه هغوی راته په لاره کې

خو دوی په خپله په کې ولوېدل

7 زه په تا باندې ډاډه یمه ای خدایه زه ډاډه یم

زه به وایمه سندرې ستا صفت به کوم

8 شه راویښ زما ځانه!

ای زما چنګه او ربابه راببدار شئ!

زه راویښ به سباوون کړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ ستا نه به وکړمه مننه ای څښتنه د قومونو منځ کې

هم به ووایم ستا د ستاینې سندرې د ولسونو منځ کې

١٠ تلپاتې مینه دې رسیږي اسمانونو پورې

وفادارې دې تر فلکه رسي

١١ خدایه لویي دې کړه ظاهره اسمانونو باندې

په ټوله ځمکه خپل جلال ښکاره کړه

## بدکارانو ته د سزا ورکولو دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د «مه ورانوه!» په تال د داود زبور)

# ۵۸

١ تاسو مشران کله کوئ په عدالت پرېکړه؟

ایا قضاوت په انصاف باندې کړئ هرچا سره؟

٢ تاسو همېش جوړوئ خپل زړونو کې بد پلانونه

د تاوتریخوالي ډک جرمونه په دنیا کې کوئ

٣ بدکاران وي د مور د ګېډې نه بې لارې پیدا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې پیدا شوي دي هغوی له هغې ورځې نه دروغ وايي

۴ هغوی له زهرو څخه ډک دي د مارانو په شان

د چمچه مار په شان بند کړي يې دي خپل غوږونه

۵ کوم چې نه اوري اواز د پاړوګرو

نه منتر د ښو ماهرو پاړوګرو

۶ د دې ځوانانو زمرو مات کړه ته غاښونه خدايه

وخيره داړې د دوی ای څښتنه

۷ دوی دې ورکې شي

لکه څنګه چې اوبه غيب شي په وچه ځمکه

کله چې ولي دوی خپل غشي بې‌اثره دې وي

۸ لکه حلزون په شان دې ويلي شي چکړو کې دوی

هغه ماشوم په شان دې شي

چې مړ پيدا شي او لمر ونه ګوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ وي د اغزو د اور په خبر

او مخکې له دې چې دېگې ستاسې شي گرم

تږول که لامده دي او که وچ، شي به له منځه ولاړ

۱۰ عادلان به شي خوشحاله چې سزا د گناهکار ووینې

د بدکارانو خلکو وینه کې هغوی به خپلې پښې ووینځي

۱۱ خلک به وايي: «په رښتیا چې نېکان اجر مومي

بې له شکه خدای دی چې دنیا باندې کوي قضاوت»

## د دښمنانو څخه د خلاصون دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د «مه ورانوه!» په تال د داود زبور، وروسته د هغې چې شاوول سړي ولېږل چې د داود کور وڅاري ترڅو هغه ووژني.)

۵۹ ۱ ما له خپلو دښمنانو څخه خلاص کړه زما خدایه

ما له هغو خلکو ساته چې حمله کوي په ما

۲ ما له خلاصون راکړه له دغو بدکارانو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راته نجات راکړه له دغو قاتلانو څخه

۳ ګوره! دوی راته کمین کې دي چې ومې وژني

زما په ضد راجمع شوي ظالمان خلک دي

خو ما نه هیڅ کومه ګناه یا خطا نه ده شوې ای څښتنه

۴ ما کوم غلط کار نه دی کړی خو بیاهم

هغوی تیار دي چې حمله وکړي په ما باندې

رااوچت شه او کومک راسره وکړه

زما غمجن حالت ته وګوره ته!

۵ ای څښتن خدایه، ای مطلق قادره

ته یې خدای د اسراییلو

شه راببېدار ورکړه سزا ټولو پردي قومو ته

مه کوه رحم په شریرو غدارانو باندې

۶ هغوی ماښام کې راستنیږي بېرته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې ګرځي شاوخوا کې د ښار

لکه د سپیانو په شان غاپي هغوی

۷ د دوی ښکنځلو او ګواښونو ته غوږ ونیسه ته

د هغوی ژبې دي د تورو په شان

خو بیاهم فکر کوي دا چې هېڅوک نه اوري خبرې د دوی

۸ خو هغوی پورې ته خاندې ای څښتنه

کړې مسخرې ټولو پردي قومونو باندې

۹ ای خدایه یې ته زما قوت

زما د امید سترګې دي ستا په لورې

ځکه چې ته یې زما مضبوطه کلا

۱۰ خدای کوي مینه تلپاتې راسره او راته رابه شي

ما به قابل کړي د دې چې شکست ووینمه د دښمنانو خپلو

۱۱ هغوی مه وژنه ای خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هسې نه چې زما د قوم نه د عبرت دا سبق هېر شي

په خپل قوت يې تار په تار کړه ورته ماتې ورکړه

ای څښتنه زمونږ سپره!

۱۲ کله چې دوی کوي خبرې نو ګناه کوي

دوی دې راګير شي په خپل غرور کې

دا چې ښکنځلې کړي دروغ وايي دوی

۱۳ په خپل غضب سره هغوی نابود کړه

هغوی بيخي نابود کړه

نو بيا به پوه شي هرڅوک چې خدای

کاندي حکومت د يعقوب په نسل

او کړي حکومت په ټول جهان باندې

۱۴ هغوی ماښام کې راستنيږي بېرته

کله چې ګرځي شاوخوا کې د ښار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه د سپیانو په شان غاپي هغوی

۱۵ لکه د سپیانو په شان ګرځي دوی خوراک پسې

که ماړه نه شول نو غړمبيږي به بیا

۱۶ خو ستا د قوت په هکله وایمه سندرې به زه

ستا د تلپاتې مینې په هکله به زه

وایم سندرې هر سهار په خوشحالی سره

زما دپاره يې مضبوطه کلا

ته د سختيو په وختونو پناه ځای يې زما

۱۷ ای زما خدایه زما قوته زه به د ثنا سندره وایمه ستا

خدای دی زما کلا یعنې مضبوطه کلا

هغه خدای ما سره چې کړي مینه تلپاتې مینه

## په خدای باندې باور لرل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د «شاهدئ سوسن» په تال د درس دپاره د داود زبور. دا يې هغه وخت ولیکه چې د بین‌النهرین او صوبه د سوریایانو په ضد يې جګړه وکړه، او یوآب بېرته لاړ او د مالګې په دره کې يې ۱۲۰۰۰ ادومیان ووژل.)

## ۶۰

۱ تا مونږه رد کړو خدایه

هم دې کړې ماتې د دفاع ځایونه زمونږ

ته خفه شوی يې له مونږ

اوس مونږه بېرته په خپل حال کړه

۲ تا ولړزوله ځمکه

او هغه دې وشکوله

اوس يې بېرته کړه راجوړه

ځکه اوس هغه زنګېږي

۳ تا خپل خلک کړاوونو کې اخته کړل

تا راکړل شراب مونږ ته

مونږ يې ړنګ او بنګ کړلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ تا اشاره وکړه هغو ته چې عبادت کړي ستا

چې د دښمن د غشو وتښتي دوی

۵ په خپل طاقت دې مونږه وژغوره

او قبوله زمونږ دعا کړه

ترڅو نجات ومومي هغه خلک

د هغه چا سره چې مینه کوې

۶ د خپل سپېڅلي ځای نه خدای خبرې وکړې

«په خوشحالی به زه شکیم تقسیم کړم

او د سکوت دره به ووېشم خپل قوم باندې

۷ جلعاد زما دی او منسي مې هم دی

دی افرایم مې د زغرو خولی

او یهودا مې شاهانه امسا ده

۸ خو د موآب نه به کار واخلم د لګن په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې خپلی به د ادوم په لور ګوزارې کړمه

په فلسطین باندې به چیغه د بریا وکړمه»

٩ څوک به مې بوځي د برجونو ښار ته؟

څوک به مې بوځي د ادوم ښار ته؟

١٠ تا په رښتیا سره پرې ایښي یو مونږ؟

زمونږ د لښکرو سره نور نه ځې ته؟

١١ مرسته مو وکړه د دښمن په خلاف

نه لرې ګټه د انسان مرسته

١٢ مونږ به کامیاب شو چې خدای مل وي زمونږ

هغه سرکوب به کړي زمونږ دښمنان

## د خدای حضور ته فریاد کول

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقی د تار لرونکو آلو سره د داود زبور)

# ٦١

١ زما فریاد واوره ای خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړه قبوله مې دعا

۲ د اخر سر نه د دنيا درته نارې وهمه

داسې حال کې چې مې زړه دی نااميده

زما نه اوچت ګټ ته مې بوځه ماته راکړه پناه

۳ ځکه زما د دښمنانو مقابل کې

ته پناه ځای يې زما هم قوي برج يې زما

۴ پر يږده چې واوسم ټول عمر ستا سپېڅلي ځای کې

پر يږده چې اوسم سلامت ستا د وزرونو لاندې

۵ ای خدايه، ما چې کوم نذرونه دې ورکړي

تا قبول کړي هغه

تا راته هغه برکت راکړی

چې دې ورکړی دی هغوی ته چې وېرېږي ستا له نومه

۶ پاچا ته ورکړه اوږد عمر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږده چې پاتې شي تر نسلونو پورې

۷ هغه دې وکړي پاچاهي ستا په حضور کې تل ترتله خدايه

تلپاتې مينه او وفا ورکړه چې ويې ساتي

۸ نو زه به تل ستا د ثنا سندرې وايم

لکه چې خنګه وركومه هره ورځ نذرونه

## د خدای په ساتنه اعتبار

(د سرود مشر يدوتون دپاره: د داود زبور)

# ۶۲

۱ زما ځان مومي ارام صرف د خدای حضور کې

ځکه نجات مې د هغه له خوا دی

۲ يوازې هغه مې ساتي او ژغوري ما

هغه دی زما پناه ځای

نو زه به هېڅکله ونه خورم ماتې

۳ ترڅو به تاسې ټول کوئ په هغه چا بريدونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه ووژنئ

څوک چې په شان وي د کوږ شوي او لوېدلي دېوال؟

۴ دوی صرف غواړي چې راښکته کړي هغه

د خپل عزت له ځایه

دوی له دروغو څخه خوند اخلي

په خوله کوي د برکت خبرې

په خپلو زړونو کې هغه باندې لعنت وايي

۵ ای زما ځانه، ارام پیدا کړه صرف د خدای حضور کې

زما د امید سترګې هغه ته دي

۶ یوازې هغه مې ساتي او ژغوري ما

هغه دی زما پناه ځای

نو زه به نه خورم ماتې

۷ زما خلاصون زما عزت دواړه د خدای له خوا دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوي ساتونکی دی زما

او پناه ځای دی زما

۸ ای زما قومه همېشه کوئ توکل په خدای

خپل تکليفونه ټول هغه ته ووايئ

ځکه هغه دی پناه ځای زمونږ

۹ انسانان ټول دي په مثال د پوکي

که هغوی لوی دي که واړه دي هغوی

ټول دي يوشان او هېڅ نه دي

واچوئ تله کې هغوی تاسې

نو د دوی وزن به هېڅ شی نه وي

وزن د دوی به وي له هوا هم کم

۱۰ په تاو تريخوالي توکل مه کوئ

په لوټماری باندې د ګټې اميد مه کړئ تاسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که شتمني د ستاسو زياته هم شي

خو په هغې باندې تکيه مه کوئ

۱۱ ما خو ځلې اورېدلي دي دا

چې خدای وايي دی قدرت ورسره

۱۲ ای څښتنه، ستا مينه ده تلپاتې مينه

ځکه هرچا ته مطابق د عمل اجر ورکوې

## د خدای سره د اړيکو لېوالتيا

(د داود زبور، هغه مهال چې هغه د يهودا په دښته کې ؤ.)

# ۶۳

۱ ای خدايه ته زما خدای يې

زه رجوع کومه تاته خدايه

زه په خپل زړه کې ستا لېوال يمه

لکه د وچې او بېکاره للمې ځمکې په شان

زما روح تږی دی د ستا دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ ما يې ليدلی په سپېڅلي ځای کې

د ستا قدرت او ستا جلال مې په ځير ځير کتلی

٣ دا ستا مينه تلپاتې ده بهتره له ژوندونه

نو زما شونډې به تا ستايي

٤ ترڅو ژوندی يم ستا ثنا به وايم

پورته کوم به خپل لاسونه په دعا کې زه د ستا په نامه

٥ داسې به موړ شم لکه څوک چې په مېله کې

غوړ خوراک وکړي

په خوشحالی سره به وايم ستا ثنا او صفت

٦ کله زه پروت چې په بستر کې يمه تا يادوم

ټوله شپه ستا په اړه فکر کوم

٧ ځکه چې ته مې مددګار وې همېش

د سيوري لاندې د وزرونو د ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خوشحالی سندرې وایمه زه

٨ ما خپل روح تا پورې تړلی دی

ستا ځواکمن لاس کوي ملاتړ زما

٩ خو څوک چې هڅه کړي چې ما ووژني

هغوی به لاړ شي د مړو دنیا ته

١٠ په جنګ کې مړه به شي په تورو هغوی

شي به یې مړي د سورلنډیانو خوراک

١١ خو پاچا به خوشحالي کوي د خدای په خاطر

څوک چې قسم خوري د خدای په نوم

د هغه ثنا او صفت به کوي

خو د دروغجنو خولې به بندې شي

## د بدکارانو د دسیسو څخه د ساتنې دپاره دعا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۶۴

۱ واوره زما اواز خدایه

واوره شکایت زما

خپلو دښمنانو نه ویریږم زه

وساته ژوندون زما!

۲ وساته ما د دسیسو د بدکارانو څخه

هم د شریرانو د ډلو څخه

۳ تېرې کوي دوی خپلې ژبې د تورو په شان

دوی په ترخو خبرو لکه د غشو په شان نښه ولي

۴ په کمینونو کې دوی ولي بې‌ګناه انسانان

بې له کوم ترسه ناڅاپه په هغوی باندې ګوزار کوي

۵ هغوی یو بل تشویقوي په خپلو بدو دسیسو باندې

دوی جوړوي داسې پلان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په کوم ځای کې دوی دامونه کېږدي

هغوی وایي چې څوک مونږ نه شي لیدلی

٦ جوړوي بد پلانونه او دوی وایي:

«څومره ښه پلان مو دی جوړ کړی»

څه مرموز دی د انسان زړه او دماغ

٧ خو خدای به وولي هغوی په خپلو غشو

او ناڅاپه به هغوی شي زخمیان

٨ خپلې خبرې به نابود کړي هغوی

هرڅوک چې ویني هغوی

کړي اشارې به په ملنډو ورته

٩ انسانان به ټول وېرېږي

بیانوي به دوی د خدای کارونه

او کړي سوچونه په هغې څه چې خدای کړي دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ښښتن چې وکړل کوم کارونه

نېکان دې کاندي خوشحالي په هغو

پناه دې يوسي ده ته

ټول نېکان خلک دې صفتونه کوي

## ستاينه او شکرګزاري

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: يوه سندره کومه چې د داود زبور هم دی)

# ۶۵

۱ په کار ده په صهيون کې ستا ستاينه ای خدايه

هغه نذرونه درکوو به کوم چې مونږ منلي

۲ په دې خاطر چې دعاګانې اورې

انسانان ټول به ستا حضور ته راځي

۳ کله چې زيات شي ګناهونه زما

بخښې ته زما ټول جرمونه

۴ بختور دی هغه څوک چې غوره کړی دی تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاته راشي او واوسيږي ستا سپېڅلي ځای کې

مونږ به ماړه شو ستا د کور په ښو شيانو باندې

او ستا د معبد برکتونو باندې

۵ زمونږ خدايه ته مونږ ژغورې

ستا هيبتناکه عملونه راکوي ځواب

زمونږ د دعا د عدالت دپاره

ورکوې خلکو ته اميد

د دنيا هر سر کې

حتی هغو ته چې اوسيږي لېرې بحرونو سره

۶ تا په قوت باندې ملا وتړله

ځای په ځای کړي دي تا غرونه په خپل ځواک باندې

۷ ارامويې ته د سيندونو غرهار

او د څپو غړمبار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اراموې ته شور او زوږ د خلکو

٨ تا چې کوم لويې کارنامې کړې دي

ټول خلک د جهان وېرېږي

د نړۍ له يوه سره تر بل سره

ستا کارنامې راجوړوي د خوشحالۍ نارې

٩ ته په ځمکه باندې پام کوې او باران وروې

غني کوې يې ته او حاصلخېزوې يې ته

اې خدايه سيند ستا د اوبو نه ډک دی

تياروې غلې داني خلکو ته

دا هغه څه دي چې کوې يې ته:

١٠ په قلبه شويو ځمکو باندې

ډېر زيات باران وروې

نرموې ځمکه په اوبو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نرموې خاوره په اورښتونو باندې

او شنه کوې د لوېږدو دپاره ته شنه بوټي

١١ ستا په احسان باندې د ځمکې حاصلات

شول لکه تاج د ځمکې

چېرته چې ځې هرڅه پرېمانه وي

١٢ د دښتې شنې لمنې کېږي څړځایونه غني

او غونډۍ سپړي د خوښۍ غوټۍ

١٣ څړځایونه ټول وي ډک له پسونو

درې دي ټولې له غنمو ډکې

ټول شیان چیغې وهي

او د خوښۍ ډکې سندرې وایي

## د شکرګزارۍ او ستاینې سندره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: زبور او هم یوه سندره)

# ۶۶

۱ ای د ټولې دنیا خلکو ووهئ د خوشحالی چیغې

وکړئ صفت د خدای

۲ سندرې وایئ د جلال تاسې د نوم د هغه

ووایئ حمد او ثنا تاسې د هغه جلالې

۳ خدای ته ووایئ چې

کوې ته څومره هیبتناک کارونه

څومره دی لوی ستا قدرت

چې دښمنان د ستا له وېرې سجدې کړي تاته

۴ د جهان ټول خلک دې کړي عبادت

وایي سندرې د ستاینې تاته

ستا په نامه باندې سندرې د ثنا وایي

۵ راشئ او وګورئ چې خدای کړي دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د انسانانو په خاطر څه هیبتناک کارونه

۶ په وچه ځمکه یې بدله کړله سره بحیره

زمونږ نیکونه په سیند واوختل په خپلو پښو

نو کوم کارونه چې انجام کړل هغه

په دې سبب مو هغه ځای کې خوشحالي وکړه

۷ پاچاهي په خپل قوت کړي تل ترتله

په نورو قومونو خپل نظر ساتي

راپورته نه شئ د هغه په ضد سرکښو خلکو

۸ د دنیا خلکو، زمونږ خدای وستایئ

پرېږدئ ستاینې ستاسې واورېدل شي

۹ مونږ یې ساتلي یو ژوندي

نه یې ښویېدلو ته پښې زمونږ پرېښې

۱۰ مونږ اچولي یو تا په امتحان کې خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه سپين زر چې شي پاک اور باندې

١١ تا مونږ په دام کې ګرفتار کړلو

زمونږ په اوږو باندې دې کېښودل درانه بارونه

١٢ دښمنان دې زمونږ پرېښودل چې پايمال مو کړي

تېر شو په اور او په سېلاب کې مونږه

اخر دې راوستلو مونږ د پرېمانۍ ځای ته

١٣ زه به ستا کور ته سوځېدونکې قربانۍ راوړم

او د وعدو سره به سم درکړم نذرونه

١٤ هغه وعدې چې په سختۍ کې مې

پرې خلاصې کړلې شونډې خپلې

او مې په ژبه باندې راوړلې

١٥ زه به چاغ ځاروي کړم تاته وړاندې

د سوځېدونکو نذرانو په څېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي به بوی د قربانۍ د پسونو

زه نذرانه به کړم غویان او هم وزان

۱۶ ای ټولو خلکو چې وېرېږئ له خدای راشئ واورئ

زه به خبر کړم تاسو د هغو کارو نه

کړي چې هغه زما دپاره دي

۱۷ وهلې چیغې مې هغه ته د کومک دپاره

او زما ژبې د هغه ثنا صفت بیان کړ

۱۸ که مې په زړه کې ګناهونه خپل ساتلي وای پټ

څښتن به نه وای اورېدلې دعاګانې زما

۱۹ خو په رښتیا خدای اورېدلې دعاګانې زما

قبوله کړې یې دعا ده زما

۲۰ د خدای ثنا وایمه ځکه چې رد کړې یې دعا نه ده زما

او زما نه یې نه ده سپمولې خپله تلپاتې مینه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د موسیقۍ د تار لرونکو آلو سره زبور د سندرې په شکل)

# ۶۷

۱ ای خدایه، رحم وکړه په مونږ او برکت راکړه

په ورین تندي وګوره مونږ ته

۲ ترڅو چې ټوله دنیا وپېژني ستا لاره

ترڅو چې ټول قومونه وپېژني ستا نجات بخښونکې ځواک

۳ پرېږده چې خلک دې صفت وکړي خدایه

پرېږده چې ټول خلک دې کاندي صفت

۴ پرېږده خوشحال شي ټول قومونه

او سندرې د خوښۍ ووايي

ځکه چې ته د ولسونو قضاوت کړې په انصاف سره

او په دنیا کې لارښوونه د قومونو کوې

۵ پرېږده چې خلک دې صفت وکړي خدایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږده چې ټول خلک دې کاندي صفت

٦ بیا ورکوي ځمکه به خپل حاصل

خدای، زمونږه خدای به کړي نازل خپل برکت په مونږ

٧ خدای دې راکړي برکت مونږ ته

پرېږده چې ټول خلک په هرځای کې ترې وېره وکړي

## د بریالیتوب حماسي شعر

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د داود زبور او هم یوه سندره)

# ٦٨

١ خدای دې راپورته شي

او خواره واره دې کړي خپل دښمنان

تېښته دې کړي ځوک چې نفرت کوي له هغه څخه

٢ لکه د باد په وړاندې چې لوګی ورکیږي

داسې ته ورک کړه هغوی

لکه چې ځنګه ویلي کیږي موم د اور په مخکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې بدکاره دې تباه شي د خدای په مخکې

۳ خو نېکان دې وي خوشحاله

کړي خوشحالي دې د هغه حضور کې

وي دې خوشحاله او وهي دې د خوښۍ چیغې

۴ خدای ته ووایئ سندره ثنا صفت یې د نامه وکړئ

صفت یې وکړئ چې سپرېږي هغه ورېځو باندې

خوشحالي وکړئ د هغه حضور کې

ځکه چې یې نوم دی ښښتن!

۵ هغه خدای کوم چې اوسیږي خپل سپېڅلي ځای کې

دی دا پلار د یتیمانو او ساتنه کړي د کونډو

۶ یوځای کوي هغه بېکسه کورنیو سره

راخلاصوي بندیان له بنده نېکمرغیو لره

وچو میرو کې به اوسیږي سرکښان خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ ای خدایه کله چې روان وې ته د خپل قوم مخکې

کله چې تا وکړ مزل شوې بیابان څخه تېر

٨ ولړزېدله ځمکه او هم له اسمانه ورېدلو باران

په دې خاطر چې راروان دی د سینا خدای

چې خدای د اسراییلو راروان دی

٩ تا راووراوه ډېر زیات باران

او تا کړه اباده خپله شاړه ځمکه

١٠ ستا قوم کړ جوړ استوګنځی خپل هلته

د نېکی نه دې محتاجو ته هرڅه تیار کړل

١١ څښتن ورکړلو فرمان

دا زېری یووړلو د ښځو یوې غټې ډلې:

١٢ «دې پاچاهان خپلو لښکرو سره تېښته کې»

په کور کې پاتې ښځې وېشي د جګړې غنیمت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ وې پوښل شوې په سپين زرو د کوترو څېرې

په ښو سرو زرو يې وزرونه ځلېدل

(ولې د ستاسو ځينې کسان د جګړې په ورځ د پسونو په شپولونو کې پاتې شول؟)

۱۴ خواره واره چې کړل پاچاهان مطلق قادر خدای هلته

وو لکه واوره چې وريږي د صلمون په غره

۱۵ ای ځواکمن غره، د باشان غره!

ای ته خاوند د ډېرو څوکو، د باشان غره!

۱۶ ای د ډېرو څوکو غره!

ته ولې ګورې هغه غره ته د حسد له مخې

کوم چې خدای دی غوره کړی اوسېدو دپاره

څښتن به اوسي هلته تل دپاره

۱۷ زرګونو زرو نظامي ځواکمنو ګاډيو سره

راغی څښتن سپېڅلي ځای ته له سينا څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ لوړو ځایونو ته وروختلې

یووړل دې له ځانه سره زیات بندیان

حتی له سرکښانو دې هم تحفې اخیستې

نو ښښتن خدای به هلته اوسي د هغوی په منځ کې

۱۹ ثنا او صفت دې وي ښښتن ته

چې هره ورځ زمونږ بارونه وړي په خپلو اوږو

دا خدای زمونږه خلاصوونکی خدای دی

۲۰ زمونږ خدای د خلاصون خدای دی

ښښتن تعالی چې له مرګي مو ژغوري

۲۱ وټکوي به خدای سرونه د خپلو دښمنانو

دا ببر سرې چې تک کړې په ګناهکارو لارو

۲۲ داسې وویل ښښتن:

«راولم زه به دښمنان ستاسو باشان نه بیرته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دریاب د تل نه به هغوی زه راولمه بېرته

۲۳ نو ډنډوکي د دوی د وینو به شي ستاسې د لغتو لاندې

او ستاسې سپي به يې څټي چې څومره غواړي هغوی»

۲۴ ای خدايه، ټولو خلکو ولیده ستا د کاميابۍ مارش

مارش د خدای یعنې زما د پاچا

چې داخل شو خپل سپېڅلي ځای ته

۲۵ سندرغاړي يې په مخکې، د سازونو والا شاته

او په منځ کې ځوانې ښځې چې چمبې وهي:

۲۶ «د خدای صفت وکړئ مجلس کې د هغه د ولس

ای د اسراییلو اولادې ټول وکړئ صفت د څښتن»

۲۷ لومړی راځي بنیامين یعنې د ټولو نه کوچنی قبیله

بیا ورپسې به وي مشران د یهودا د خپلې ډلې سره

او بیا مشران د زبولون او نفتالي ورپسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ای خدایه ته خپل قدرت وښایه

هغه قدرت چې تا زمونږ په خاطر کارترې واخیست

۲۹ ستا د کور په خاطر پروت اورشلیم کې چې دی

چېرته چې تاته پاچاهان خپل سوغاتونه راوړي

۳۰ ورټه مصر په مثال دی د وحشي حیوان

چې لوخو کې اوسیږي هغه

ورټه نور قومونه کوم چې په مثال دي

د غویانو او خوسیانو پادې

ترڅو چې ټول وکړي سجده تاته

او درکړي تاته خپلې نقرې

خواره واره کړه ته هغه قومونه چې جګړه خوښوي

۳۱ استازي رابه شي له مصر څخه

ایتوپیایان به خدای ته پورته کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاسونه د دعا دپاره

۳۲ خدای ته ووایئ سندره پاچاهیو د نړی ټولو

په سندرو کې صفت د څښتن وکړئ

۳۳ د هغه چا دپاره چې په لرغونو اسمانونو ناست دی

چې په قوي اواز غوريږي له اسمانه څخه

۳۴ خلکو ته ووایئ چې خدای قوي دی

چې جلال د هغه ځليږي اسراییلو باندې

او ليدل کيږي يې قدرت اسمان کې

۳۵ خپل سپېڅلي کور کې خدای دی

څومره هیبتناک د اسراییلو خدای!

ورکوي خپل قوم ته قدرت او طاقت

ثنا او صفت دې وي خدای ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مرستې دپاره فرياد

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: «د سوسن د ګل» په تال د داود زبور)

# ۶۹

۱ وژغوره ما وژغوره ای خدايه

اوبه نژدې دي چې نفس مې وباسي

۲ ژورو ختو کې ډوبېږمه زه

داسې ځای نشته چې زه ودرېږمه

ژورو اوبو کې ننوتی يمه

دې ته نژدې يم چې کړې ډوب مې خپې

۳ ستومانه شوی يمه زه چې نارې ووهم کومک دپاره

زما ستونی دی وچ شوی

ستا په انتظار مې سترګې سترې شوې

۴ چې بې‌سببه رانه کرکه کوي

هغوی دي زيات زما د سر له ويښتو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دښمنان زما په هکله دروغ وايي

دوی دي قوي او غواړي ما ووژني

مجبوروي مې دوی ته ورکړمه زه

هغه شيان چې ما پټ کړي نه دي

۵ ای خدايه ته ما پېژنې چې زه څومره کمعقل يمه

ګناهونه زما نه دي پټ له تا نه

۶ ای څښتنه ای مطلق قادره خدايه

شرمنده نه دې شي زما په سبب

څوک چې په تا باندې توکل کوي

ای د اسراييلو خدايه

رسوا دې نه شي هغوی زما په خاطر

څوک چې تاته کړي رجوع

۷ ستا په خاطر مې سپکاوی وزغامه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په شرمونو پټ شوم

۸ خپلو خپلوانو ته پردی ښکارم

خپل خاندان ته بیګانه ښکارم

۹ هغه غیرت چې زه يې لرم ستا د کور په خاطر

زما بدن باندې يې اور بل کړی

کومو خلکو چې وکړ ستا سپکاوي

هغوی زما سپکاوی هم وکړلو

۱۰ کله چې زه شوم په ژړا

ځان مې خاکسار کړ په روژه نیولو

نو خلکو زه سپک کړمه

۱۱ کله چې ما د ویر جامې واغوستې

هغوی په ما پورې خندا وکړه

۱۲ بازار کې ما پسې خبرې کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او شرابیان زما په هکله جوړوي سندرې

١٣ خو زه به تاته کړم دعا ښتنه

خدایه قبوله مې دعا کړه

چې کله خوښه وي ستا

په خاطر د خپلې زیاتې او تلپاتې مینې

کړه زما دعا قبوله

ځکه په وعده د نجات باندې وفا کوې

١۴ ما پرېنږدې چې شم ډوب ختهو کې

خوندي مې وساته له هغو چې نفرت کړي له ما

ژورو اوبو څخه ما وساته ته

١۵ پرېنږدې چې سېلاب راباندی راشي

پرې مې نه ږدې چې شم ډوب اوبو کې

یا مې کړي تېر قبر ژوندی ځان ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ ای ښښتنه ته قبوله مې دعا کړه

څکه تلپاتې مینه ستا غوره ده

د خپلې زیاتې همدردۍ نه دې خپل مخ ماته راواړوه!

۱۷ د خپل بنده نه دې مخ مه پټوه

د ډېر تکلیف سره زه مخ یمه قبوله مې دعا کړه زر

۱۸ ماته ته راشه او نجات راکړه

خلاص مې کړه خپلو دښمنانو څینې

۱۹ ته ښه پوهېږې زما څومره سپکاوی شوی دی

څومره رسوا او بې‌حرمته شومه

ټول دښمنان زما ته وینې خپله

۲۰ په سپکاوي دی زما زړګی مات شوی

او مایوس شوی یمه

ما امید د خواخوږۍ لرلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هلته هېڅوک نه ؤ

وم منتظر چې تسلي راکړي څوک

خو څوک مې نه کړ پیدا

۲۱ چې کله وږی وم دوی زهر راکړل

کله چې تږی وم سرکه یې راکړه

۲۲ دسترخوانونه د دوی خپل دې دوی ته دام وګرځي

ودې ګرځي د دوی مذهبي مېلې تیلک دوی ته

۲۳ هغوی ړانده کړه چې څه ونهویني

کړه ملاګانې یې کمزورې د تل دپاره

۲۴ ته خپل قهر په هغوی باندې نازل کړه

او د خپل غضب په اور یې وسوځوه

۲۵ وران او ویجاړ دې شي د دوی د اوسېدو ځایونه

د دوی خېمو کې دې هېڅوک نه اوسي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ ځکه هغه دوی ځوروي چې تا ورکړې سزا

د هغو خلکو د کړاو په هکله کړي خبرې

چې ژوبل کړي دي تا

۲۷ د دوی د ټولو ګناهونه ثبت کړه

او هغوی ونه بخښې

۲۸ د دوی نومونه دې شي ورک د ژوندانه له کتاب

حساب دې نه شي په نیکانو کې دوی

۲۹ خو زه مظلوم یم او په غم کې ګیر یم

ای خدایه ما کړه پورته نجات راکړه

۳۰ په سندرې به د خدای د نوم صفت کومه

په شکرونو به یې لویي اعلانومه

۳۱ دا به خوشحاله کړي څښتن

ډېر د هغې نه چې ورته وړاندې شي څاروی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېر د هغې نه چې د پوره غاښو

خوسی شي قرباني ورته

۳۲ کله چې ويني مظلومان دغه کار

نو خوشحالېږي به دوی

کوم خلک چې کړي خدای ته رجوع

شي به يې زړونه ژوندي

۳۳ ځکه څښتن د محتاجانو قبلوي دعا

خپل خلک به هېر نه کړي زندان کې هغه

۳۴ ثنا او صفت وکړئ د خدای ای اسمانونو او ځمکې

او هم بحرونو او هغې کې ګرځېدونکو ځناورو

۳۵ ځکه خدای به وژغوري صهيون

بېرته اباد به کړي د يهودا ښارونه

د هغه قوم به هلته اوسي او دوی به خپله کړي هغه ځمکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ اولاده به د هغوی يې وارثان شي

اوسي به هلته څوک چې مينه کړي د هغه سره

## د مرستې دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور چې هغه د خدای نه غوارې چې په ياد يې وساتي.)

(زبور ۱۳:۴۰-۱۷)

# ۷۰

۱ ای خدايه ته ما خلاص کړه

ای ښښتنه، زر کومک راسره وکړه

۲ هغوی چې هڅه کوي ما ووژني

هغوی دې ماتې سره مخ شي وارخطا دې شي

چې زما په کړاوونو خوشحالي کړي

هغوی دې تېښتې سره مخ شي او رسوا دې شي

۳ څوک چې په ما باندې ملنډې وهي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له خپلې ماتې دې دوی وبوګنیږي

۴ هغه ټول خلک چې کړي تاته رجوع

شي دې خوشحاله او خوښي دې کړي له تا نه

هغه چې مینه کړي ستا د خلاصون سره

او دوی دې تل وايي:

«خومره عظیم دی خدای»

۵ زه یم غریب او زه محتاج یمه

زر شه او زما کومک ته راشه خدایه

ته مې مددګار او خلاصوونکی یې

بیړه وکړه او کومک لره مې راشه ای څښتنه!

## د زاړه سړي دعا

# ۷۱

۱ ما پناه راوړې تاته ای څښتنه!

مه پرېږده مې ته هېڅکله خجالت ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ته عادل يې، کومک وکړه نجات راکړه

دعا مې واوره او ما وژغوره ته

۳ اوسه زما ته پناه ځای خوندي

چېرته چې تل زه راځم

تا زما نجات دپاره امر کړی

ځکه کلا او پناه ځای يې زما

۴ ای زما خدايه، ما کړه خلاص د بدعملو د لاسونو ځينې

کړه ما راخلاص د بدکارانو ظالمانو د ولکې ځينې ته

۵ څښتن تعالی، زما اميد دی تاته

لرم په تا باندې توکل زه د ځوانۍ له وخته

۶ د زېږېدو نه مې مخکې ما په تا باندې تکيه کړې ده

له هغه وخته دې ساتلی يم چې وم د مور په ګېډه کې زه

زه ستا صفت به دوامداره کوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ډېرو خلکو ته عبرت شو زما ژوند

خو ته يې زما قوي پناه ځای

۸ زه ټوله ورځ د ستا ثنا وايمه

اعلانوم ستا جلال

۹ اوس چې زوړ شوی يمه

له خپله ځانه مې ته لېرې نه کړې

خوشې مې نه کړې چې کمزوری يمه

۱۰ ځکه چې زما دښمنان زما په ضد خبرې کوي

چې راپسې دي جوړوي زما د مرګ دسيسې

۱۱ هغوی وايي چې خدای پرېښی هغه

نو راځئ ورشو ورپسې راويې نيسو

هېڅوک هم نشته چې کړي خلاص يې مونږ نه

۱۲ مه لېرې کېږه ما نه خدايه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما کومک ته زر راشه ای زما خدایه

۱۳ ودې شرمیږي او نابود دې شي

څوک چې په ما پورې کوي تورونه

څوک چې غواړي چې ضرر راته راورسوي

شي شرمنده دې او رسوا دې شي

۱۴ د امید سترګې مې تل ستا په لور دي

ثنا او صفت به ستا لا زیات کومه

۱۵ بیانوي به زما ژبه د ستا نیک کارونه

ستا د نجات باره کې ټوله ورځ به کړي خبرې

که څه هم دی زما د پوهې څخه لوړ دغه کار

۱۶ زه به ځمه په قدرت د څښتن تعالی

زه به اعلان ستا د عدالت کوم، یوازې ستا

۱۷ د ماشومتوب نه دې تعلیم راکړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه لا تراوسه بیانوم ستا عجیبه کارونه

۱۸ اوس چې زه زوړ شوم او ویښتان مې سپین شول

لاس رانه وانخلې ای خدایه

ترڅو خبر کړمه دا نسل او نور ټول نسلونه

ستا د قوت او ستا د زوره څخه

۱۹ ای خدایه، ستا عدالت رسي تر اسمانه پورې

تا کړي لوی کارونه

نشته څوک ستا په مثل

۲۰ تا تکلیفونه کړاوونه په ما راوستل

خو ته به بېرته راته راکړې قوت

ما به راوباسې د ځمکې د تل

۲۱ ما به سرلوړی کړې له مخکې نه هم

ماته به بېرته تسلي راکړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ زه به د چنګ په وهلو ستا صفت کړمه

ځکه چې ته يې وفادار زما خدايه

ای د اسراييلو سپېڅلی خدايه

زه به په رباب به تاته وايمه سندره

۲۳ زه درته وبه وهم د خوشحالۍ چيغې

زه به سندرې درته وايمه د زړه له کومې

ځکه چې تا راته نجات راکړی

۲۴ ستا د عدالت په هکله ټوله ورځ به زما ژبه کړي خبرې

ځکه هغو چې کړ کوښښ چې ماته راکړي ضرر

شول شرمنده او رسوا

## د پاچا دپاره دعا

(د سليمان زبور)

۷۲ ۱ خدايه ورکړه ته پاچا ته خپل انصاف

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پاچا زوی ته په برخه عدالت کړه

۲ ترڅو ستا قوم باندې په عدالت سره حکومت وکاندي

او د بې‌وزله سره وکړي انصاف

۳ غرونه به راوړي سوکالي خلکو ته

غونډۍ به راوړي د نېکۍ مېوه

۴ د قوم غریبو سره وبه کړي هغه انصاف

محتاجو خلکو ته به ورکړي نجات

او ظالمان به رېزمرېز کړي

۵ څو چې لمر او سپوږمۍ وي په دې جهان

تل ترتله د یو نسل نه تر بله

خدایه ستا ولس به ستا ځینې وېرېږي

۶ پاچا به اوسي د باران په شان چې اوري په پټیو باندې

لکه شبنه باران چې ځمکې ته اوبه ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ عادلان به وده وکړي د هغه دوران کې

ترڅو سپوږمۍ وي په اسمان کې وي به سوله هلته

٨ وبه رسیږي پاچاهي د هغه

د ختيځې بحيرې نه تر لوېديځې پورې

او د فرات له سيند نه د دنيا تر بله سره

٩ د بيابان خلک به يې په مخکې په سجده پرېوځي

دښمنان به يې راپرېوځي پړمخې خاورو باندې

١٠ پاچاهان به د ترشيش او جزيرو ورته راوړي باجونه

ورته راوړي به سوغاتونه د شيبا او د سيبا پاچاهان

١١ ټول پاچاهان به يې په مخکې خپل سرونه ټيټ کړي

او ټول قومونه به يې کاندي خدمت

١٢ چې غريب خلک ورنه کله هم کومک وغواړي

ورته نجات ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کوي مرسته د غريبو او بېکسو سره

۱۳ په ضعيفانو او محتاجو باندې رحم کوي

ځوک چې محتاج وي هغه يې ژوند بچ کوي

۱۴ خلاصوي هغوی د ظلم او د جبر

ځکه چې وينه يې قيمتي ده ورته

۱۵ عمر دې زيات وي د شاه!

ورته نصيب دې شي طلا د شيبا

دعا د خلکو دې وي تل ورسره

برکتونه دې د خدای وي همېشه ورسره

۱۶ وي دې په ځمکه د غلو پرېماني

په حاصلاتو دې تېپې پټې وي

وي دې مېوې يې د لبنان په شانتې

ښارونه ډک دې وي د خلکو ځينې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه چې ځمکې وي واښو نه ډکې

۱۷ هېڅکله هېر دې نه شي نوم د هغه

وي برقرار دې لکه لمر په شان شهرت د هغه

برکت دې ورته ورکړل شي

ټولو قومونو ته د خدای له خوا نه

هغوی به هغه مبارک وبولي

۱۸ ثنا او صفت دې وي د اسراییلو څښتن خدای ته

یوازې هغه دی چې کړي دا عجیبه کارونه

۱۹ د جلال ډک نوم د هغه دې مبارک وي همېش

ډک دې شي ټول جهان د ده په جلال

امین! امین!

۲۰ د یسي د زوی داود دعاګانې په همدې ځای کې پای ته ورسېدلې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دریم کتاب

## (زبور ۷۳–۸۹)

## د خدای عدالت

## (د اساف زبور)

## ۷۳

۱ په رښتیا چې خدای ښه دی اسراییلو سره

د هغه چا سره چې زړونه یې پاک دي

۲ خو زما په هکله دا چې

نژدې ؤ چې رانه ورک وای

د پښو د ایښودلو ځای

او زما پښې وای ښوېدلې

۳ ما ځکه وکړه بخیلي د کبرجنو سره

کله چې ما د بدکارانو بریا ولیدله

۴ هغوی هېڅکله درد لیدلی نه دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي روغ رمټ او څواکمن

۵ د نورو خلکو په شان دوی هېڅ په کړاو کې نه دي

د نورو خلکو په شان نه ځورېږي

۶ په غاړه کړی دی دوی کبر د غاړه کی په شان

او تاوتریخوالی د چپنې په شان

۷ له چاغی نه يې سترګې رډې راوتلې ښکاري

هم يې ذهنونه دي د بدو خيالاتو نه ډک

۸ په نورو خلکو پورې خاندي هغوی او بدې خبرې کوي

په خپل غرور سره دوی د تيري ګواښونه کوي

۹ هغوی دي خولې راخلاصې کړې د اسمان په ضد

په خپله ژبه يې دنيا وخوړه

۱۰ حتی تر دې چې د خدای قوم هم پيروي کړي د دوی

او څه چې وايي پرې باور هغوی په شوق کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ بدکاران وايي: «خدای به څنګه پوه شي؟

خدای تعالی به په دې پوه شي چې څه کيږي؟»

١٢ وګورئ دغه بدکاره خلک

هغوی ارام دي همېش

او ورځ په ورځ د دوی دولت زياتيږي

١٣ ايا بېځايه مې خپل زړه پاک کړی؟

لاسونه لېږې مې ساتلي له ګناه ځينې؟

١٤ زه ټوله ورځ کړول کيږم

او هر سهار راکول کيږي سزا راته

١٥ داسې خبرې که مې کړې وای نورو ته

نو زه به خاين وای ستا ولس ته

١٦ ما کوښښ کاوه چې پوه شم په دې ستونزه

خو زما دپاره دا وه ډېره سخته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ ترخو زه لاړمه ای خدایه ستا سپېڅلي کور ته

نو بیا زه پوه شومه چې څه به وي

قسمت د بدکارانو خلکو:

١٨ بې له شکه تا دي درولي هغوی

په ښويېدونکو ځايو

ترخو راولوېږي نابود شي هغوی

١٩ دوی ناڅاپه تباه کيږي

ډک دی له وېرې او وحشته د هغوی انجام

٢٠ دي هغوی د هغه خوب په شان

کوم چې هېرېږي د سهار په وخت کې

چې ته راپاڅې ای څښتنه کله

نو ته به هېر کړې هرڅه د دوی په هکله

٢١ کله چې زړه زما خفه ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما روح زخمي ؤ

۲۲ او چې زه ومه بې‌عقل او جاهل

ښکاره کېدم به تاته زه د يو حيوان په څېر

۲۳ بياهم تل تاته نژدې يم

تا مې نيولی ښي لاس

۲۴ ته لارښوونه مې کوې په مشورو خپلو

او رسوې مې ته اخر خپل پرجلال حضور ته

۲۵ په اسمان کې زما څوک دی بې له تا نه؟

په ځمکه هم پرته له تا نه بل څه نه غواړمه

۲۶ که مې زړه او بدن دواړه شي کمزوري

خو بياهم دی خدای زما د زړه قوت

او د تل دپاره به هرڅه وي زما دپاره هغه

۲۷ وګوره، چې څوک د ستا نه لېرې شي تباه به شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې به يې نابود هغوی چې تاته وفادار نه دي

۲۸ خو زما دپاره ښومره ښه ده

چې د خدای سره نژدې واوسم

ښښتن تعالی ته مې پناه وروړله

بيانوم به يې زه ټول کارونه

## د قوم د مرستې او دفاع دپاره دعا

(د اساف زبور)

# ۷۴

۱ خدايه ولې دې رد کړي يو د تل دپاره؟

ستا قهر ولې لکه اور په شان دی بل په مونږه؟

مونږه خو يو ستا د رمې پسونه

۲ ته در په ياد کړه هغه خپل قوم

چې ډېر پخوا نه غوره کړی تا خپل ځان دپاره

کوم چې تا وژغوره له غلامۍ نه چې شي ستا غوره قوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

در په یاد کړه د صهیون هغه غر

چې اوسېدلې په کې

۳ واخله قدم دې د تلپاتې کنډوالو په لوري

هرڅه چې وو عبادت ځای کې ویجاړ کړي دښمن

۴ ناري وهلې د بري ستا دښمنانو ستا سپېڅلي کور کې

خپل بیرغونه یې ودرولي دي د نښې د بریا په توګه

۵ دوی ښکارېدل د چوب شکنو په شان

چې دوی وهلې ونې په تبرونو باندې

۶ په تبرونو او جبلونو باندې

کړل یې خراب ټول د لرګو نقشونه

۷ ستا سپېڅلي کور ته یې اور واچاوه

دوی بې‌حرمت کړ هغه ځای

چې دی ستا نوم ورپوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ هغوی د ځانه سره داسې ویل:

«مونږ به بیخي هغوی له منځه یوسو»

سوځول یې په دې خاوره کې ټول د عبادت ځایونه

٩ مونږه نور ونه لیدلې ستا معجزې

پیغمبرانو نه څوک پاتې نه شو

څوک نه پوهیږي دا حالت به کړي دوام تر کومه

١٠ ترڅو به ستا دښمنان تاته خدایه پېغورونه کوي؟

بې‌حرمتي به تر ابده پورې ستا د نامه؟

١١ ولې دې مونږ ته خپل ښي لاس رانه کړ؟

وښایه ځواک دې خپل او دوی نابود کړه

١٢ خو له اوله ته پاچا یې زما ای خدایه

او تا راوړی دی خلاصون ځمکې ته

١٣ په خپل قوت سره جدا دې کړې اوبه د دریاب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په اوبو کې دې کړل مات د بلاګانو تندي

۱۴ وې همدا ته چې د بحري بلا دې سرونه مات کړل

تا په جسد د دې ماړه کړل ځناور د دښتې

۱۵ تا جاري کړلې چينې او هم خوړونه

د تل دپاره دې کړل وچ سيندونه

۱۶ شپه او ورځ دواړه ستا دي

تا ځای په ځای لمر او سپوږمی کړل خپلو ځايونو کې

۱۷ تا سرحدونه وټاکل د ځمکې

تا اوړی ژمی جوړ کړل

۱۸ خو ای ښتنته دا په ياد ساته

چې دښمنان دې کړي خندا تا پورې

او کم‌عقل خلک سپکاوی کړي تاته

۱۹ د خپل بې‌وزله قوم ژوند مه هېروه تل دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بېچاره کوترې ژوند دې ځناورو لره مه پرېږده

٢٠ تا چې کوم لوظ کړی ؤ مونږ سره

در یاد کړه هغه

ځکه چې ډک دی هر تیاره ځای

د دنیا له ظلمه

٢١ مظلومان مه پرېږده چې وشرمېږي

پرېږده چې دغه غریبان او محتاج خلک

دې ستاینه ستا د نوم وکړي

٢٢ خدایه، راپورته شه دفاع وکړه له خپله ځانه

دا یاد ساته چې کمعقلان ټوله ورځ تا پورې خندا کوي

٢٣ ته دې د خپلو مخالفینو قهرجنې چیغې مه هېروه

دا دوامداره شورماشور چې دښمنانو دی جوړ کړی ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د «مه ورانوه!» په تال یوه سندره او هم د اساف زبور)

# ۷۵

۱ مونږه ستا شکر کوو خدایه

شکر کوو مونږه ځکه چې نژدې يې راته

بیانوي خلک ستا عجیبه کارونه

۲ وايي خدای چې ما ټاکلی قضاوت دپاره وخت دی

او په انصاف سره به کړم قضاوت

۳ که څه هم هر ژوندی موجود به رپېږدي

او ځمکه به هم لړزیږي

زه به يې وساتمه ستنې ټینګې

۴ لاپو وهونکو ته دا وایم چې نه دې وهي لافې

امر کوم په بدکارانو چې غرور دې نه کړي

۵ هغوی ته وایم چې مغرور مه اوسئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سرکښی په سبب بس کړئ د غرور خبرې

۶ سرلوړي نه راځي له شرقه یا له غربه ځينې

او نه له دښتې او بیابانه ځینې

۷ بلکې دا خدای دی چې کوي قضاوت

ورکوي یو ته سرلوړي بل ته ذلت

۸ څښتن نیولې ده پیاله په لاس کې

چې کړې يې ډکه د قهر له ترخو شرابو

چې اچوي يې څښتن او ټول بدکاران يې څښي

باید يې وڅښي بدکاران تر اخري څاڅکي

۹ خو زه به هېڅکله بس نه کړمه خبرې

د یعقوب د خدای په هکله

او ورته وایمه سندرې به زه

۱۰ هغه به مات کړي ټول قوت د بدکارانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو قوت به زيات شي د نېکانو

## خدای فاتح دی

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د موسيقۍ د تار لرونکو آلو سره يوه سندره او هم د اساف زبور)

# ۷۶

۱ خدای مشهور دی يهودا کې

نوم يې عظيم په اسراييلو کې دی

۲ په اورشليم کې ده خېمه د هغه

استوګنځی يې د صهيون په غره کې

۳ تاوده غشي يې کړل مات په هغه ځای کې

هم يې سپرونه، تورې او ټولې وسلې ماتې کړې

۴ ته ځومره ډک يې له جلاله او له نوره خدايه!

ځومره له برمه ډک يې

زيات له تلپاتې غرو نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ د دښمن زړور خلک ټول تالا شول

د مرګ په خوب باندې ویده شول هغوی

نور یې نه لرله وسه چې لاسونه جګ کړي

۶ د یعقوب خدایه، تا چې کله ورټل هغوی

د دوی اسونه او سواره شول په مرګ ویده

۷ یوازې ستا نه وېرېدل په کار دي

کله چې ته په قهر یې

څوک درېدلی شي د ستا په مخکې؟

۸ تا خپل قضاوت کړ د اسمان نه اعلان

نو ځمکه وېرېدله او شوه خاموشه هغه

۹ کله چې ته خدایه راپورته قضاوت ته شولې

چې د دنیا ټول مظلومان وژغورې

۱۰ د انسانانو قهر ګرځي سبب ستا د ثنا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چې ژوندي شول پاتې ستا له غضب

هغوی به تا لره جشنونه نيسي

(۱۱) خپل څښتن خدای ته ومنئ نذرونه او هغه ورکړئ

خپل سوغاتونه راوړئ

ای ټولو خلکو، چې اوسېږئ شاوخوا د هغه

هغه دپاره چې دی ډېر هيبتناک

(۱۲) ماتوي هغه غرور د واکمنانو

په پاچاهانو د نړی راولي سخته وېره

## د مصيبت په وخت کې تسلي

(د سرود مشر يدوتون دپاره: د اساف زبور)

# ۷۷

(۱) په لوړ اواز خدای ته فرياد کومه

په لوړ اواز ورته فرياد کومه چې ماته غوږ ونيسي

(۲) زه د سختی په وخت کې کړمه څښتن ته رجوع

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه په دعا کې ټوله شپه پورته کوم لاسونه

خو زما زړه تسلي نه شي موندلی

٣ کله چې زه رایادوم خدای

نو زه زګېروي کومه

کله چې ډوب شمه خیالونو کې زه

زړه تورن کېږمه زه

٤ پټېدو ته دې پرېنښودلې سترګې زما

دومره ناارام یم چې کولای زه خبرې نه شم

٥ کومه فکر په خپل تېرو ورځو

رایادومه پخواني کلونه

٦ رایادوم خپله د شپې سندره

فکر کوم او له خپل ځانه دا پوښتنه کوم:

٧ «ایا ښښتن به مونږ نه تل دپاره لاس واخلي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا به هېڅکله هم راضي نه شي هغه زمونږ نه؟

۸ ایا زمونږ سره یې تل بس کړه تلپاتې مینه؟

خپله وعده باندې به نور هغه تل نه درېږي؟

۹ ایا خدای هېر کړل چې رحیم به اوسي؟

د خواخوږی ځای یې نیولی قهر؟»

۱۰ نو بیا مې وویل خپل ځان سره

چې «څومره دردمند یمه زه

چې خدای تعالی نور نه ښایي

خپل قدرت زمونږ دپاره»

۱۱ زه یادوم به د ستا لوی کارونه ای څښتنه

رایادوم به معجزې چې دې ښودلې پخوا

۱۲ فکر به کړم ټولو کارونو باندې تا چې کړې

زه به د ستا په زورورو عملونو باندې فکر کوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ستا تېولې لارې سپېڅلې دي اى خدايه

داسې لوى خداى بل ستا په شان نشته دى

۱۴ ته هغه خداى يې چې کوې معجزې

منځ د قومونو کې ښودلی خپل قدرت دی تا

۱۵ په خپلو متېو دې خپل قوم خلاص کړی

تا د يعقوب او د يوسف اولاده

۱۶ کله چې سرې بحيرې وليدلې اى خدايه

چې اوبو وليدې نو ووېرېدې

تل د درياب په لړزېدلو شولو

۱۷ له ورېځو ډېر په شړق باران راغی

تندر راپرېوت له اسمانه ښخه

ستا د برېښنا غشي هر خواته په ويشتلو شول

۱۸ په توفان کې ستا د تندر اواز واورېدل شو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د برېښنا په رڼا ټوله دنياګی رڼا شوه

په لړزېدو او رپېدو شوه ځمکه

۱۹ تا د درياب منځ کې قدم وواهه

پورې وتلې له ژور دريابه

خو ستا د پښو پلونه نه ښکارېدل

۲۰ لکه د شپون په شان دې بوتلو خپل قوم

په وسيله تا د موسی او هارون

## خدای او د هغه قوم

(د اساف زبور)

**۷۸** ۱ ای زما قومه، زما تعليم ته غوږ شئ

واورئ په غور زما د خولې خبرې

۲ خبرې وبه کړمه زه په مثالونو باندې

زه به رازونه کړم بيان د تېرو شويو وختو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ هغه شیان چې اورېدلي او زده کړي مو دي

هغه شیان چې مو نیکونو بیان کړي راته

٤ هغه به پټ نه ساتو خپلو اولادونو څخه

کړو به يې بیان راتلونکي نسل ته

وړ د ستایلو کارنامې او هم قدرت د څښتن

او هم کارونه عجیبه کوم چې هغه کړي دي

٥ ورکړ هغه د اسراییلو قوم ته خپل شریعت

هغه ولس چې د یعقوب نسل دی

زمونږ نیکونو ته يې وکړ حکم

چې اولادونو ته ورزده کړي هغه

٦ ترڅو راتلونکی نسل زده کړي هغه

هم هغه کوچنیان چې لا پیدا نه دي

او په خپل وار سره بیان خپل اولادونو ته کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو په دې توګه به هغوی هم توکل وکاندي خدای باندې

او هېر به نه کړي کوم کارونه چې هغه کړي دي

بلکې هغوی به اطاعت یې د حکمونو کوي

٨ او دوی به نه وي سرکښان او نافرمانه خلک

لکه د خپلو نیکه‌ګانو په شان

د چا چې زړه ټینګ باور نه درلود خدای باندې

او نه یې روح ؤ وفادار هغه ته

٩ سره له دې چې وو سمبال افرایمیان په لیندو

خو د جګړې په ورځ یې تېښته وکړه

١٠ هغوی د خدای سره خپل لوظ باندې وفا ونه کړه

هغوی انکار وکړ ویې نه منلو قانون د هغه

١١ هغوی دا هېر کړل چې هغه څه وکړل

هغه معجزې چې خدای ښودلې وې هغوی ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ په داسې حال کې چې نيکونو يې کتل

خدای معجزې ښودلې

د مصر ملک او د ٔصوعن سيمه کې

١٣ خدای په درياب کې کړله جوړه لاره

هغوی يې پورې ويستل

اوبه يې سمې د ديوال په شانتې ودرولې

١۴ د ورځې دوی ته لارښوونه يې په ورېځې کړله

او ټوله شپه به يې د اور په رڼا

١۵ هغه به دښته کې ګټونه چول

او ورکولې به يې اوبه هغوی ته

داسې پرېمانه د بحرونو په شان

١۶ هغه وېالې جوړې کړې

چې شي جارې له ګټ نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ویې بهولې اوبه

لکه سیندونو په شان

١٧ خو دوی د خدای په وړاندې دوامداره ګناهونه کول

دښته کې وکړه سرکښي یې خدای تعالی په وړاندې

١٨ هغوی قصدي په خدای کاوه ازمېښت

د خپلې خوښې د خوړو چې یې غوښتنه کړله

١٩ دوی به د خدای په ضد خبرې کړلې ویل به هغوی:

«ایا کولای شي خدای مونږ ته دسترخوان وغوړوي دښته کې؟

٢٠ دغه رښتیا دي چې خدای ګټ وواهه

او د سېلاب په شان جاري شوې اوبه

خو ایا دا هم شي کولای چې ډوډۍ راته تیاره کاندي؟

او هم ورکړي خپل قوم ته غوښه؟»

٢١ نو څښتن دوی باندې شو ډېر په قهر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کله یې واورېدې د دوی خبرې

او د یعقوب په خلاف بل شولو اور

په اسراییلو باندې یې قهر په ډېرېدلو شولو

۲۲ ځکه چې دوی په خدای ایمان نه درلود

باور یې نه درلود چې هغوی ته به خلاصون ورکړي

۲۳ خو پاس اسمان ته هغه حکم وکړ

او دروازې یې د اسمان پرانیستې

۲۴ ورته ویې لېږلو من چې دوی یې وخوري

او ویې بخښلې دوی ته د اسمان غلې

۲۵ انسان وخوړه ډوډی د فرښتو

ښومره چې دوی غوښته خدای ورکړه ورته

۲۶ له ختیځه یې راوالوزاوه باد په اسمانو کې

او په خپل قدرت یې راوړ باد له جنوبه ښخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ لکه د دوړو په خېر غوښه يې نازله کړله

مرغان ډېر زيات لکه د شګو د درياب د غاړې

٢٨ هغوی يې پرېښودل چې ولوېږي د کمپ په منځ کې

ټولو خېمو په شاوخوا باندې

٢٩ نو خلکو وخوړل او شول پرې ماړه

څه چې دوی غوښتي وو خدای ورکړل ورته

٣٠ لا پوره شوې اشتها يې نه وه

مړی د خولو يې لا خوړلې نه وه

٣١ چې شو راپورته د خدای قهر په دوی

ويې وژل د دوی قوي سړي

او کړل يې مړه د اسراييلو ځوانان

٣٢ سره له دې ټولو کارو خلکو بس نه کړه ګناه

سره له دې چې معجزې يې د هغه وليدې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو دوی بیاهم ایمان رانه وړلو هغه باندې

۳۳ نو د هغوی ورځې یې کړې ختمې خوشې

کړل یې کلونه خلاص په وېره وېره د دوی

۳۴ کله چې دوی نه به خدای ووژل ځینې کسان

هغه ته وبه کړه رجوع د هغو پاتې خلکو

هغوی توبه ویستله او سخته دعا یې کوله

۳۵ دوی ته ورياد شول چې خدای ؤ ساتونکی د دوی

چې خدای تعالی دی خلاصوونکی د دوی

۳۶ خو بیا به دوی کړه چاپلوسي په خپلو خولو هغه ته

ویل به یې دروغ ورته په خپلو ژبو

۳۷ هغه ته نه وو وفادار یې زړونه

نه وو ربښتیني د هغه لوظ ته

۳۸ خو مهربان ؤ خدای خپل قوم باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ګناه د دوی وروبخښله

او تباه يې نه کړل هغوی

په ځو ځو وار يې د خپل قهر مخه ونيوله

خپل غضب ټول يې راونه پاراوه

۳۹ هغه رایاد کړل چې هغوی دي صرف فاني انسانان

لکه د باد په شان چې لګي بېرته نه راګرځي

۴۰ هغوی په دښته کې ځو ځو ځلي

د هغه مقابل کې سرکښي وکړه

په ځو ځو وار يې په صحرا کې خفه کړی هغه!

۴۱ هغوی بيا بيا په خدای کاوه ازمېښت

سپېڅلی خدای د اسراييلو يې په تکليف کړی دی

۴۲ دوی کړلو هېر لوی قدرت د هغه

او هغه ورځ چې دوی يې خلاص له دښمنانو کړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ هغوی کړي هېرې معجزې

چې ښکاره کړې وې خدای مصر کې

د صوعن سیمه کې عجیب کارونه

۴۴ کړې يې بدلې د سیندونو او نهرونو اوبه په وینو باندې

د څښاک اوبه نه وې مصریانو سره

۴۵ په هغو باندې يې نازل کړل مچان

کړل په عذاب يې هغوی

او هم چونګښې چې يې ویجاړه کړله خاوره د دوی

۴۶ هغه نازل کړل ملخانورباندې

چې يې فصلونه وخوري

او چې تباه کړي کروندې د هغوی

۴۷ د دوی تاکونه يې په ږلۍ تباه کړل

د انځر ونې ورته ووهلې یخ باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۸ د دوی پادې یې ووهلې په ږلۍ باندې

او ووهلې یې په تندر رمې

۴۹ اور د خپل قهر یې راواستولو ورته

کړ یې نازل په هغوی غضب، قهر او مصیبت

لکه د مرګ د فرښتو په شان په دوی راغلل

۵۰ هغه خاموش نه کړلو خپل قهر

او نه یې وژغورلو ژوند د هغوی

بلکې وبا باندې اخته کړل هغوی

۵۱ ټول یې کړل مړه د مصریانو مشران زامن

د حام خېمو کې د هغوی د نارینتوب لومړنی مېوه

۵۲ بیا هغه خپل خلک راوویستل لکه پسونو په شان

دښته کې وکړه لارښوونه یې د رمې په شان

۵۳ روغ او رمټ یې هغوی بوتلل او دوی نه وېرېدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو دریاب غرق کړل دښمنان د هغوی

٥٤ خدای هغوی خپل پاک وطن ته راوستل

هغه غره ته چې نیولی یې په خپل ښي لاس ؤ

٥٥ د دوی په مخکې یې وشړل د هغه ځای قومونه

د هغوی ځمکه یې کړه تقسیم د اسراییلو قبیلو باندې

کړلو مېشته یې خپل ولس بیا د هغوی کورو کې

٥٦ خو سرکښي یې وکړه د خدای تعالی په وړاندې

هغه یې وازمایلو

قبول یې نه کړل د هغه حکمونه

٥٧ دوی یاغیان او بې‌وفا وو د نیکونو په شان

بې‌اعتباره وو هغوی کږې لیندې په شان

٥٨ خدای یې په قهر کړ خپلو کفري عبادتګاوو جوړولو باندې

خپلو بتانو عبادت باندې یې وپاراوه غیرت د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۹ خدای ډېر په قهر شو چې يې دا واورېدل

شو لاس په سر د اسراييلو څخه

۶۰ پرېښود خپل استوګنځی شيلوه کې

هغه خېمه چې اوسېده په کې هغه د انسانانو منځ کې

۶۱ دښمنانو ته يې فرصت په لاس کې ورکړ

چې صندوق د لوظ ونيسي په زوره

کومه چې نښه د قدرت او د جلال وه د ده

۶۲ هغه خپل خلک ورکړل د تورې خولې ته

او شولو په قهر خپل غوره شوي قوم ته

۶۳ ځوانان د اور خوراک شول

څوک پاتې نه شو چې ودونه وکړي پېغلو سره

۶۴ په تورو مړه شول کاهنان د دوی

او د دوی کونډو وير کولای نه شو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۵ اخر راپاڅېده څښتن لکه راويښ شي څوک له خوبه څخه

لکه قوي سړی چې مست وي په نشه د مېو

۶۶ په شا يې وتمبول خپل دښمنان

او په شرمو پټ يې کړل د تل دپاره

۶۷ خو هغه رد کړه اولاده د يوسف

غوره يې نه کړه قبيله د افرايم

۶۸ د دې په ځای يې قبيله د يهودا کړه غوره

او د صهيون غر چې ؤ ګران ورته

۶۹ هلته يې خپل سپېڅلی کور کړلو جوړ

لکه د لوړو اسمانونو په شان

هغه يې داسې قوي جوړ کړلو

لکه د ځمکې په شان

چې پايدار به اوسي تل دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷۰ خپل خدمتګار داود کړ غوره هغه

هغه يې بوتللو د مېږو د شپولونو څخه

۷۱ چې په کوم ځای کې يې ساتلې مېږې او وري

چې شي دی شپون د اولادې د يعقوب

د اسراييلو د قوم شپون چې يې دی غوره ولس

۷۲ د زړه له کومې به داود کاوه شپونتوب د هغوی

او په مهارت سره يې کړله لارښوونه د دوی

## د قوم د خلاصون دپاره دعا

(د اساف زبور)

# ۷۹

۱ ای خدايه، پردي قومونو ستا په خاوره باندې بريد کړی

بې‌حرمتي ستا د سپېڅلي کور ده کړې هغوی

او اورشليم يې بدل کړی کنډواله باندې

۲ کړل جسدونه يې د ستا د بندګانو د مرغانو خوراک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د وفادارو د بدن غوښې

شوې د ځنګل د ځناورو خوراک

٣ د اوبو په شان یې وینې بهولې ستا د خلکو

ټول اورشلیم کې بهېدلې وینې

داسې څوک نه ؤ چې یې ښخ کړي مړي

۴ د شاوخوا قومونو د پېغور شولو مونږ

مونږ پورې خاندي او په مونږ باندې ملنډې وهي

۵ ای څښتنه، ته به په مونږ باندې په قهر یې همېش؟

ترڅو بلیږي به غیرت د ستا لکه د اور په شان؟

۶ قهر نازل دې کړه ته هغو قومونو باندې چې تا نه پېژني

په هغو پاچاهیو باندې چې ستا نوم نه اخلي

۷ ځکه چې دوی ده قتل کړې د یعقوب اولاده

هم تباه کړی یې هېواد د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ مه راکوه مونږ ته سزا خپلو نیکونو د ګناه په خاطر

زمونږ په حال باندې زر رحم وکړه

ځکه چې ډېر خوار او زار شوي یو مونږ

۹ ای خدایه، ای زمونږ ژغورونکیه خدایه

مونږه سره مرسته وکړه د خپل نوم د جلال په خاطر

ګناهونه زمونږ معاف کړه نجات راکړه

د خپل نوم په خاطر

۱۰ ولې قومونه مونږ نه وکړي دا سوال

چې ستاسو خدای چېرته دی؟

پرېږده مونږووینو چې ته هغو قومونو نه بدل واخلې

په دې خاطر چې هغوی ستا د خادمانو بهولې وینې

۱۱ د بندیانو زګېروي واوره

څوک چې په مرګ محکوم دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړه ته ازاد هغوی په خپل لوی قدرت

۱۲ اووه چنده ورکړه ته سزا هغوی ته ای څښتنه

هغو قومونو ګاونډیو ته چې ستا یې سپکاوی کړی دی

۱۳ نو بیا به مونږه چې یو ستا قوم، ستا د رمې پسونه

کړو همېشه به مونږ مننه ستا نه

نسل په نسل به کوو مونږه ستاینه د ستا

## بېرته پخواني حالت ته د اسراییلو د راوستلو دپاره دعا

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: «د سوسن د ګل» په تال د اساف شاهدي او هم زبور)

# ۸۰

۱ ای د اسراییلو شپونه ته مونږ ته غوږ ونیسه

ای چې د یوسف د قبیلې کړې لارښوونه د رمې په څېر

ته په خپل تخت ناست یې پاس په سر د اسماني مخلوق

خپل جلال دې راښکاره کړه

۲ ځان دې ښکاره خپل قبیلو ته کړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یعنې د افرایم، بنیامین او منسي قبیلې ته

قدرت دې خپل مونږ ته راوښایه ته

راشه او خلاص کړه مونږه!

٣ مونږ بېرته راوله خپل حال ته خدایه!

په ورین تندي وګوره مونږ ته

چې خلاص شو مونږه

٤ ای مطلق قادر څښتنه خدایه

ته به ترڅو پورې په قهر یې خپل قوم باندې

او نه به اورې دعاګانې دې د خپلو خلکو؟

٥ د ډوډۍ په ځای خوراک دې کړلو اوښکې د دوی

په دوی دې وڅښلو د اوښکو ډک جام

٦ تا مونږ د خپلو ګاونډیانو د خندا کړلو

وهي ملنډې دښمنان زمونږ په مونږ باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ مونږ بېرته راوله خپل حال ته

ای مطلق قادره خدایه!

په ورین تندي وګوره مونږ ته

چې خلاص شو مونږه

٨ د تاک په شان دې خپل قوم وویسته د مصر څخه

تا وشړل نور اقوام

وکرل دوی دې د هغوی په ځای کې

٩ تا هغه ځمکه کړله پاکه ورته

وځغلولې هغه ځای کې یې ریښې ژورې

ورباندې ډکه شوله ټوله ځمکه

١٠ شول غرونه ټول یې پټ په سیورې باندې

د سبر غټې ونې راوستې شاخونو یې تر سیورې لاندې

١١ مدیترانې تر بحیرې پورې یې لاړې ښانګې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او شولې خېرې د فرات تر سينده

١٢ ولې دې وران کړل دېوالونه شاوخوا د هغه؟

اوس چې هرڅوک ورنه تېرېږي

نو راشکوي ترې انګور

١٣ وحشي خوګان لاندې کوي يې ترپښو

په کې څرېږي ټول وحشي ځناور

١٤ مطلق قادر خدايه راواړوه مخ!

ته له اسمانه مونږ ته ښکته وګوره

راشه او وساته خپل قوم دې خدايه

١٥ راشه او وساته نيالګی کوم چې کرلی دی تا

دغه ځوان تاک چې قوي کړی دی تا

١٦ هغه ته اور دی اچولی دښمنانو زمونږ

او راچپه کړی يې دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ته وګوره په قهر او برباد کړه هغوی!

۱۷ نو ته قوي کړه هغه کس چې ورسره مینه کوې

هغه څوک چې غوره کړی دی تا

۱۸ بیا به هېڅکله تا نه مونږه خپل مخ نه اړوو

ته مونږ ژوندي وساته چې ستا ستاینه وکړو

۱۹ مونږ بېرته راوله خپل حال ته

ای مطلق قادر څښتنه خدایه!

په ورین تندي وګوره مونږ ته

چې خلاص شو مونږه

## د اختر سندره

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د جت د ښار په تال د اساف زبور)

# ۸۱

۱ خدای ته سندرې د خوښۍ ووایئ چې دی قوت زمونږه

د خوشحالۍ ووهئ چیغې د یعقوب خدای ته!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ سازونه پیل کړئ او چمبې ووهئ

وغږوئ د خوشحالۍ ساز

په ربابونو او چنګونو سره

۳ د اختر دپاره ووهئ سرنی

په هغه وخت کې چې شي میاشت نوې

او په داسې وخت کې چې پوره شي سپوږمۍ

۴ دا یو قانون دی اسراییلو کې

دا دی یو حکم د یعقوب د خدای

۵ هغه جوړ کړ یو قانون یوسف دپاره

چې کله یې وکړه حمله د مصر خاوره باندې

یو ناآشنا اواز مې واورېد چې ویل یې داسې:

۶ «ستاسو اوږو نه مې اوچت کړل درانه بارونه

او تاسو مې خلاص کړئ له درندو کارونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ کله چې تاسو وئ تکلیف کې اخته

ومو کړ ماته فریاد او تاسو مې وژغورلئ

له تندریځې وریځې در مې کړ ځواب درته

ومې ازمایلئ تاسو د مریبه د چینو څنګ کې

۸ ای زما قومه واورئ زه درکومه اخطار!

ای اسراییلو کاشکې تاسو ماته غوږ ونیسئ!

۹ پردی خدای دې ستاسو منځ کې نه وي

سجده ونه کړئ بېګانه خدای ته

۱۰ زه څښتن خدای یم ستاسو

چې مې د مصر نه راوویستلئ

خلاصې مو خولې کړئ زه به ماړه کړم تاسو

۱۱ خو زما قوم ماته غوږ ونه نیوه

او اطاعت ونه کړ اسراییلیانو زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ نو ځکه پرېښودل مې دوی

د خپل سخت زړه عملونو لره

چې وي روان په خواهشاتو د نفسونو پسې

١٣ کاشکې خپل قوم مې راته غوږ ونیسي

اسراییل کاشکې زما په لاره لاړ شي

١۴ زه به زر ماتې ورکړم د هغوی دښمن ته

او رقیبانو د هغوی باندې به

پورته کړم خپل لاس

١۵ چا چې نفرت کاوه له ما نه

زما په مخکې به ټیټ کړي

سرونه خپل له وېرې ځیني

دوی تر ابده به سزا وویني

١۶ خو تاسو ته به درکړم د ښو غنمو خوراک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تاسو ماړه به کړمه د ځنګل په شاتو»

## خدای تر ټولو لوی واکمن

(د اساف زبور)

# ۸۲

۱ خدای دی ناست په اسماني دربار کې

نورو قومونو د خدایانو ترمنځ کړي قضاوت

۲ «بې‌انصافۍ سره ترڅو به تاسو کړئ قضاوت

او د بدکارو طرفداري به کوئ؟

۳ د غریبانو یتیمانو د حقونو نه ساتنه وکړئ

کوئ انصاف د محتاجانو او بې‌وزلو سره

۴ خلاص کړئ بې‌وزله او غریب انسانان

د شریرانو د منګولو څخه خلاص کړئ هغوی»

۵ څومره جاهل، څومره کم‌عقل دي هغوی!

دوی دي بالکل فاسدان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ځمکې مخ نه دی ورک شوی انصاف

٦ ما ویل: «تاسو خو خدایان یئ

ټول د خدای تعالی بچیان یئ

٧ خو مړه به شئ د انسانانو په شان

ژوند به مو ختم شي د نورو واکمنانو په شان»

٨ خدایه راپاڅه د دې ځمکې عدالت وکړه

د ټولو قومونو د اختیار خاوند یې

## د اسراییلو د دښمنانو د ماتې دپاره دعا

(یوه سندره او هم د اساف زبور)

# ٨٣

١ ای خدایه، مه پاتې کېږه ته چوپ

مه پاتې کېږه غلی او مه پاتې کېږه ارام

٢ ګوره! ستا دښمنان دي د بلوا حال کې

څوک چې کرکه کوي ستا نه پورته کړي يې دي سرونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ د ستا د قوم په وړاندې پلانونه د ټګۍ جوړوي

د هغه ولس په ضد چې لرې ته ورسره مينه

دوی د هغوی په وړاندې دسيسې جوړوي

۴ هغوی وايي: «راځئ تباه يې کړو چې قوم يې ورک شي

ترڅو چې نوم د اسراييلو تل دپاره هېر شي»

۵ په خپل پلان کې سره جوړ دي هغوی

ستا مقابل کې يې تړون کړی دی

۶ د ادوم او اسماعيليانو قوم

د موآبيانو، هاجريانو قوم

۷ د جباليانو، عمونيانو، عماليق قومونه

د فلسطين او د صور قومونه

۸ د آشوريانو ولس هم دی مل شوی د هغوی سره

او قوي مټ دی هغوی د اولادې د لوط

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ دوی سره داسې عمل وکړه

لکه چې شنګه دې ؤ کړی مديانيانو سره

او د سيسرا او هم يابين سره په غاړه د قيشون د سيند

۱۰ لاړل له منځه په عين‌دور کې دوی

شول جسدونه يې په ځمکه لکه د سرې په شان

۱۱ له مشرانو سره يې داسې عمل وکړه

لکه چې کړی دې غراب او هم د زيب سره ؤ

ته ماتې ورکړه د هغوی ټولو حاکمانو ته

لکه چې شنګه دې ورکړې وه زبح او هم صلمونع لره

۱۲ ځکه چې دوی وويل: «وبه نيسو ځان دپاره

هغه ځړځايونه چې د خدای دي»

۱۳ د بوړبوړکۍ په شان يې وشينده ای خدايه

لکه د بوسو چې يې باد بادوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ لکه په اور باندې چې سوځي ځنګل

لکه لمبو باندې چې سوځي غرونه

۱۵ په خپل توفان باندې دوی وځغلوه

ته هغوی وویروه خپلو سختو بادونو باندې

۱۶ د دوی مخونه په شرمونو پټ کړه

ترڅو تسلیم شي هغوی ای څښتنه ستا قدرت ته

۱۷ وي دې رسوا هغوی او تل دې په ویره کې وي

او په ذلت کې دې هغوی شي هلاک

۱۸ هغوی دې پوه شي چې یوازې ته یې

چې دې نوم دی څښتن

یې خدای تعالی ته د ټولې ځمکې

د خدای د کور سره مینه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د جت د ښار په تال د قورح د طايفې زبور)

# ۸۴ ① اى مطلق قادر خښتنه

خومره زړه وړونکى دى ستا د اوسېدلو ځاى

② خومره مې زړه غواړي چې واوسم هلته

خښتن دربار کې اوسېدو پسې مې چوي زړګى

زه ژوندي خداى ته په خپل ټول زړه او ځان

چيغې د خوښۍ وهمه

③ د قربانۍ د ځايونو په خوا کې دې

چڼچڼو، توتکيو ځالې جوړې کړې ځان ته

او توتکۍ په کې بچې ساتې خپل

مطلق قادر خښتنه، زما پاچا او زما خدايه

④ هغوى خومره بختور دي چې اوسيږي ستا په کور کې

او تل سندرې د ثنا ستا وايي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ هغوی خومره بختور دي چې د ستا نه قوت مومي

څوک لري دا شوق چې د صهیون غره ته سفر وکړي

۶ د بکا د وچې درې څخه چې دوی تېرېږي

نو له هغه ځای څخه چینې جوړېږي

باران د مني ډکوي یې برکتونو باندې

۷ د دوی طاقت سفر کولو سره لا زیاتیږي

او د دوی هر یو په صهیون کې حاضرېږي خدای ته

۸ ای څښتنه ای مطلق قادره خدایه، واوره دعا زما!

ای د یعقوب خدایه، ته ماته غوږ ونیسه!

۹ ای خدایه، زمونږ پاچا ته چې مو سپر دی برکت ورکړه

هغه پاچا چې تا په خپله غوره کړی

۱۰ د یوې ورځې تېرول ستا دربار کې

بهتر دي بل ځای کې له زرو ورځو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تش دربدل د خپل خدای کور د دروازې مخې ته

د بدکارانو په خېمو کې اوسېدو څخه بهتر ګڼمه

۱۱ څښتن سپر دی زمونږ او ځلیږي لکه د لمر په شان

هغه برکت راکوي مونږ ته په فضل او عزت

نه سپموي هیڅ ښه شی له هغو څخه

د چا چې لارې وي بې‌داغه لارې

۱۲ ای مطلق قادر څښتنه

څومره بختور دی هغه کس چې په تا باندې توکل کوي

## د قوم د هوساینې دپاره دعا

## (د سرود ویونکو د مشر دپاره: د قورح د طایفې زبور)

# ۸۵

۱ ای څښتنه تا په خپله خاوره رحم وکړ

او یوځل بیا دې رابېدار کړ د یعقوب قسمت

۲ ودې بخښلې د خپل قوم بدی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرده دې واچوله په ټولو ګناهونو د دوی

٣ تېر شولې ته له خپل ټول غضبه

د خپل قهر اور دې سوړ کړ

٤ ای زمونږ خلاصوونکیه خدایه

مونږه بېرته په خپل حال کړه

او خپل غضب زمونږ نه لېرې کړه ته

٥ ایا ته به خفه یې تل زمونږ څخه؟

ایا وبه غزوې خپل قهر د یو نسل نه بل نسل ته؟

٦ ایا ته به مونږ ته بیا قوت رانه کړې

ترڅو ستا قوم خوشحالي وکړي ستا له امله؟

٧ ښبنتنه، مونږ ته دې وښایه تلپاتې مینه

او مونږ ته راکړه خلاصون

٨ ښبنتن خدای چې هرڅه وایي ورته به نیسمه غوږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وعده کوي د سولې خپل وفادار ولس سره

خو دوی دې بیا نه راګرځي د حماقت لارو ته

۹ بېشکه ور به کړي نجات هغوی ته څوک چې ترې وېره لري

چې پاتې شي د هغه جلال زمونږ په خاوره کې

۱۰ څنګه چې دوه تنه یو بل سره ګوري

داسې تلپاتې مینه او وفا به سره هم وګوري

څنګه چې یو تن بل تن ښکلوي

داسې عدالت او سوله به هم یو بل ښکل کړي

۱۱ راپورته کیږي وفا ځمکې نه

نېکي راګوري پاس له اسمانه څخه

۱۲ ښه شیان مونږ ته راکوي به بې له شکه څښتن

ورکوي ښه حاصلات به زمونږ ځمکه

۱۳ عدالت به وي روان د څښتن مخکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیاروي به لار د هغه قدمونو ته

## د ژغورنې دپاره دعا

(د داود دعا)

# ۸۶

۱ ای څښتنه سوال مې واوره او قبول یې کړه

ځکه چې زه یمه کمزوری حاجتمند یمه زه

۲ له مرګ مې وساته ته ځکه چې یمه وفادار تاته

ای زما خدایه، ته مې وژغوره

ځکه چې زه ستا خدمتګار یم او په تا باندې باور لرمه

۳ ای څښتنه، په ما رحم وکړه

ځکه تاته کړم فریاد ټوله ورځ

۴ خپل خادم دې کړه خوشحاله

ځکه ستا درګاه ته زه دعا کومه

۵ ای څښتنه نېک یې ته بخښونکی یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه چا سره کوې مینه تلپاتې

چې کړي سوال درخخه

۶ ای څښتنه واوره ته دعا زما

زما د مرستې زارۍ واوره

۷ زه فریاد کومه تاته سخته ورځ کې

ځکه چې ته مې دعاګانو ته ځواب ورکوې

۸ ای څښتنه بل څوک نشته ستا په مثل معبودانو د دنیا کې

تا چې کړي کوم کارونه بل څوک نه یې شي کولای

۹ چې پیدا کړي دي تا ټول قومونه

تاته به راشي او سجده به وکړي

او هم به ستا نوم ته جلال ورکړي

۱۰ دا چې ته لوی او کوې ته عجیبه کارونه

نو همدا ته یوازېنی خدای یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ ای څښتنه وښایه ماته دې ته خپله لاره
چې زه د ستا ربښتینولی کې قدم پورته کړمه
او داسې زړه راکړه چې وېره وکړمه ستا له نومه
١٢ ای څښتنه، ای زما خدایه
د زړه له کومې به کړم ستا صفت
د تل دپاره به ستا نوم ته زه جلال ورکوم
١٣ ځکه چې ستا مینه ده عظیمه ماته
د قبر تل نه دې ژغورلی یم زه
١٤ ای خدایه، په ما حمله کوي مغروره خلک
یوه ظالمه ډله هڅه کړي چې ومې وژني
هماغه ډله ده چې نه لري د ستا پروا
١٥ خو ای څښتنه، ته رحیم او مهربانه خدای یې
نه په قهرېږې زر ته ډېره مینه او وفا کوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ ای څښتنه نظر وکړه زما په لوري په ما رحم وکړه

خپل ځواک دې راکړه او ما وژغوره

داسې خدمت دې زه کومه چې مې مور کړی دی

۱۷ راته دې ننبه د نېکۍ وښایه ای څښتنه

ما سره مرسته وکړه ماته تسلي راکړه

وبه شرمېږي دښمنان زما چې ووینې دا

## د اورشلیم په صفت کې

(د قورح د طایفې زبور چې سندره هم ده.)

# ۸۷

۱ څښتن خپل ښار ودان کړ

چې يې بنیاد دی ایښی په سپېڅلو تپو

۲ د اسراییلو په ټولو ښارونو کې

د صهیون ښار څښتن ته ګران دی له هره ځایه

۳ ای د خدای ښاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې کيږي ستا د جلال په هکله:

۴ «مصريان او بابليان به وشمېرم

هغو قومونو کې چې پېژني ما

او دغه راز د فلسطين، صور او ايتوپيا خلک

دي دوی ټول د اورشليم ښاريان»

۵ د صهيون په هکله داسې به ويل کيږي:

«هغوی ټول به حق د هغه ښار د تابعيت ولري

خدای تعالی به ټينګ وساتي دا ښار»

۶ ښبتن به ثبت کړي د قومونو لست

هغوی ټول به کړي حساب

د صهيون په اوسېدونکو کې

۷ سندرغاړي او اتڼ کوونکي به دا وايي:

«دی صهيون زما اصلي ځای»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(يوه سندره او هم د قورح د طايفې زبور. د سرود ويونکو د مشر دپاره: د مهلات لعنوت له مخې د هيمان ازراحي زبور)

# ۸۸

١ اى څښتن خدايه خلاصوونکيه زما

ټوله ورځ تاته زاري کړم

د شپې ستا حضور ته ژاړم

٢ کړه قبوله زما دعا

غوږ مې ونيسه زاريو ته!

٣ ډېر تکليفونه دي راغلي په ما

زه يم ګور ته نژدې شوى

٤ خلک وايي راته داسې

يې ولاړ د ګور په غاړه

او زه يم کمزورى شوى

٥ زه په مړو کې حساب يم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د وژل شویو په شان

چې وي پراته قبر کې

لکه هغوی چې تا هېر کړي

او نور ورسره نه کړې مرسته

٦ زه دې په کنده کې د قبر غورځولی یمه

تورې تیارې او ژور ځای کې اچولی یمه

٧ دا ستا غضب راباندې درond پروت دی

ټولو څپو ستا لاندې کړی یمه

٨ زما نه لېرې کړل دوستان دې زما

د کرکې وړ دې کړم نظر کې د دوی

داسې راګېر یم چې د تېښتې لاره نه لرمه

٩ کمزورې شوې مې دي سترګې له ډېره غمه څخه

څښتنه هره ورځ زارې کړم تاته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورته کوم درته لاسونه د دعا دپاره

۱۰ ایا ته کړې معجزې مړو دپاره؟

ایا مړي پورته کیږي ستا ثنا ته؟

۱۱ ایا په قبر کې کېدای شي بیان

ستا د تلپاتې مینې؟

او یا بیان ستا د وفا د تباهۍ کنده کې؟

۱۲ ایا ښکاریږي معجزې دې په تیاره مکان کې

او یا ستا نېکي د هیرېدو په ځای کې؟

۱۳ خو ای څښتنه، کړم زاري د مرستې تاته

او هر سهار دعا ستا حضور ته

۱۴ ما ردوې ولې څښتنه؟

زما نه ولې پټوې خپل مخ؟

۱۵ له هغه وخته چې لا ځوان ومه زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ومه اخته په کړاوونو او نژدې وم مرګ ته

په سبب دې د کارونو وېروونکو

زه بې‌وسه یمه

۱۶ سخت غضب دې کړمه غرق

ستا بریدونو وېروونکو تباه کړی یمه

۱۷ لکه سېلاب په شان راتاو وي رانه ټوله ورځ

راګېروي مې د هر لوري څخه

۱۸ راڅخه لېرې دې خپلوان او هم دوستان کړل زما

یوازې مل ده راسره تیاره

## د ملي کړاو په مهال سندره

## (د ازراحي ایتان زبور)

**۸۹** ۱ ای څښتنه، زه به تل ستا د تلپاتې مینې وایمه سندره

په خپله خوله ټولو نسلونو ته به ستا وفاداري بیان کړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ما ویل چې ستا مینه به شي پاتې تل دپاره
وفاداري به دې وي ټینګه اسمانونو په شان
۳ وویل تا چې ما لوظ کړی دی داود سره چې ما خوښ کړی
او خپل خادم داود سره مې کړی دا قسم دی:
۴ «اولاده ستا به کوي پاچاهي تل
ستا پاچاهي به د یو نسل نه بل نسله پورې ټینګه ساتم»
۵ ښتنه، ستا عجیب کارونه اسمانونه ستايي
د فرښتو ډله دې ستايي وفا
۶ ای ښتنه، اسمانونو کې څوک نشته ستا په شان
برابر نه دی هیڅ اسماني مخلوق د ستا سره
۷ د فرښتو غونډه کې ډېر زیات هیبتناک یې ته
د هغو ټولو نه چې ستا په شاوخوا کې دي
ته یې ډېر لوی او وېروونکی یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ ای مطلق قادر ښبتنه خدایه

هېڅوک نه دی زورور د ستا په شان

ښبتنه، ته یې وفادار ټولو کارونو کې دې

۹ ته حکومت کوې غړمبېدونکي دریاب باندې

چې شي راپورته د هغه څپې اراموې یې ته

۱۰ ټوټې ټوټې دې کړه بلا د دریاب هم دې مړه کړه هغه

په قوي متو تار په تار دې دښمنان کړل خپل

۱۱ دي اسمانونه ستا هم ځمکه د ستا

تا جوړه کړې نړۍ او هغې کې ټول شیان

۱۲ تا پیدا کړي دي شمال او جنوب دواړه

د تابور او حرمون غرونه

په خوشحالی سره ستا نوم ستایي

۱۳ ستا متې ځواکمن دی!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زورور دی ستا لاس

ښي لاس برلاسی دی ستا!

۱۴ ستا د شاهی بنیاد دی پروت

په عدالت او په انصاف باندې

تلپاتې مینه او وفا د ستا په مخکې درومي

۱۵ هغه خلک بختور دي

چې عبادت کوي د ستا د خوشحالی په چیغو

چې تېروي ژوندون رڼا کې د احسان د ستا

۱۶ هغوی کوي خوشحالي ستا په خاطر ټوله ورځ

ستا د نېکی په خاطر د ستا ستاینه کوي

۱۷ ته په خپله یې د دوی جلال او قوت

راکوې مونږ ته بری په خپل احسان

۱۸ ښښتن زمونږه سپر یعنې پاچا دی غوره کړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلي خدای د اسراییلو مونږ ته خپل پاچا راکړی

## د داود سره د خدای وعده

۱۹ تا ډېر پخوا خپلو وفادارو خادمانو ته رویا کې ویلي وو:

«یو جنګیالي سره مې مرسته کړې

او غوره کړی مې دی د قوم څخه

او سرلوړی کړی مې دی

۲۰ ما خپل خدمتګار داود موندلی دی

په خپلو سپېڅلو تېلو مې غوړ کړی دی

۲۱ زه په خپل لاس به هغه ټینګ ساتم

او زما مټ به هم ځواکمن کړي هغه

۲۲ کله به هم دښمنان نه شي بریالي په هغه

او بدکاران به ظلم ونه کړي په هغه باندې

۲۳ زه به مات کړم د هغه دښمنان د هغه مخکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به ووژنم چې ده څخه نفرت کوي

۲۴ زما وفا او تلپاتې مینه به وي هغه سره

زما د نوم په وسیله به شي سرلوړی هغه

۲۵ په دریاب به واک اختیار د هغه لاس ته ورکړم

ښي لاس به کړمه اوږد تر سیندونو پورې

۲۶ هغه به ماته اواز وکړي: ته زما پلار او خدای یې

هم مې ساتونکی او ژغورونکی یې ته

۲۷ ورته به ورکړم مرتبه د مشر زوی

ټولو شاهانو د نړی کې به یې لوړ وي موقف

۲۸ زه تر ابده خپله مینه به ساتم ورسره

او زما لوظ به وي تل ټینګ ورسره

۲۹ اولاده به یې شاهان کړم تل ترتله

ترڅو چې پاتې اسمانونه وي ساتم به یې تخت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ سرغړونه که يې وکړي اولاده زما له قانونه څخه

او چلند زما د حکمونو سره سم ونه کړي

۳۱ که چېرې دوی زما قانون مات کړي

او عمل ونه کړي په حکمونو زما

۳۲ نو دوی ته به ورکړم په کوتک د ګناهونو سزا

او د بديو سزا به ورکړم په قمچينه باندې

۳۳ خو لاس به وانخلمه د خپلې دوامدارې مينې

زه له داوده څخه

او نه به کله ورسره بېوفايي وکړمه

۳۴ خپل لوظ به مات نه کړمه زه له هغه سره

او خپلې خبرې نه به کله هم وانه وړمه زه

۳۵ يوځل خوړلی مې قسم په خپل سپېڅلي نوم

زه به داود ته هېڅ وخت دروغ نه وايم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ وي به موجوده اولاده د هغه تل دپاره

او پاچاهي به يې تل موجوده وي

د لمر په شان زما په وړاندې

۳۷ دا به سپوږمۍ په شان تلپاتې وي

چې ده اسمان کې وفاداره ګواه»

## د پاچا په ماتې باندې وير

۳۸ خو ای څښتنه، ډېر په قهر يې هغه پاچا ته

چې دې په خپله غوره کړی ؤ

او اوس پرېښی او رد کړی دی تا

۳۹ تا خپل خادم سره خپل لوظ مات کړی

او غورځولی تا يې تاج په ځمکه

او هم بې‌حرمته کړی دی تا

۴۰ ټول ديوالونه دې د ښار رانړولي ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي کلاګاني اړولې کنډوالو باندې دي

۴۱ ټول مال او جايداد يې لارويانو تالا کړی دی

ورپورې ټولو ګاونډيانو يې خندا کړې ده

۴۲ تا ورکړی دی برې دښمنانو د هغه ته

هغوی ټول دې په هغه دي خوشحال کړي

۴۳ تا پڅه کړې د هغه توره ده

نه دې جګړه کې ده ورکړې مرسته

۴۴ له منځه وړی دې دی د هغه شان او شوکت

او راويشتلی دې دی د هغه تخت په ځمکه

۴۵ خپل وخت نه مخکې دې زوړ کړی هغه

او په شرمونو دې پټ کړی هغه

## د خلاصون دپاره دعا

۴۶ ته به ترڅو پورې خپل ځان پټوې ای څښتنه؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته تر ابده به خپل ځان پټوې؟

لکه د اور په شان بلیږي به ترڅو ستا قهر؟

۴۷ ته در په یاد کړه زما عمر چې دی څومره لنډ

دا هم په یاد کړه چې مونږ ټول دې بې‌مقصده یو خلق کړي

۴۸ څوک شي کولای چې ژوندی وي تل او هیڅ مړ نه شي؟

څوک شي کولای چې ځان بچ کړي له منګولو د ګور؟

۴۹ څه شوه څښتنه، ستا تلپاتې پخوانی مینه؟

هغه قسم څه شو چې تا کړی ؤ

وفاداری کې د داود سره تا؟

۵۰ څومره ملنډې وهي خلک ګوره ستا په خادم

دا چې زه څنګه سپکاوی د نورو قومونو زغمم

۵۱ ای څښتنه، ستا دښمنان وهي ملنډې

په هغه پاچا چې غوره کړی دی تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرته چې ځې وهې ملنډې پرې

٥٢ ثنا صفت دې وي څښتن ته تر ابده پورې!

امين! امين!

## څلورم کتاب

(زبور ۹۰-۱۰۶)

## خدای او فاني انسان

(د خدای د نبي موسی دعا)

۹۰ ۱ تل پناه ځای يې زمونږ د ټولو نسلو ای څښتنه

۲ مخکې له دې نه چې ته غرونه او يا ځمکه

او نړۍ پيدا کړې

ته له ازله تر ابده خدای يې

۳ ته انسان بېرته ورولې خاورو ته، وايې ورته:

«خاورو ته ستون شه ای فاني انسانه»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ستا په نظر کې زر کلونه داسې ښکاري

لکه يوه ورځ د پرون ورځې په شان

چې تېره شوې وي او يا لکه د شپې د پهرې وار

۵ ته ناڅاپه انسانان له منځه وړې

د هغوی عمر لنډ وي لکه د خوب په شان

يا د هغو واښو په شان چې ځي له منځه زر

۶ چې راشنه کيږي په سهار کې او غټيږي هم

بيا مړاوي کيږي په ماښام کې او وچيږي هم

۷ بربادوي مونږ ستا قهر

سخت وېروي مونږه ستا غضب

۸ تا خپلې مخې ته دي ايښې ګناهونه زمونږه

پټ ګناهونه زمونږ ښکاره دي تاته

۹ عمر تېريږي زمونږ ستا په غضب کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په اوسېلو کې مو ژوند پای مومي

۱۰ زمونږه عمر به اويا کاله وي

او يا اتيا د ښې روغتيا په سبب

خو هغه ټول د کړاوونو او دردونو سره

مونږ فنا کېږو هغه زر تېرېږي

۱۱ څوک ستا د قهر په قوت پوهېږي؟

څوک ستا په غضب پوهېږي او وېرېږي ترې؟

ځکه چې ستا نه بايدووېرېږي

۱۲ کړه مو ته پوه چې څومره عمر لرو

ترڅو شو مونږه هوښيار

۱۳ ای څښتنه، وي به ستا قهر تر کومه؟

بس کړه، په خپلو خادمانو دې زړه وسوځه!

۱۴ ستا په تلپاتې مينه هر سهار ماړه کړه مونږه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو خپل ټول عمر کړو تېر

په خوشحالۍ او په سندرو باندې

۱۵ اوس مونږ ته دومره خوشحالي راکړه

لکه راکړي کړاوونه دې وو څومره ورځې

څومره کلونه چې راکړې دې وې مونږ ته ستونزې

۱۶ پرېږده چې ووینې ستا بندګان ستا زورور کارونه

او اولاده زمونږه وګوري دا ستا لویي

۱۷ اې زمونږ څښتنه خدایه

وي ستا ښېګڼې دې زمونږه سره

ټولو کارونو کې بریا راکړه

هو، مونږ ته بریا راکړه

## خدای زمونږ ساتونکی

# ۹۱

۱ څوک چې اوسېږي په پناه د خدای تعالی کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به ژوند تېر کړي

د خدای مطلق قادر د سیوري لاندې

٢ زه به څښتن ته داسې ووایم چې

ته پناه ځای او هم کلا یې زما

او زما خدای چې توکل پرې کوم

٣ په رښتیا به څښتن خلاص کړي تاسو

د ښکاریانو د دامونو څخه

او د وژونکو ناروغیو څخه

٤ خپلو وزرونو باندې تاسو به کړي پټ هغه

تاسو به ومومئ پناه هلته

د خدای وفا به لکه سپر او دېوال ستاسو ساتنه وکړي

٥ د شپې به نه وېرېږئ تاسې له هېڅ خطره

یا د هغه غشي چې ویشتل کیږي به د ورځې له خوا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ یا هغې وبا نه چې خپرېږي به تیاره کې

نه هغې بلا نه چې وژل کوي غرمه کې

۷ که دې په خوا کې زر کسان مړه شي

او د ښي لاس سره دې لس زره

نو بیا به هم تاته ونه رسي زیان

۸ ته به یې په سترګو صرف ووینې

چې بدکارانو ته سزا ورکول کیږي څنګه

۹ دا چې ښښتن دې پناه ځای کړ خپل

او خدای تعالی دې کړلو خپله کلا

۱۰ نو هیڅ بدي به په تا رانه شي

ستا کور ته درنژدې به هیڅ کومه بلا رانه شي

۱۱ ځکه چې خدای به فرښتو خپلو ته حکم وکړي

چې چېرته ځې ته نو هغوی به ستا ساتنه کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ خپلو لاسونو کې به پورته کړي تا

چې پښه دې ونه لګي تيږه باندې

۱۳ ته به زمريان او چمچه ماران ترپښو لاندې کړې

هم داړونکي زمريان او زهرجن ماران به ترپښو لاندې کړې

۱۴ خدای وايي: «خلاصون به ورکړم هغه چاته

چې زما سره کړي مينه

وبه ساتم هغه څوک چې باور ولري په ما باندې

۱۵ کله چې ماته د زارۍ لاسونه پورته کړي نو قبلوم يې دعا

زه به ملګرى يم هغه سره په سخته کې

هم به يې ژغورم او هم ورکوم به عزت

۱۶ هغه به موړ کړمه په اوږد ژوند باندې

او خلاصون به ورکړمه زه»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(زبور او د سبت د ورځې دپاره یوه سندره)

# ۹۲

۱ ښومره ښه ده ای ښښتنه چې مونږ ستا شکر ادا کړو
خدای تعالی چې صفت وکړو ستا د نوم مونږ په سندرو کې

۲ چې هر سهار د ستا تلپاتې مینه
او هره شپه کړو بیان ستا وفا

۳ د چنګ د ساز په غړولو سره
او په نغمو د رباب

۴ خوشحاله کړی یمه ستا کارونو ای ښښتنه
د خوشحالۍ سندرې وایمه زه ستا د کارنامو په خاطر

۵ کارنامې دې ښومره لویې ستا ښښتنه
ښومره ژور دي ستا فکرونه!

۶ بې‌عقله خلک یې درک کولای نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ساده‌ګان يې نه پوهيږي په معنی باندې

۷ بدعمله که راشنه لکه وابنه شي

ټول بدکاران شي نېکبخته

خو په پای کې به تباه شي تل دپاره

۸ خو ای څښتنه، ته تل ترتله يې اوچت په ټولو

۹ ای څښتنه، دښمنان ستا

هو، دښمنان به دې هلاک شي

خواره واره به بدکاران شي ټول

۱۰ د وحشي غويي په شان

دې هسک کړي دي زما د قوت ښکرونه

په تازه تېلو دې غوړ کړی يمه

۱۱ ليدلې ماتې مې د خپلو دښمنانو ده په خپلو سترګو

په غوږو خپلو مې د هغو بدکارانو اورېدلې چيغې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې يې په ما باندې کول بريدونه

۱۲ نېکان اباد به شي او لوی به شي د ونې د خرما په شان

هم به شي غټ لکه د سبر د لبنان په شان

۱۳ په خېر د ونو کرل شويو د څښتن د کور دي

دوی به زمونږ د خدای د کور په حوېليو کې

اباد او لوی شي

۱۴ په زاړه عمر کې هم مېوه نيسي دوی

او تل تازه او شنه وي

۱۵ دا هرڅه ښايي چې عادل دی څښتن

هغه ساتونکی دی زما

بې‌انصافي هغه کې هېڅ نشته

## د څښتن پاچاهي

# ۹۳

۱ څښتن کوي پاچاهي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه اغوستې د جلال چپنه

څښتن اغوستې ده چپنه

او په قوت يې خپله ملا تړلې

په رښتيا نړۍ يې ټينګه ودرولې

هغه هيڅکله خوځېدلې نه شي

۲ اى څښتنه تخت دې قايم دى له ډېر پخوا نه

ته موجود وې له ازله

۳ راپورته شوې سېلابونه اى څښتنه!

راپورته کړې سېلابونو خپل غږ

اوچت کړې سېلابونو غړمبار دى

۴ څښتن قوي دى د درياب د شورماشور څخه

هغه قوي دى د درياب له څپو

دى زورور د اسمانونو څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ډېر باوري دي حکمونه د ستا

سپېڅلتوب دی تل ترتله ستا د کور ښایست څښتنه

## خدای د ټولې نړۍ قاضي دی

# ۹۴

۱ ای څښتنه، ته يې خدای غچ اخيستونکی

ای غچ اخيستونکيه خدايه، وښايه ته خپل جلال!

۲ ای د نړۍ قاضي راپاڅېږه ته

ورسوه د خپلو بدو عملونو په سزا مغروران!

۳ ترڅو به بدکاران ای څښتنه

بدکاران به خوشحالي کوي تر کومه؟

۴ هغوی د کبر او غرور غټې خبرې کوي

ټول بدکرداره خلک لافې وهي

۵ ستا خلک ترپښو لاندې کوي څښتنه

هغوی کړي ظلم ستا په خپلو خلکو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بل ځايي خلک او کونډې وژني

هم يتيمان قتلوي

۷ وايي هغوی چې څښتن نه ويني مونږ

نه يې پام کيږي مونږ ته د يعقوب د خدای

۸ ای د قوم بې‌عقلو خلکو پوه شئ!

کله به تاسو هوښيارېږئ ساده‌ګانو خلکو؟

۹ هغه چې مونږ ته يې راکړی دی غوږ

ايا هغه په خپله نه اوري څه؟

هغه چې سترګې پيدا کړې دي

ايا هغه په خپله نه ويني څه؟

۱۰ څوک چې په خپله سموي قومونه

نو دوی ته نه شي ورکولای سزا؟

هغه چې خپله دی استاذ د ټولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ایا نه لري په خپله پوهه؟

۱۱ ښبنتن پوهیږي د انسان په خیالو

هغه پوهیږي چې خیالونه یې باطل او پوچ دي

۱۲ بختور دی هغه څوک چې ته یې سموې، ښبنتنه

ورته تعلیم د خپل شریعت ورکوې

۱۳ ورکوې ورته ارام په سختو ورځو کې ته

ترڅو چې کنده ویستل کیږي شریرانو ته

۱۴ ځکه ښبنتن به خپل خلک نه کاندي رد

او نه به چېرته خپل ولس پرېږدي

۱۵ ترسره کیږي قضاوت به د انصاف او عدالت سره سم

او ټول نېکان به یې کوي پیروي

۱۶ څوک به زما دپاره پاڅي په خلاف د بدکارانو خلکو؟

څوک به زما دپاره ودریږي په ضد د شریرانو خلکو؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ که مرستندوی زما نه وای څښتن

نو زه به زر ومه ډوب شوی په چوپتیا د مرګي

۱۸ کله چې ما وویل: «غورځېږمه زه

څښتنه ستا تلپاتې مینې راټینګ کړمه زه»

۱۹ د زړه د زیاتو اندېښنو په منځ کې

ستا تسلۍ ماته خوښي راوړله

۲۰ هغو قاضیانو فاسدانو سره نه کړې یاري

چې د قانون په نامه بې‌انصافي کوي دوی

۲۱ چې په شریکه د نېکانو د وژلو دسیسې جوړوي

محکوموي بې‌ګناه خلک په مرګ

۲۲ خو څښتن شولو پناه ګاه زما

زما خدای زما د پټېدو دپاره کلکه کلا

۲۳ خدای به راوګرځوي بېرته هغو باندې خپلې بدۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی تباه به کړي د خپلو ګناهونو په خاطر

زمونږ څښتن خدای به تباه کړي هغوی

## څښتن ته د ثنا او صفت سندره

# ۹۵

۱ راځئ چې ووايو څښتن ته د ثنا سندرې!

راځئ چې خپل قوي ژغورونکي ته

مونږ چيغې د خوښۍ ووهو

۲ راځئ حضور ته د هغه د شکرانې سره يوځای ورشو

وکړو ستاينه په سندرو د خوښۍ د هغه

۳ ځکه څښتن لوی خدای دی

ټولو خدايانو څخه لوی پاچا دی

۴ هغه حکومت کوي په ټولې نړۍ

د ځمکې د ژورو برخو څخه

د غرو تر لوړو څوکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ دریابونه د هغه دي ځکه هغه دي پیدا کړي

ورکړی ځمکې ته یې شکل دی په خپلو لاسو

۶ راځئ چې مونږه په سجده شو عبادت وکړو

شو په ګونډو د خپل ښښتن او خپل خالق حضور کې

۷ ځکه هغه دی زمونږ خدای

مونږه یو قوم د هغه او هغه پام کوي

په مونږ باندې لکه شپونکې په شان

مونږه یو رمه د هغه چې هغه یې لارښوونه کاندي

که تاسو نن واورئ اواز د هغه:

۸ «نو مه سختوئ خپل زړونه

لکه چې ښنګه مو سخت کړي وو

په دښته د مسا او مریبه کې تاسو

۹ ستاسو نیکونو امتحان کړمه په هغه ځای کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که څه هم دوی ؤ زما عمل لیدلی

خو بیا یې هم وازمایلمه زه

١٠ زه له هغه نسل نه څلوېښت کاله بېزاره ومه

ما ویل: ‹زما نه لېرې دي د هغوی زړونه

نه غواړي عمل وکړي زما په حکمونو باندې›

١١ نو زه په قهر شوم قسم مې وخوړ:

‹دوی به هېڅکله داخل نه شي هغه هېواد ته

چېرته چې زه به ورکومه ارام›»

## خدای تر ټولو لوی پاچا

(لومړی تواریخ ۲۳:۱۶-۳۳)

# ۹۶

١ څښتن ته ووایئ یوه نوې سندره

ای ټولې نړۍ، سندره ووایئ څښتن ته تاسې

٢ څښتن ته ووایئ سندره او ستاینه یې د نوم وکړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اعلان کړئ هره ورځ دا زيری

چې نجات يې دی راکړی مونږ ته

۳ قومونو ته اعلان کړئ جلال د هغه

ټولو خلکو ته اعلان کړئ

د هغه ډېر عجيبه کارونه

۴ ځکه چې لوی دی څښتن

او ډېر لايق دی د ثنا او صفت

ټولو خدايانو نه دې زياته وېره وشي د ده

۵ نورو قومونو ټول خدايان دي بې ګټې بتان

خو څښتن دي پيدا کړي اسمانونه

۶ دی راچاپېره جلال او لويي له هغه څخه

سپېڅلی کور د هغه ډک دی له قوت او ښايست

۷ وکړئ ستاينه د څښتن په ځمکه ټولو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم ستاینه وکړئ د هغه د جلال او قدرت

٨ د ښتن د جلالي نوم ستاینه وکړئ

د هغه دربار ته راشئ او نذرانه راوړئ

٩ کړئ ښتن ته عبادت په سپېڅلې توګه

ای ټولې ځمکې ولړزېږه د هغه په مخکې

١٠ تاسو خبر کړئ ټول قومونه د نړۍ

چې دی ښتن پاچا!

نړۍ يې ټينګه درولې چې خوځېږي نه

او قضاوت به د قومونو کړي انصاف باندې

١١ پر بړده خوشحاله اسمانونه شي او ځمکه وکړي خوښي

شي درياب په غړمبار دې خپلو ټولو مخلوقاتو سره

١٢ شي دې خوشحاله پټې هم ټولو فصلونو سره

د ځنګل ټولې ونې به بيا ووهي د خوشحالۍ چيغې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٣ کله چې راشي د ځمکې قضاوت ته څښتن

نو په انصاف سره به وکړي قضاوت د نړۍ

او قضاوت د ولسونو عدالت باندې

## خدای ډېر لوی حاکم

# ۹۷

١ څښتن پاچا دی نو ای ځمکې خوښي وکړه!

ټولو ټاپوګانو خوشحالي وکړئ!

٢ ترې چاپېره دي تورې تيارې او ورېځې

اېښودل شوی دی بنياد د پاچاهۍ يې

په عدالت او په انصاف باندې

٣ اور دی روان يې مخکې

سوځوي يې دښمنان په شاوخوا کې

٤ برېښناګانې يې نړۍ رڼا کوي

ځمکه چې ويني هغه نو پرې لړزان راشي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ويلي کيږي غرونه لکه د موم په شان د ښښتن مخکې

د ټول جهان د ښښتن مخکې

۶ اسمانونه عدالت اعلانوي د هغه

او ټول قومونه يې جلالويني

۷ ټول هغه خلک چې عبادت کړي د بې‌فايدې بتانو

وياړ په عبادت چې د بتانو بې‌ارزښتو کړي

هغه به وشرميږي

ای نورو ټولو خدايانو

وکړئ ښښتن ته سجده!

۸ ای ښښتنه ستا قضاوتونو باندې

په اوريدو يې خوشحالي کوي د صهيون خلک

کوي خوښي د يهودا ښارونه

۹ ځکه چې ته يې متعال ټولې نړۍ ته ای ښښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته يې ډېر لوی له نورو ټولو خدايانو

۱۰ ای تاسو خلکو چې کوئ مينه د څښتن سره

نو کوئ کرکه له بدی څخه!

هغه خوندي ساتي د خپلو وفادارو ژوندون

هم يې له لاسه د بدکارو ژغوري

۱۱ ځليږي نور په عادلانو باندې

خوشحالي په برخه کيږي د نېکانو

۱۲ ای نېکو خلکو، خوشحالي هغو کارو ته وکړئ

کوم چې څښتن کړي دي

د هغه د سپېڅلي نوم شکر وکړئ!

## څښتن د ټولې نړی ټولواک دی

(زبور)

۹۸ ۱ څښتن ته ووايئ يوه نوې سندره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه کارونه يې عجيبه کړي دي

په خپل قدرت او خپل سپېڅلي ځواک يې

برياليتوب ترلاسه کړی هغه

۲ ښتن اعلان کړی دی خپل بری

خپل عدالت يې ښکاره کړی دی قومونو ته

۳ تلپاتې مينه او وفا يې خپله

کړله ورياده د اسراييلو قوم ته

د ځمکې يو سر نه تر بله سره

ټولو ليدلی زمونږ د خدای بری

۴ ای ټولې نړی، ښتن ته چيغې د خوښی ووهئ

د خوشحالی په سندرو يې ثنا ووايئ

۵ د رباب ساز ښتن ته وغږوئ

هم سندرې ورته ووايئ رباب سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ د سرني او د پسونو د ښکرو په اوازونو باندې

د خوشحالۍ ووهئ چيغې د څښتن

يعنې د نړۍ د پاچا حضور کې

۷ درياب دې په غړمبار شي خپلو ټولو مخلوقاتو سره

ځمکه او هرڅوک چې اوسيږي په کې

۸ سيندونه دې وپړکوي خپل لاسونه

او غرونه دې ووايي سندرې د خوښۍ يو د بله سره

د څښتن حضور کې

۹ ځکه څښتن راځي د دنيا د قضاوت دپاره

د نړۍ د خلکو قضاوت به په عدالت او په انصاف وکړي

## خدای ډېر لوی پاچا

**۹۹** ۱ پاچاهي کوي څښتن نو ودې لړزيږي د دنيا قومونه

هغه دی ناست په تخت د اسماني مخلوق دپاسه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ځمکه دې شي په لړزېدلو باندې

۲ څښتن لویي څرګندوي صهیون کې

او دی اوچت په ټولو ولسونو باندې

۳ هغوی دې ووایي ثنا د هغه د لوی او هیبتناکه نامه

ځکه چې دی هغه سپېڅلی

۴ ای ځواکمن پاچا، مینه لرې د عدالت سره ته

تا قایم کړلو انصاف

په اسراییلو کې دې کړی عدالت او نېکي

۵ ثنا او صفت وکړئ زمونږ د څښتن خدای

د تخت په مخکې یې د پښو په چوکی وکړئ سجده

ځکه چې دی هغه سپېڅلی

۶ موسی او هارون وو د هغه کاهنان

او سموییل هم د هغې ډلې ؤ چې نوم یې د څښتن یاداوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن ته یې وکړلو فریاد او هغه قبول یې کړ سوال

٧ د وریځ له منځه یې له دوی سره خبرې وکړې

هغوی ومنل احکام او قوانین د هغه

چې یې ورکړي وو هغوی ته

٨ ای ښښتنه! ای زمونږه خدایه!

تا کړ قبول د خپلو خلکو سوال

ته د هغوی بخښونکی خدای وې

سره له دې چې تا د دوی د ګناهونو سزا ورکړه دوی ته

٩ زمونږ د ښښتن خدای ثنا او صفت وکړئ

عبادت وکړئ د هغه په سپېڅلي غره باندې

ځکه سپېڅلی دی زمونږ ښښتن خدای

## د ثنا او صفت سندره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د شکر ادا کولو زبور)

# ۱۰۰

۱ ای ټولې نړۍ، څښتن ته ووهئ د خوشحالی چيغې

۲ وکړئ عبادت د څښتن خدای په خوشحالی سره

په سندرو د خوښۍ د هغه حضور ته راشئ

۳ ومنئ دا چې څښتن خدای دی

مونږ يو خلق کړي هغه او د هغه يو مونږه

مونږ يو خلک د هغه او رمه يې د څړځای يو

۴ شکر کولو سره ننوځئ د هغه دروازو ته

د هغه عبادتځای ته د ثنا سره ورننوځئ

شکر يې ادا کړئ او صفت يې د نامه وکړئ

۵ ځکه څښتن دی نېک او ده ابدي د هغه مينه

وفاداري يې ده جاري د يو نسل نه تر بله پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پاچا وعده

(د داود زبور)

# ۱۰۱

۱ زه به ووایم سندره د تلپاتې مینې او انصاف

اې څښتنه، تاته به ووایمه زه د ثنا سندره

۲ زه به کومه پام چې خپل ژوند تېر کړم بې ګناه

ته به زما مرستې ته کله راځې؟

زه به په خپل کور کې ژوند کومه په صداقت سره

۳ بدو شیانو ته کتلو نه به ږده کوم

د بې‌ایمانو د کارونو نه زه کرکه کوم

زه به هغوی سره هېڅ کار نه لرم

۴ زه به نه کړم درغلي

هېڅ کار به نه لرم بدی سره زه

۵ زه به هغوی له منځه یوسم چې په پټه کړي غیبت د نورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زغملی نه شم هغه خلک چې لرې زړونه کبرجن او مغرورې سترګې

۶ زه نېک ګڼمه هغه خلک چې وفادار دي

هغوی به پرېږدم ما سره واوسيږي

هغه خلک چې بېعيبه دي

وي به هغوی ته اجازه چې خدمت وکړي زما

۷ چلباز به نه اوسيږي زما په کور کې

دروغجن به پاتې نه شي زما حضور کې

۸ نابودوم بدکاره خلک هره ورځ په خپل وطن کې

او خراب خلک به د ښتن له ښاره وشړمه

## د يو مظلوم سړي دعا

## (د زور خفګان په مهال د يو مظلوم سړي د ښتن په وړاندې دعا او شکايت)

# ۱۰۲

۱ ای ښتنته کړه قبوله زما دعا

زما فرياد دې تاته ورسيږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ په سخته ورځ کې دې مخ مه اړوه زما نه

ماته غوږ ونیسه

کله چې تاته کړم دعا ته یې قبوله کړه زر

۳ فنا کیږي زما ژوند لکه لوګي په شان

د سور انګار په څېر مې سوځي د بدن هډوکي

۴ د وابنو په څېر مې زړه مات، مړاوی شوی

رانه هېر دي چې ډوډۍ مې وخورم

۵ په لوړ اواز باندې د زګېرویو له امله

صرف پوستکی او هډوکي مې بدن کې پاتې

۶ د صحرایي ګونګي په شان یمه زه

هغه ګونګی چې کنډوالو کې اوسي

۷ خوب مې له سترګو تښتېدلی

هغې مرغۍ په شان یم چې اوسي ځانله په بام

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ دښمنان ټوله ورځ پېغور راکوي

هغوی چې ما باندې ملنډې وهي

لعنت ويلو کې زما نوم اخلي

۹-۱۰ ستا د قهر او غضب په سبب

خورمه ايرې زه د ډوډۍ په ځای

او د څښناک سره مې اوښکې ګډې شوې

زه دې اوچت کړمه او لېرې دې ګوزار کړمه زه

۱۱ تېرېږي عمر مې په څېر د مازديګر د لمر

او مړاوی کېږم د واښو په شان

۱۲ خو ای څښتنه ته په تخت ناست به يې تل ترتله

ټولو نسلونو پورې به پاتې شي د ستا يادونه

۱۳ ته راپاڅېږې به او رحم په صهيون به وکړې

اوس د دې وخت دی مهربانه په هغه چې شې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټاکلی وخت رارسېدلی دی

۱۴ د هغه تيږې هم دې ګرانې په بندګانو ستا

او د هغه په خاوره باندې هم کړي رحم

۱۵ ولسونه به وېرېږي د څښتن له نومه

او د نړۍ ټول پاچاهان به يې وېرېږي له جلاله څخه

۱۶ څښتن چې کله د صهيون ښار يوځل بيا جوړ کړي

نو خپل جلال به کړي ښکاره خلکو ته

۱۷ واورې زارۍ به د بې‌وزلو او د اړو خلکو

په سپکه سترګه به ونه ګوري د دوی دعا ته

۱۸ راتلونکې نسل ته دې وليکل شي چې څښتن څه کړي دي

ترڅو ثنا ووايي څښتن ته هغوی

چې لا تراوسه زېږېدلي نه دي

۱۹ څښتن وکتل له خپل سپېڅلي ځايه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاس له اسمان څخه يې وکتل د ځمکې په لور

۲۰ ترڅو زګېروي د زندانيانو واوري

او خلاص کړي هغوی چې وو محکوم په مرګ

۲۱ نو له دې وجې به صهيون کې خلک ياد کاندي نامه د څښتن

ثنا او صفت به يې اورشليم کې وکړي

۲۲ چې شي راټول قومونه او د پاچاهيو خلک

ترڅو څښتن ته عبادت وکړي

۲۳ څښتن په نيمه لار کې واخيست زما ځواک راڅخه

او زما ورځې يې کړې لنډې

۲۴ نو ما وويل: «ای زما خدايه

په ځوانی کې رانه ژوند مه اخله!

ته ای څښتنه يې تر ابده ژوندی»

۲۵ له ډېر پخوا څخه دې ايښی ؤ بنياد د ځمکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اسمانونه دې کړل جوړ خپلو لاسونو باندې

۲۶ هغوی فنا به شي خو ته به پاتې شې

هغوی به ټول لکه لباس زاړه شي

ته به بدل کړې هغوی لکه چپنې په شان

او هغوی به شي فنا له سترګو

۲۷ خو پاتې کېږې په خپل حال ته مدام

او پای به ونه لري هېڅ دا ستا دوران

۲۸ اوسیږي امن کې به ستا د بندګانو اولاد

وي به قایم او دایم اولاده د دوی ستا تر نظر لاندې

## د خدای مینه

(د داود زبور)

# ۱۰۳

۱ ووایه ثنا د څښتن ای زما ځانه!

ای زما ټول بدنه، د هغه سپېڅلی نوم ثنا ووایه!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ووايه ثنا د ښښتن ای زما ځانه!

مه هېروه ټول احسانونه يې ته!

۳ څوک چې ستا ټول ګناهونه بخښي

او ستا ټول رنځونه روغوي

۴ څوک چې ژغوري تا له مرګه

او خپل د مينې او رحم تاج ستا په سر باندې ږدي

۵ چې پوره کوي څوک ارمانونه ستا په ښو شيانو

ترڅو تازه شي د عقاب په څېر ستا ځواک او ځواني

۶ ښښتن کوي انصاف د ټولو مظلومانو سره

ورکوي بېرته د هغوی حقونه

۷ موسی ته يې خپله اراده وښوده

د اسراييلو قوم ته يې خپلې کارنامې وښودې

۸ ښښتن رحيم او مهربانه دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زر نه په قهرېږي او مینه یې ډېره او تلپاتې ده

۹ نه به ورکوي دوام رټلو ته

نه به خپل قهر ساتي زړه کې تل مدام

۱۰ نه راکوي مونږ ته زمونږ د ګناهونو سره سمه سزا

نه اخلي بدله زمونږ د بدو کارو

۱۱ لکه چې څومره دی د ځمکې نه اسمان اوچت

دومره یې مینه ده تلپاتې د هغو دپاره چې وېرېږي ترې

۱۲ څومره چې لېرې دی ختیځ له لوېدیځه څخه

دومره زمونږ نه لېرې کوي ګناهونه زمونږ

۱۳ څومره چې پلار وي مهربان خپلو بچیو باندې

دومره څښتن وي مهربان په هغو خلکو باندې

چې کوي وېره ترې

۱۴ هغه پوهېږي چې مونږ څنګه پیدا شوي یو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته یاد دي چې له خاورې پیدا شوي یو مونږ

۱۵ د انسان ژوند دی د واښو په شان

چې د صحرا د ګل په شان غوړیږي

۱۶ کله چې باد ولګي نو ځي له منځه

او بیا نه ښکاري په خپل ځای کې

۱۷ خو د څښتن مینه د ازل نه تر ابده به وي

د هغو خلکو سره چې کوي ویره ترې

د ده نیکي به وي مدام د هغوی د نسلونو سره

۱۸ د هغو خلکو سره چې وفادار اوسي د هغه لوظ ته

او په حکمونو یې عمل کوي په غور سره

۱۹ څښتن خپل تخت ځای په ځای کړی په اسمان کې

او پاچاهي کوي په ټولو باندې

۲۰ ای زوروړو فرښتو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کړئ عمل يې په حکمونو او خبره يې اورئ

ثنا ووايئ د څښتن

۲۱ ثنا ووايئ د څښتن ای د هغه د فرښتو ډلو

ای خادمانو د هغه چې اراده يې پوره کوئ تاسو

۲۲ ای د څښتن ټول مخلوقه، د هغه ثنا ووايئ

ده په هر هغه ځای کې پاچاهي د هغه

ووايه ثنا د څښتن ای زما ځانه!

## د خالق خدای په ستاينه کې

# ۱۰۴

۱ ووايه ثنا د څښتن ای زما ځانه!

څومره عظيم يې ته زما څښتن خدايه!

د لويۍ او د جلال لباس کې پټ يې

۲ تا په رڼا کې ځان پوښلی د کاليو په څېر

تا اسمانونه غوړولي د خېمې په شان دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ پاسنی چت دي د خپل کور جوړ کړی وریځو باندې

خپلې جنګي ګاډی په شان له وریځو کار اخلې ته

سپرېږې ته په وزرونو د باد

۴ ته د بادونو نه کار اخلې د استازو په شان

د اور لمبې ته کاروې د خادمانو په شان

۵ تا درولې ځمکه داسې بنیادونو باندې

هغه به هېڅکله ونه خوځیږي

۶ په دریابونو باندې وپوښله ځمکه دې چېنې په څېر

اوبو نیولې دي د غرو سرونه

۷ اوبه چې ورټلې تا نو هغه وتښتېدې

ستا د تندر د اواز په اورېدو سره په منډه شولې

۸ د غرو په څوکو باندې وبهېدې شولې درو ته ښکته

لاړلې هغه ځای ته چې ټاکلی ورته تا ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ تا ورته حد وټاکه چې ورنه تېرې نه شي

څو یوځل بیا ځمکه ونه پوښي دوی

١٠ جاري کوې چینې درو کې ته

ترڅو اوبه یې شي رواني د غونډیو منځ کې

١١ د څښاک اوبه ورکوي ټولو ځنګلي ځناورو ته

ماتوي تنده په دې د ځنګلي خرو

١٢ مرغان اوسیږي د اوبو په شاوخوا ونو کې

وایي سندرې یې په څانګو باندې

١٣ اوبه کوې غرونه له خپل اسماني کوره

ستا د کارونو د ثمر ځینې بسیا ده ځمکه

١٤ راشنه کوې واښه څارویو لره

د انسانانو په خاطر بوټي چې ویې کري

ترڅو د ځمکې نه خواړه پیدا کړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ هم د انګورو شراب چې دوی یې خوښ کړي

زيتونو تېل يې د مخونو د ځلا دپاره

او هم خواړه چې دوی ته ورکړي قوت

۱۶ د ښبنتن ونې ښې خړوبې شولې

د سبر ونې د لبنان چې دي هغه کرلې

۱۷ جوړوي ځالې په هغو کې مرغان

لري کورونه لګ‌لګان د صنوبر ونو کې

۱۸ اوسيږي لوړو غرو کې ځنګلي وزې

ګړنګونه پناه ځای د غرنی سويو

۱۹ تا سپوږمی ده پيدا کړې چې معلومې کړو پرې مياشتې

پوهيږي لمر چې پربوځي څه وخت

۲۰ ته راولې تياره او شپه جوړيږي

ټول ځنګلي ځناور ګرځي په کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ غرمبېږي ځوان زمريان ښکار پسې
تياروي چې ورته خدای هغه خواړه لټوي
۲۲ چې لمر راوخېژي، دوی بېرته ورځي
خپلو غارو کې څملي
۲۳ خپلو کارو پسې روان شي خلک
او تر ماښامه پورې زيار وباسي
۲۴ تا دې جوړ کړي ای څښتنه ډول ډول شيان
ټول دې جوړ کړي د حکمت له مخې
په مخلوقاتو ځمکه ډکه ده ستا
۲۵ دريابونه دي پراخه او لوی
چې بېشمېره مخلوقات په کې اوسېږي
که کوچني دي يا غټ
۲۶ وګورئ کشتی چې دي رواني د هغوی په سر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نهنګ چې پيدا کړی دی تا او په کې لوبې کوي

٢٧ هغه ټول دي په تمه تاته

چې په خپل وخت ورته خواړه ورکړې

٢٨ ته چې هغوی ته ورکوې کوم شيان، راټولوي يې هغوی

ستا د لاس په خلاصېدو، ماړه کيږي هغوی په ښو شيانو

٢٩ چې مخ ترې واړوې نو سخت وېريږي هغوی

چې ساه ترې واخلې نو مړه کيږي هغوی

او ورځي بېرته هغې خاورې ته چې جوړ شوي ورنه

٣٠ چې کله ورکړې ورته ساه نو ژوندي شي هغوی

او ورکوې ځمکې ته نوی ژوندون

٣١ وي تر ابده دې جلال د ښتن

خپلو کارونو باندې وي دې خوشحاله ښتن

٣٢ چې ځمکې ته وګوري نو په لړزان شي هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې غرو ته لاس وروړي نو ترې راوځي لوګى

۳۳ زه به خپل ټول عمر سندره د څښتن وايمه

ترڅو ژوندى يم زه ثنا به د خپل خداى وايمه

۳۴ وي دې خوشحاله په خيالونو زما

ځکه چې زه يمه خوشحاله د څښتنه څخه

۳۵ شي نابود ګناهکاران دې ټول د ځمکې

پاتې دې نه شي بدعمله نور

ووايه ثنا ته د څښتن اى زما ځانه!

د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

## خداى او د هغه قوم

(لومړى تواريخ ۸:۱۶–۲۲)

# ۱۰۵ ۱ کوئ شکر د څښتن

او د هغه په نوم دعا کوئ!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نورو قومونو ته دا ووايئ

څه چې هغه کړي دي

٢ هغه ته حمد ووايئ

ووايئ هغه ته د ثنا او صفت سندره

هغه چې کړي عجيبه کارونه

کړئ يې بيان خلکو ته

٣ په پاک نوم د هغه وکړئ افتخار

وي دې خوشحاله څوک چې کاندي عبادت د هغه

٤ وغواړئ کومک له څښتنه

وکړئ عبادت يې تل

٥-٦ ای اولادې د ابراهيم چې دی د خدای بنده

ای د يعقوب اولادې تاسو کړئ غوره څښتن

کړئ تاسې يادې معجزې لويې چې کړې هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم کړئ راياد قضاوتونه چې هغه کړي وو

۷ دی ښبنتن زمونږه خدای

راولي چې عدالت د ځمکې سر باندې هرځای

۸ هغه ولاړ به تر ابده وي خپل لوظ باندې

وي وعدې به د ده تر زرو نسلونو پورې

۹ هغه لوظ چې هغه وکړ د ابراهیم سره

هغه قسم چې هغه وکړ د اسحاق سره

۱۰ هغه يې ورکړلو یعقوب ته د یو حکم په شان

او اسراییلو ته د ابدي لوظ په توګه

۱۱ هغه وويل: «تاسو ته در به کړم وطن د کنعان

وي به هغه د ستاسو خپل ملکیت»

۱۲ کله چې شمېر د خدای د خلکو کم ؤ

وو پردي د کنعان خاوره کې دوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ دوی سرګردانه ګرځېدل به یو او بل وطن کې

تلل یو او بلې پاچاهۍ ته هغوی

۱۴ خو خدای پرېنښودل هېڅوک

چې په دوی ظلم وکړي

د دوی دپاره یې شاهان ورټل

۱۵ هغوی ته یې وویل:

«زما غوره شویو بنده‌ګانو ته به لاس نه وروړئ

ضرر به نه رسوئ زما پیغمبرانو ته»

۱۶ ښبنتن راوستله قحطي د دوی په خاوره

او د خوړو وسیلې یې د دوی نه واخیستلې

۱۷ له دوی نه مخکې یې یو کس ولېږه

یعنې یوسف چې شولو خرڅ لکه غلام په توګه

۱۸ وې تړلې پښې په زنځیرو ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسپنې کړۍ يې ورته واچوله غاړه کې

۱۹ څو چې پېشګويي يې شوله ربښتيا

او عملونه يې ثابت کړل د څښتن کلام

۲۰ پاچا د مصر کړ ازاد هغه

يعنې د قومونو پاچا خوشې کړ

۲۱ هغه يې مشر کړ د خپل حکومت

خپل ټول ملکيت باندې حاکم کړلو

۲۲ چې د پاچا په مامورينو باندې واک ولري

او د پاچا سلاکارانو ته روزنه ورکړي

۲۳ نو بيا يعقوب لاړلو مصر ته

شو استوګن هغه د حام وطن کې لکه پردي په شان

۲۴ خپلو خلکو ته څښتن ډېر اولادونه ورکړل

او دوی قوي يې کړل په خپلو دښمنانو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ مصریان یې جوړ کړل دې ته

چې د ده له قومه وکړي هغوی کرکه

او چلند وکړي په ټګۍ د ښبنتن خلکو سره

۲۶ بیا هغه ولېږه موسی خپل خادم

او هم هارون چې غوره کړی یې ؤ

۲۷ هغوی د خدای نښې ښکاره کړلې مصریانو ته

او معجزې د هغه یې وښودې د حام په ځمکه

۲۸ په هغې وطن تیاره کړه خدای نازله

موسی او هارون ونه کړه د خدای نافرماني

۲۹ د سیند اوبه یې ورته بدلې کړې په وینو باندې

او ټول کبان یې ورته مړه کړل

۳۰ ډک شو وطن یې چونګښانو باندې

په چونګښانو حتی ډکه شوه شاهي ماڼی هم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ د خدای په حکم ټول وطن باندې

راغی د میاشو او مچانو لښکر

۳۲ د باران په ځای نازله یې ږلۍ کړه

د دوی وطن باندې برېښنا او تندر وپرکېده

۳۳ ورته تباه یې کړل تاکونه، د انځرو ونې

او رانسکورې یې کړې ټولې ونې

۳۴ د هغه په حکم راغلل ملخان

چې وو بې‌شمېره هغوی

۳۵ د دې وطن شنه بوټي یې ټول وخوړل

او د دوی د ځمکو ټول حاصل یې وخوړ

۳۶ د مصریانو په وطن کې

د هغوی یې مړه کړل ټول مشران زامن

د نارینتوب لومړنی مېوه یې کړه ویجاړه ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۷ اسراییلیان بیا څښتن وویستل له مصره ځیني

سره زر او سپین زر لیږدول هغوی د ځانه سره

ټول وو سالم او ځواکمن

۳۸ په وتلو د دوی مصریان خوشحاله شول

ځکه هغوی ډیر ویریدلي وو تري

۳۹ سیوري دپاره خدای خپره کړه وریځ په خپلو خلکو

اور یي راولیږلو شپه کي د رڼا دپاره

۴۰ هغوی تري سوال وکړ هغه مړزان ورکړل ورته

هغوی ته یي ورکړله ډوډی د اسمانه څخه

چي شي ماړه پري هغوی

۴۱ هغه ګټ وچولو او تري نه جاري شوي اوبه

وبهیدي د سیند په شان دبنته کي

۴۲ ځکه رایاده یي کړه خپله پاکه وعده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه چې کړې وه څښتن له خدمتګار خپل ابراهیمه سره

۴۳ هغه راوویستل خپل خلک له خوشحالی سره

خپل غوره خلک د سندرو له ویلو سره

۴۴ هغوی له وریې کړلې ځمکې د قومونو نورو

او دوی راټول کړلو حاصل چې ؤ کرلی نورو

۴۵ ترڅو حکمونه د څښتن ومني

او قوانین یې عملي کاندي

د څښتن ثنا او صفت دې وکړئ!

## په خپل قوم باندې د خدای مهرباني

# ۱۰۶

۱ د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

د څښتن شکر کوئ، ځکه چې نېک دی هغه

ده ابدي د هغه مینه

۲ څوک کولای شي بیان کړي د هغه عظیم کارونه؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

 څوک په پوره توګه کولای شي صفت يې وکړي؟

٣ بختور هغه دي چې کړي انصاف د نورو سره

چې تل دپاره نېک کارونه کوي

٤ احسان کوې چې په خپل قوم، ما هم په ياد ساته

ماته هم راکړه نجات کله چې نجات ته ورکوې هغوی ته

٥ چې غوره شوی قوم زه ستا نېکمرغه ووينمه

او له هغوی سره خوشحاله اوسم

او ستا د خلکو په وياړونو کې شريک شمه زه

٦ مونږه ګناه کړې ده لکه چې کړې وه نيکونو زمونږ

مونږه ګناه او بد عمل کړی دی

٧ زمونږ نيکونه نه شول پوه مصر کې

په عجيبه کارو د خدای باندې

هغوی کړه هېره د هغه ډېره، تلپاتې مينه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرې بحيرې په غاړه وکړه سرکښي يې مقابل کې د ده

۸ خو دوی ته وريې کړ نجات د خپل نامه په خاطر

ترڅو چې وښايي خپل لوی قدرت

۹ سره بحيره چې هغه ورټله وچه شوله

قوم يې خپل تېر کړ د درياب په منځ کې

لکه د دښتې په څېر وچه شوله ځمکه ورته

۱۰ هغوی يې وژغورل د لاسه د هغو خلکو

چې کړله کرکه يې له دوی څخه

هغوی يې خلاص کړل د خپلو دښمنانو د منګولو څخه

۱۱ خو اوبو ډوب کړل د هغوی بدخواهان

حتی يو کس هم ژوندی پاتې نه شو

۱۲ بيا د هغه قوم اعتبار وکړ د ده په وعده

د ثنا او صفت سندره يې هغه ته وويله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ خو هغوی زر هغه کارونه هېر کړل

کوم چې ښښتن کړي وو

او نصیحت ته د هغه ونه کړ دوی انتظار

۱۴ سخته اشتها د هغوی دښته کې پیدا شوه د خوړو لره

او په صحرا کې يې په خدای ازمېښت وکړلو

۱۵ نو څه چې غوښتي وو هغوی هغه يې ورکړل ورته

خو رانازل يې کړ په دوی باندې مرګونی مرض

۱۶ کله هغوی چې کينه وکړه موسی سره د دښتې کمپ کې

او هم هارون سره وقف شوی چې ښښتن لره ؤ

۱۷ بيا خوله خلاصه کړله ځمکې او ژوندی يې تېر کړ داتان

او په کې ښخ شول ابيرام او د هغه خلک

۱۸ اور شو نازل په پيروانو د دوی

د اور لمبې وسوځول هغه بدکاره خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د سینا غره کې هغوی جوړ کړ

د سرو زرو خوسی

او عبادت یې وکړ جوړ شوي بت ته

۲۰ هغوی بدل خپل جلالي خدای کړلو

د یو غویي مجسمې ته چې ؤ خوراک یې وابنه

۲۱ هغوی هېر کړلو خپل ژغورونکی خدای

ترسره کړي لوی کارونه چې یې مصر کې وو

۲۲ څه معجزې چې هغه کړې وې د حام په وطن

هم یې کړل هېر هغه عجیبه کارونه

ترسره کړي یې چې وو سرې بحیرې په غاړه

۲۳ نو کله چې وویل خدای چې به خپل قوم تباه کړي

د هغه غوره شوی خدمتګار موسی راودرېد

د هغوی د شفاعت دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې قهر يې سوړ کړي او تباه نه کړي دوی

۲۴ بيا هغوی وکړلو انکار د هغه ښه وطن د تللو ځينې

ځکه چې نه يې درلود باور د خدای په وعده

۲۵ خپلو خېمو کې شول پاتې ګورېدل هغوی

نه يې منله د څښتن خبره

۲۶ نو هغه پورته کړ خپل لاس

قسم يې وخوړ ورته

چې په دې دښته کې به مړه کړي هغوی

۲۷ خوره وره به اولاده يې کړي پردو قومونو کې

چې هغوی مړه شي په پرديو وطنونو کې

۲۸ بيا په فغور کې د خدای قوم کړلو ځان وقف بعل ته

او بتانو ته ورکړل شوې قربانۍ يې خوړلې

۲۹ په دغو خپلو عملونو باندې دوی څښتن راوپاراوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په هغوی باندې وبا راغله

۳۰ خو فینحاس پاڅېد مجرمانو ته یې سزا ورکړه

او وبا ودرېدله

۳۱ دا عدالت کې د فینحاس شو حساب

او تل ترتله به یادېږي هغه

۳۲ د مریبه د چینو څنګ کې دوی څښتن غوسه کړ

شولو موسی د دوی له لاسه په کړاو

۳۳ هغوی کړ دومره د موسی حالت تریخ

چې یې راووتل د خولې نه بېسنجشه الفاظ

۳۴ نه کړل تباه دوی بېګانه قومونه

څنګه څښتن چې ؤ ورکړی حکم

۳۵ تینګې اړیکې د دوستۍ یې کړلې هغو سره

او د هغوی بد رواجونه یې خپل کړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ عبادت یې وکړ د هغوی د بتانو

دا کار په خبر د یوه دام شو دوی ته

۳۷ کړل قرباني یې پېریانو د کنعان ته

خپل زامن او لوڼې

۳۸ د بې ګناهو ماشومانو وینه یې تویه کړله

د خپلو لوڼو او زامنو وینه

چې قرباني یې کړل بتانو د کنعان ته هغوی

په وینو ولړله ځمکه هغوی

۳۹ خپلو اعمالو باندې کړل یې خپل ځانونه ناپاک

او بېوفا شول خدای ته د زناکارې ښځې په شان

۴۰ ښبنتن په قهر شو په خپل قوم باندې

شولو بېزار له خپلو خلکو څخه

۴۱ پردي قومونو ته یې تسلیم کړل هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو حکومت کاوه په دوی چې ترې نفرت يې کاوه

۴۲ دښمنانو د هغوی کاوه پرې ظلم

وو سخت ذليل د دوی تر لاس لاندې

۴۳ څښتن څو ځلې وژغوره خپل ولس

خو دوی د هغه مقابل کې سرکښي غوره کړه

او په ګناه کې ډوب شول

۴۴ خو بياهم هغه په دوی باندې به رحم کاوه

چې کله وو به مصيبت کې هغوی

او اورېده به يې فرياد د هغوی

۴۵ هغه راياد کړلو خپل لوظ د هغوی په خاطر

او کړه بدله پرېکړه يې په سبب

د خپلې تلپاتې زياتې مينې

۴۶ کړل هغوی ته يې خواخوږي هغه خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې اسيران وو دوی له هغو سره

۴۷ وژغوره مونږ، زمونږ ښښتنه خدايه

مونږ يوځای سره راټول کړه له قومونو

ترڅو ادا کړو مونږه شکر د ستا

ستا د سپېڅلي نوم ثنا مو وياړ شي

۴۸ ثنا او صفت دې وي د اسراييلو ښښتن خدای ته

وکړئ ثنا او صفت يې د ازل نه تر ابده پورې

بيا دې ووايي ټول قوم: «امين»

ثنا او صفت دې وي ښښتن ته!

## پنځم کتاب

(زبور ۱۰۷–۱۵۰)

### د خدای د بنه والي په هکله ثنا او صفت

# ۱۰۷

۱ د ښښتن شکر کوئ، ځکه چې نېک دی هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده ابدي د هغه مينه

۲ ای ټولو خلکو چې ښښتن يئ ازاد کړي داسې ووايئ

هغه خلاص کړي يئ د خپلو دښمنانو ځينې

۳ او بېرته يې راوستلئ له پرديو ملکونو څخه

له ختيځه او لوېديځه او له شماله او جنوبه څخه

۴ ګرځېدل هسې په بيابان کې سرګردانه هغوی

پيدا کولای نه شوه لاره د هغه ښار

چې په کې واوسيږي

۵ هغوی شول وږي تږي

او مرګ ته نژدې وو هغوی

۶ نو بيا په سخته کې هغوی وکړ فرياد ښښتن ته

او دوی يې کړل خلاص له مصيبته

۷ هغوی ته يې وښودله سمه لاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دوی پيدا هلته يو ښار کړي د اوسېدو دپاره

۸ د څښتن د تلپاتې مينې په خاطر دې شکر وباسي دوی

د عجيبه کارونو په خاطر چې يې کړي دي هغوی دپاره

۹ ماتوي تنده هغه د تږو خلکو

او مړوي وږي خلک په ښو خوړو باندې

۱۰ په دوی کې ځينې اوسېدل تياره کې

وو تړل شوي بنديان په زنځيرونو باندې

۱۱ ځکه دوی وکړه سرکښي د خدای له امره څخه

او لارښوونې يې کړې ردې د خدای تعالی

۱۲ هغوی يې دومره کړل ستومانه په ډېر سخت کارونو

چې له پښو ولوېدل او هېڅوک نه ؤ

چې د هغوی سره څه مرسته وکړي

۱۳ نو بيا په سخته کې هغوی وکړ فرياد څښتن ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دوی يې کړل خلاص له مصيبته

١٤ سختې تيارې نه يې هغوی راويستل

او ورته مات يې زنځيرونه کړل

١٥ د ښبنتن د تلپاتې مينې په خاطر دې شکر وباسي دوی

د عجيبه کارونو په خاطر چې يې کړي دي هغوی دپاره

١٦ هغه کړې ماتې برنجي دروازې

او اړمونه يې د اوسپنې ټوټې ټوټې کړل

١٧ ځينې کم‌عقل شول په سبب د سرکښيو خپلو

او کړېدل په سبب د عملونو خپلو

١٨ د هغوی زړونه له خوړو نه تور شول

او مرګ ته نژدې شول هغوی

١٩ نو بيا په سخته کې هغوی وکړ فرياد ښبنتن ته

او دوی يې کړل خلاص له مصيبته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ هغوی يې روغ کړل خپل کلام باندې

او هغوی يې خلاص کړل له مرګه څخه

٢١ د څښتن د تلپاتې مينې په خاطر دې شکر وباسي دوی

د عجيبه کارونو په خاطر چې يې کړي دي هغوی دپاره

٢٢ شکر دې وباسي د هغه په قربانيو باندې

د خوشحاليو په سندرو دې بيان کړي د هغه کارونه

٢٣ ځينې کشتيو کې روان شول په درياب باندې

او ژورو اوبو کې يې کاروبار کولو

٢٤ هغوی وليدل کارونه د څښتن

په ژورو دريابونو کې د هغه عجيبه کارونه

٢٥ د هغه په حکم راوالوتل توفاني بادونه

او د درياب څپې شوې پورته

٢٦ کشتۍګانې به هوا ته جګېدلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ډوبېدلې به بيا بېرته د درياب په تل کې

کشتيوانانو به بايلله حوصله خپله داسې خطر کې

٢٧ کاږه واږه به هغوی تلل او زنګېدل به نشيانو په شان

نه پوهېدل هغوی چې څه وکړي

٢٨ نو بيا په سخته کې هغوی وکړ فرياد څښتن ته

او دوی يې کړل خلاص له مصيبته

٢٩ هغه ارام کړ توفان

او څپې غلې شولې

٣٠ چې ارامي شوه نو خوشحال شول هغوی

او هغه بندر ته يې خوندي راوستل چې دوی غوښتلو

٣١ د څښتن د تلپاتې مينې په خاطر دې شکر وباسي دوی

د عجيبه کارونو په خاطر چې يې کړي دي هغوی دپاره

٣٢ د هغه لويي دې کړي بيان د خلکو غونډه کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مشرانو په جرګه کې دې صفت وکړي

۳۳ هغه سيندونه کړل بدل په دښته

او چينې د اوبو په وچه ځمکه باندې

۳۴ هغه بدله کړله ښه حاصلخېزه ځمکه په ښوره زاره ځمکه

د هغو خلکو د بدۍ په سبب چې هلته اوسي په کې

۳۵ هغه بدله کړله دښته په ډنډونو باندې

او کړلې يې بدلې وچې ځمکې په چينو باندې

۳۶ هلته يې راوستل وږي خلک چې په کې واوسيږي

او هغوی ښار جوړ کړ چې په کې واوسيږي

۳۷ هغوی کښېښول تاکونه او پټې يې وکرل

او ډېر حاصل يې واخيست

۳۸ خپل قوم ته يې ورکړ برکت او اولادونه يې زيات شول

او هغه پرېنښودې چې کمې شي ياڼې او هم رمې د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۹ کله چې وخوړله ماتې د خدای قوم او سپک شول هغوی

د ظالمانو له خوا او ځورېدل هغوی

۴۰ هغه سپک کړل ظالمان خلک

او خوشې صحرا کې سرګردان کړل هغوی

۴۱ خو محتاج خلک يې بدبختۍ نه خلاص کړل

او کورنۍ يې ورته زياتې کړلې لکه رمو په شان

۴۲ صادقان خلک چې دا ګوري نو کوي خوشحالي

خو ټول بدکاره خلک چوپ پاتې شي

۴۳ څوک چې هوښيار وي

نو غور دې وکړي دې خبرو باندې

فکر دې وکړي د ښتن د تلپاتې مينې په باب

## د دښمنانو په وړاندې د مرستې دپاره دعا

(زبور ۷:۵۷-۱۱، ۵:۶۰-۱۲)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(یوه سندره کومه چې د داود زبور هم دی)

# ۱۰۸

۱ زه په تا باندې ډاډه یمه ای خدایه

زه به وایمه سندرې او د زړه له کومې ستا صفت کومه

۲ ای زما چنګه او ربابه راپېدار شئ!

زه راویښ به سباوون کړم

۳ ستا نه به وکړمه مننه ای څښتنه د قومونو منځ کې

هم به ووایم ستا د ستاینې سندرې د ولسونو منځ کې

۴ له اسمانونو نه ده لوړه ستا تلپاتې مینه

وفاداري دې تر فلکه رسي

۵ خدایه لويي دې کړه ظاهره اسمانونو باندې

په ټوله ځمکه خپل جلال ښکاره کړه

۶ په خپل طاقت دې مونږه وژغوره

او قبوله زما دعا کړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو نجات ومومي هغه خلک

د هغه چا سره چې مينه کوي

٧ د خپل سپېڅلي ځای نه خدای خبرې وکړې

«په خوشحالی به زه شکيم تقسيم کړم

او د سکوت دره به ووېشم خپل قوم باندې

٨ جلعاد زما دی او منسي مې هم دی

دی افرايم مې د زغرو خولی

او يهودا مې شاهانه امسا ده

٩ خو د موآب نه به کار واخلم د لګن په شان

خپلې څپلی به د ادوم په لور ګوزارې کړمه

په فلسطين باندې به چيغه د بريا وکړمه»

١٠ څوک به مې بوځي د برجونو ښار ته؟

څوک به مې بوځي د ادوم ښار ته؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ تا په رښتيا سره پرې ايښي يو مونږ؟

زمونږ د لښکرو سره نور نه ځې ته؟

١٢ مرسته مو وکړه د دښمن په خلاف

نه لري ګټه د انسان مرسته

١٣ مونږ به کامياب شو چې خدای مل وي زمونږ

هغه سرکوب به کړي زمونږ دښمنان

## په ستونزو باندې د اخته سړي شکايت

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ١٠٩

١ اى خدايه چې ستا ثنا وايمه

مه پاتې کېږه خاموش

٢ بدکارانو او دروغجنو خلکو

خولې خلاصې کړې دي په ما پسې

زما په هکله هغوی دروغ وايي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ رانه چاپېر دي هغوی او راته کوي خبرې

له نفرتونو ډکې

او بې‌سببه کوي جنګ راسره

۴ زما د مينې په بدل کې لګوي په ما تورونه

خو زه د هغوی دپاره دعا کومه

۵ د ښو بدل کې کوي بد راسره

او زما د مينې په بدل کې رانه کرکه کوي

۶ ته مقرر کړه کوم خراب سړی

چې محاکمه کاندي دښمن زما

او تهمت ويونکی دې پرې تهمت ووايي

۷ چې شي محکوم او ګناهکار ثابت شي

او دعاګانې يې حساب په ګناهونو کې شي

۸ چې يې لنډ شي عمر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بل څوک دې ونيسي مقام د هغه

٩ چې اولادونه يې يتيمان شي ورته

او شي يې ښځه کونډه

١٠ چې اولادونه يې شي بې‌کوره او سوالګر شي ورته

د خپلو ورانو کنډوالو نه دې دوی وشړل شي

١١ قرض ورکوونکی دې هغه نه ټول مال او جايداد واخلي

څه يې چې ګټلي پردي خلک دې ورنه ټول لوټ کړي

١٢ هيڅوک دې نه شي مهربانه په هغه باندې

نه دې د هغه په يتيمانو کوم څوک رحم وکړي

١٣ نسل دې ختم شي ټول د هغه

راتلونکي نسل نه دې لېرې شي نامه د هغه

١٤ ښبنتن دې هيڅکله هېر نه کړي ګناهونه د نيکونو د هغه

او د هغه د مور ګناه دې هيڅکله ونه بخښي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ تل دي ښښتن ته ور په یاد وي ګناهونه د دوی

خو د ځمکې د مخ نه دې د هغه نوم او نښان ورک کړي

۱۶ ځکه هېڅکله یې په چا مهرباني ونه کړه

هغه ځورولي او وژلي فقیران او محتاجان او زړه ماتي خلک

۱۷ د هغه دا خوښ وو چې لعنت ووایي نورو باندې

اوس دې لعنت راشي هغه باندې

د چا دپاره یې برکت نه غوښته

ځوک دې په ده هم برکت نه وایي

۱۸ لعنت د ده دپاره ؤ داسې شی

لکه چې څوک هر وخت لباس اغوندي

د ده لعنت دې د ده خپل بدن ته ننوځي لکه اوبو په شان

او د هغه هډوکو ته دې ننوځي لکه د تېلو په شان

۱۹ هغه دې پټ په لعنتونو کې شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه چې پټ وي په کالیو کې خوک

او د کمربند په شان دې تاو وي د هغه نه مدام

٢٠ نو په دې ډول سزا ورکړه مدعیانو ته زما ښمنتنه

چې ما پسې خوک داسې بد وایي

٢١ خو ته ای ښمنتن خدایه، ما سره مرسته وکړه

د خپل نامه په خاطر

او ته مې وژغوره ځکه چې نېک یې

او راسره مینه دوامداره کوې

٢٢ ځکه غریب او حاجتمند یمه زه

او دننه زړه زما زخمي زخمي دی

٢٣ فناکېدونکی یمه زه لکه لمر د مازدیګر په شان

لکه ملخ په شان زه باد وړی یم

٢٤ زنګنونه مې ضعیف شول په روژو نیولو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه ما کې نه دي پاتې يوازې پوستکى او هډوکى يمه

۲۵ راپورې خاندي مدعيان زما کله چې ووينې ما

د مسخرو نه خپل سرونه خوځوي هغوى

۲۶ اى څښتن خدايه زما راسره مرسته وکړه

د خپلې تلپاتې مينې په خاطر ماته نجات راکړه

۲۷ ترڅو معلوم شي دوى ته چې دا ټول وو ستا کارونه

اى څښتن خدايه، همدا ته وې چې نجات دې راکړ

۲۸ هغوى دې ووايي لعنت راباندې، خو برکت راکړه ته

کله چې وکاندي حمله نو دوى دې وشرمېږي

خو وي دې خوشحاله خدمتګار دا ستا

۲۹ زما مدعيان دې په شرمونو پټ شي

هغوى دې پټ شي په لباس د شرم

۳۰ په لوړ اواز به د څښتن نه زه مننه کوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ټولو خلکو په حضور کې به ثنا د هغه وايمه زه

۳۱ ځکه ودرېږي هغه د حاجتمندو ترڅنګ

او د هغو خلکو نه يې ساتي

چې محکومې هغوی په مرګ باندې

## څښتن او د هغه غوره شوی پاچا

(د داود زبور)

# ۱۱۰

۱ څښتن وويل زما بادار ته:

«کېنه زما ښي لاس ته

ترڅو چې ستا دښمنان ستا د پښو لاندې کړم»

۲ ستا پاچاهي به کړي پراخه له صهيونه څښتن

ته به حکومت کوې په خپلو دښمنانو باندې

۳ په هغه ورځ چې کوې جنګ له دښمنانو سره

په خپله خوښه به ستا خلک راشي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سهار وختي لکه د پرخې په شان

ستا ځوانان به تاته راشي سپېڅلو غرو ته

۴ ښتن قسم خوړلی

مات به نه شي هېڅ وخت

چې تر ابده به ته یې کاهن

د ملک‌صدق د کاهنی په شان

۵ ښتن ولاړ دی ستا ښي لاس ته

کله چې شي هغه په قهر نو پاچاهان به کړي مات

۶ محاکمه به کړي قومونه هغه

او د جنګ میدان به کړي له مړو نه ډک

هغه به ورکړي ماتې د دنیا ټولو پاچاهانو ته

۷ هغه به وښښي اوبه هغې ویالې نه چې په لاره کې ده

شي به قوي، هغه کامیاب به ګرځي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۱۱

۱ د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ!

د ښبنتن شکر به وباسمه د زړه له خلاصه

زه په مجلس کې د نېکانو او د هغوی غونډه کې

۲ خومره لوی دي د ښبنتن کارونه

هغه ټول خلک چې خوشحاله وي پرې

غواړي چې فکر وکړي په هغو باندې

۳ کارونه يې ټول دي له عزت او له جلاله ډک

او عدالت د هغه پاتې تر ابده به وي

۴ ښبنتن چې کړي عجيبه کارونه

پرېښږدي چې مونږ يې هېر کړو

دی مهربانه او رحيم دی هغه

۵ ورکوي رزق هغه چاته چې ترې وېره کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه هېڅ وخت خپل لوظ نه هېروي

۶ د پردو خلکو د وطن په ورکولو سره

هغه ښودلی خپل قدرت خپل قوم ته

۷ دی وفادار او عادل ټولو کارونو کې خپل

حکمونه یې ټول د اعتبار وړ دي

۸ وي پایدار به تر ابده پورې

هغه دي شوي په وفا او صداقت باندې

۹ هغه خپل قوم ازاد کړ

او ورسره ویې کړلو تلپاتې لوظ

دی سپېڅلی او هیبتناک د هغه نوم

۱۰ له ښبنتن وېره ده شروع د حکمت

ځوک چې د هغه د اوامرو اطاعت کوي

ورکوي پوهه ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثنا او صفت دې د هغه وي تر ابده پورې

## د نېک سړي خوشحالي

# ۱۱۲

۱ د ښتن ثنا او صفت وکړئ!

بختور دی هغه څوک چې کړي وېره له ښتنه

چې ډېر په خوښۍ سره مني د هغه حکمونه

۲ د هغه اولادونه به شي قوي وطن کې

او د نېکو خلکو نسل به برکت ومومي

۳ وي به شتمنه او دولتمنده کورنۍ د هغه

وي به نېکمرغه تر ابده پورې

۴ نېکانو خلکو ته ځلیږي په تیاره کې رڼا

څوک چې مهربانه، زړه سواندي او عادل اوسي

۵ بختور دی هغه څوک چې وي سخي قرض ورکولو کې

چې چلوي خپل کاروبار په انصاف سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ناکام به نه شي په هېڅ وخت کې نېک عمله سړی

نوم به يې ياديږي د همېش دپاره

۷ نه به وېرېږي هغه له بد خبر څخه

ځکه چې زړه يې دی قوي، لري توکل په ښتن

۸ زړه يې ټينګ دی او نه وېرېږي

هغه به ويني په رښتيا د دښمنانو ماتې

۹ په سخاوت سره کومک کړي محتاجانو سره

د هغه نېک اعمال د تل دپاره پاتې کيږي

وي به قوي او درناوی به يې کيږي

۱۰ بدکاران چې دا ګوري په قهرېږي به

خپل غاښونه به چيچي او ورکيږي به دوی

ارمان به نه شي پوره د هغوی هېڅکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۱۳

۱ د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ!

اى بندګانو د ښبنتن، د هغه ثنا او صفت وکړئ

ثنا او صفت وکړئ د هغه د نامه

۲ وي دې ثنا او صفت د ښبنتن د نامه

له همدااوس نه تر ابده پورې

۳ د لمرخاته نه تر لمر پرېوتولو پورې

ثنا او صفت دې وشي د ښبنتن د نامه

۴ ټولو قومونو کې اوچت دى ښبنتن

د هغه جلال له اسمانونو لوړ دى

۵ څوک دى بل داسې زمونږ د ښبنتن خداى په شان

چې په اوچت ځاى کې وي په تخت باندې ناست

۶ خو شي راټيټ به هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې اسمانونه او ځمکه وګوري؟

٧ غريبان پورته کوي هغه له خاورو ځينې

او له نېستۍ نه خلاصوي محتاجان

٨ کښېنوي هغوی د شاهزادګانو سره

د خپل قوم د شاهزادګانو سره

٩ شنډې ښځې ته اولاد ورکوي

او خوشحالوي هغه په خپل کور کې

د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

## د فسحې د اختر سندره

# ١١٤

١ کله چې ووتل د مصر نه د اسراييلو خلک

هغه پردی وطن چې کله پرېښودلو د يعقوب اولادې

٢ يهودا شو د څښتن سپېڅلی ځای

اسراييل شو د هغه د پاچاهۍ ځای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ خدای چې کله راښکاره شو سرې بحيرې ته

نو بحيره وچه شوه

د اردن سيند هم ودرېده

٤ شول په ټوپونو غرونه لکه پسونو په شان

وهل خېزونه غونډۍ ګانو لکه د وريو په شان

٥ ای دريابه په تا څه وشول چې وچ شوې؟

د اردن سينده ولې ودرېدلې؟

٦ ای غرونو، ولې مو ووهل ټوپونه د پسونو په شان؟

ای غونډېيو، ولې مو ووهل خېزونه لکه وريو په شان؟

٧ د څښتن په حضور کې ای ځمکې په لړزان شه

د يعقوب د خدای حضور کې په لړزان شه

٨ هغه بدل کړ ګټې په ډنډ باندې

او کلکه تيږه په چينې باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۱۵

۱ مونږ ته نه ای څښتنه مونږ ته نه

بلکې خپل نوم ته جلال ورکړه!

د خپلې مينې او وفا په سبب

۲ ولې قومونه دا پوښتنه وکړي

چې د دوی خدای چېرته دی؟

۳ زمونږ خدای دی په اسمان کې

هغه کوي هغه څه چې څه يې خوښه وي

۴ د سرو او سپينو زرو جوړ دي د هغوی بتان

هغه جوړ شوي د انسان په لاسو

۵ د هغوی خولې شته، خو خبرې پرې کولای نه شي

سترګې يې شته، خو پرې ليدلی نه شي

۶ غوږونه يې شته، خو پرې اورېدلی نه شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوزې يې شته، خو څه بوی کولای نه شي

٧ لاسونه يې شته، خو څه لمس کولای نه شي

پښې يې شته، خو ګرځېدلی نه شي

د هغوی د ستوني نه اواز نه وځي

٨ چې جوړوي څوک هغه او څوک چې باور پرې لري

هغوی دې شي هغو بتانو په شان چې جوړوي هغه

٩ ای اسراييلو، په څښتن باندې توکل کوئ

دی مرستندوی ستاسو او ستاسو سپر دی

١٠ ای کاهنانو ای د هارون اولادې

توکل وکړئ په څښتن باندې

دی مرستندوی ستاسو او ستاسو سپر دی

١١ توکل وکړئ په څښتن باندې ای تاسو ټول

چې ترې وېره کوئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی مرستندوی ستاسو او ستاسو سپر دی

۱۲ رایادوي مونږ خښتن او برکت به راکړي

هغه به ورکړي برکت اسراییلیانو ته

او د هارون اولادې یعنې کاهنانو ته

۱۳ هغه به ورکړي برکت هغو ته

چې کړي ویره له خښتنه څخه

لویو او وړو ته یوشان

۱۴ خښتن دې درکړي اولادونه درته

تاسو او ستاسو اولادې ته هم

۱۵ خښتن دې درکړي برکت تاسو ته

چا چې جوړ کړی دی اسمان او ځمکه

۱۶ اسمان یوازې د خښتن دی

خو ځمکه یې ورکړې ده انسان ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ مړي نه وايي ثنا د څښتن

څوک چې روان دي لاندې

د خاموشۍ دنيا ته

١٨ خو مونږ ژوندي به د هغه ثنا او صفت وايو

له همدااوس نه تر ابده پورې

د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

## د مرګ نه د خلاصون دپاره شکرګزاري

## ١١٦

١ مينه کومه د څښتن سره زه

ځکه چې سوال يې اورېدلی زما

او قبولې کړې يې زاری دي زما

٢ هغه نيولی دی خپل غوږ ماته

ترڅو ژوندی يم دعاګانې به کومه ورته

٣ د مرګ په لومه کې راګير شومه زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قبر وېره راغله په ما

په تکلیف او غم اخته شومه زه

۴ نو بیا مې وکړلو فریاد څښتن ته:

«سوال کوم تاته ای څښتنه چې مې وژغوره ته»

۵ څښتن رحیم او نېک دی

دی زړهسواندی زمونږ خدای

۶ څښتن ساتي ساده زړي خلک

کله چې ومه په خطر کې، هغه بچ کړمه زه

۷ ای زما ځانه ته ډاډه اوسه

ځکه څښتن ما سره کړی احسان

۸ څښتنه تا له مرګه بچ کړمه زه

وچې دې کړې اوښکې زما

او ودې ژغورلې زما پښې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له تیندک خوړلو څخه

۹ نو زه به ګرځم د څښتن حضور کې

د ژوندیو په دنیا کې

۱۰ ما په څښتن باندې باور درلود

که څه هم ما وویل:

«زه ډېر په تکلیف کې یمه»

۱۱ که څه هم زه وېرېدمه خو ما وویل:

«ټول انسانان دروغجن دي»

۱۲ زه به څه ورکړم څښتن ته

د هغو ټولو احسانونو په بدل کې

چې يې کړي دي زما سره؟

۱۳ زه به راوړمه څښتن ته نذرانه د څښلو

چې ترې مننه وکړم د خپل نجات په خاطر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ زه به ورکړمه نذرونه چې مې منلي دي څښتن ته

د هغه د ټول قوم په مخکې

۱۵ څومره دردناکه ده څښتن دپاره

چې کله مړ شي کوم يو د هغه له وفادارو څخه

۱۶ زه خدمتګار يمه د ستا څښتنه

داسې خدمت دې زه کومه

چې مې مور کړی دی

زه دې خلاص کړی يم له زنځيرونو څخه

۱۷ د شکرګزارۍ قرباني به تاته درکړمه زه

زه به تاته دعاګانې کوم

۱۸-۱۹ زه به پوره کړمه خپل نذر تاته په اورشليم کې

زه به دا کار وکړمه ستا د کور په حوېلۍ کې

چې ستا ټول قوم په کې ټولېږي عبادت دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

## د څښتن په ثنا او صفت کې

# ۱۱۷

۱ ای ټولو قومونو، د څښتن ثنا او صفت وکړئ

ای ټولو خلکو، د هغه لويي بيان کړئ

۲ هغه زمونږ سره کړي مينه تلپاتې

او وفاداري يې ده تر ابده پورې

د څښتن ثنا او صفت وکړئ!

## د کاميابۍ په خاطر د شکرګزارۍ دعا

# ۱۱۸

۱ د څښتن شکر کوئ، ځکه چې نيک دی هغه

ده ابدي د هغه مينه

۲ پرېږده چې قوم د اسراييل ووايي:

«ده ابدي د هغه مينه»

۳ پرېږده چې ووايي د هارون اولاده چې کاهنان دي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ده ابدي د هغه مينه»

۴ هغه ټول خلک چې وېرېږي له څښتنه

پرېږده چې ووايي:

«ده ابدي د هغه مينه»

۵ ما په سخته کې فرياد وکړ څښتن ته

سوال يې قبول کړ زما او زه يې کړمه ازاد

۶ ما سره مل دی څښتن، نه به وېرېږمه زه

څه کولای شي انسان ما سره؟

۷ ما سره مل دی څښتن او مرستندوی دی زما

او ماتې د خپلو دښمنانو به زه ووينمه

۸ دغه بهتره ده چې يوسمه پناه څښتن ته

د دې په ځای چې توکل وکړم انسان باندې

۹ دغه بهتره ده چې يوسمه پناه څښتن ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې په ځای چې توکل وکړمه په شاهزادګانو باندې

۱۰ رانه چاپېر وو ټول قومونه

خو د څښتن په زور مې دوی کړل تباه

۱۱ وو راچاپېر هغوی د هرې خوا نه په ما

خو د څښتن په زور مې دوی کړل تباه

۱۲ رانه چاپېر وو هغوی لکه مچیو په شان

خو هغوی خاموش شول لکه د اغزیو د اور په شان

د څښتن په زور مې دوی کړل تباه

۱۳ سخته حمله راباندې وشوه

او نژدې ؤ چې زه ماتې وخورم

خو څښتن وکړلو کومک راسره

۱۴ څښتن زما قوت دی

او دفاع یې زما وکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زه يې ژغورلی يمه

۱۵ د خدای د قوم د خېمو نه واورئ

د کاميابۍ په خاطر د خوشحالۍ چيغې

چې د څښتن په قوي لاس دا هرڅه شوي دي

۱۶ مونږ برياليي شو د څښتن په قوي لاس باندې

په جګړه کې د هغه په زورور قوت

۱۷ زه به مړ نه شم بلکې ژوندی به يمه

زه به بيان کړم کوم کارونه چې څښتن کړي دي

۱۸ هغه راکړې راته سخته سزا

خو زه يې پرېنښودم چې مړ شمه

۱۹ ماته کړئ خلاصې دروازې د معبد

چې زه ورشم د څښتن شکر ادا کړم په کې

۲۰ دا هغه دروازه ده چې کولای شئ څښتن ته ورشئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوازې نېک خلک کولای شي داخل شي په کې

٢١ شکر کومه زه د ستا ښښتنه

ځکه چې سوال دې قبول کړی زما

ځکه چې ماته دی نجات راکړی

٢٢ کومه تیږه چې رد کړې ګلکارانو وه

هغه اوس شوه اصلي تیږه د تهداب

٢٣ دا کار وشو د ښښتن له خوا نه

او عجیبه ښکاري زمونږ نظر کې

٢٤ دا هغه ورځ ده چې ښښتن په کې کړی دی عجیبه کار

راځئ چې وکړو خوشحالي

او په کې خوشحاله اوسو

٢٥ مونږه وژغوره ښښتنه، مونږه وژغوره

ای ښښتنه بری راکړه مونږ ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٦ مبارک دی هغه څوک

چې د څښتن په نوم راځي

تاسو ته غواړو برکت مونږ د څښتن له کوره

٢٧ څښتن دی خدای چې يې وځلوله خپله رڼا په مونږ

د قربانی حيوان راولئ او د قربانګاه په کنجونو باندې يې

وتړئ رسيو باندې

٢٨ ته زما خدای يې او ستا شکر کوم

ته مې خدای يې، زه به ستا لويي بيان کړم

٢٩ د څښتن شکر کوئ، ځکه چې نېک دی هغه

ده ابدي د هغه مينه

## د خدای په کلام کې تسلي او رڼا

## د څښتن په حکمونو عمل کول د برکت لاره ده

# ۱۱۹

١ بختور دي هغه خلک چې ژوندون يې دی بېعيبه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تېروي خپل ژوند د ښښتن د شریعت له مخې

٢ بختور دي هغه خلک چې په حکمونو يې عمل کوي

چې څوک رجوع کوي هغه ته د زړه له کومې څخه

٣ هېڅکله نه کوي بدي هغوی

هغوی روان وي د ښښتن په لاره

٤ خپل قوانین دې دي راکړي مونږ ته ای ښښتنه

چې اطاعت يې وکړو په وفادارۍ سره

٥ کاشکې چې زه وفادار واوسم

چې په قوانینو دې عمل وکړمه

٦ که زه عمل وکړمه ستا ټولو حکمونو باندې

نو بیا به د شرم سره مخ نه شمه

٧ څنګه چې زده کړمه ربښتیني قوانین د ستا

نو په پاک زړه به دې ثنا وایمه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ زه به ستا د قوانينو اطاعت کومه

هېڅکله پرېنږدې ما

## د ښبتن قانون ته غاړه ايښودل

۹ ځنګه کولای شي يو ځوان چې خپل ژوند پاک وساتي؟

چې وکړي ژوند ستا د کلام له مخې

۱۰ د زړه له کومي زه کوښښ کومه

چې تاته وکړم رجوع

مه مې پرېږده چې سرکښي وکړمه

ستا له حکمونو څخه

۱۱ ما دی ساتلی ستا کلام خپل زړه کې

ترڅو ستا په وړاندې زه ګناه ونه کړم

۱۲ زه ستا ثنا وايمه ای ښبتنه

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانين

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ بیانومه زه په لوړ اواز

ټول قوانین چې دې راکړي مونږ ته

۱۴ زه یم خوشحاله ستا حکمونو باندې

لکه چې څنګه وي خوشحاله څوک

په مال دولت باندې

۱۵ ستا د اصولو په باره کې زه کومه فکر

کومه غور ستا په لاربښوونو باندې

۱۶ په قوانینو دې خوشحاله یمه

نه هېروم به زه د ستا کلام

## د ښېښتن په شریعت کې خوشحالي

۱۷ خپل خدمتګار سره دې ښه وکړه ته

ترڅو ژوندی پاتې شم او ستا په کلام باندې عمل وکړمه

۱۸ سترګې مې پرانیزه ته ترڅو زه وګورمه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا په شریعت کې عجیبه حقایق

۱۹ زه دلته یمه بېګانه په دې دنیا کې

زما نه مه پټوه خپل حکمونه

۲۰ زړه مې دردېږي له ارمانه سره

غواړمه پوه شم همېشه ستا قوانینو باندې

۲۱ ته کبرجن او لعنتیان رټې

او هغه خلک چې سرکښې

ستا له حکمونو کوي

۲۲ زما نه لېرې بې‌ننګي او سپکاوی کړه ته

ځکه چې زه کوم عمل ستا په حکمونو باندې

۲۳ سره له دې چې حاکمان دې راټول شوي

او په ضد مې دسیسه جوړوي

خو ستا خدمتګار به کوي فکر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا په قوانینو باندې

۲۴ ستا په حکمونو خوشحالیږمه زه

هغه زما دپاره دي راهنما

## د څښتن د شریعت څخه د اطاعت کولو پریکړه

۲۵ زه یمه مرګ ته نژدې شوی

ما راژوندی کړه لکه څنګه چې دې کړې وعده

۲۶ څه چې ما کړي د هغو مې درته وکړ اقرار

او تا ځواب راکړ

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانین

۲۷ راسره مرسته وکړه چې ستا په اصولو پوه شم

نو زه به فکر کوم ستا په عجیبه کارونو

۲۸ زما ځان ستومانه شوی دی له ډېره غمه

په خپل کلام دې ماته راکړه قوت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ غلطو لارو نه مې وساته ته

ما سره ښه وکړه او راته رازده کړه

ته دې خپل شريعت

۳۰ د وفا لاره خوښه کړې ده ما

ما خپل پام دی اړولی قوانينو ته ستا

۳۱ ستا په حکمونو باندې ټينګ ولاړ يم ای څښتنه

ای څښتنه، مه مې پرېږده چې وشرمېږمه زه

۳۲ زه به په شوق سره کومه اطاعت

ستا له حکمونو څخه

ځکه چې ته به راکړې زياته پوهه

## د پوهې په خاطر دعا

۳۳ ماته راوښايه څښتنه، ته معنی د قوانينو خپلو

زه تر اخره به هغو باندې عمل کومه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٤ ماته پوهه راکړه په خپل شریعت باندې

زه به یې کوم اطاعت

زه به عمل کوم هغه باندې د زړه له کومې

٣٥ ما روان کړه ته د خپلو حکمونو په لار

ځکه زه مومم خپله خوشحالي هغو کې

٣٦ ما سره شوق کړه راپیدا چې اطاعت وکړمه

ستا د حکمونو څخه

نه چې دولت وګټم

٣٧ نظر مې واړوه ته خوشې شیانو څخه

ماته ژوند راکړه په خپلو لارو دې

٣٨ پوره کړه خپله وعده خپل خدمتګار سره

هغه وعده چې تا ده کړې هغو خلکو سره

چې کوي ویره له تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۹ ته مې له هغې رسوايۍ وساته

چې ترې وېرېږمه زه

ځکه چې ستا قضاوتونه ښه دي

۴۰ خومره ارمان لرمه چې اطاعت وکړمه

ستا له اصولو څخه

نوی ژوند راکړه ماته، ځکه چې ته يې عادل

## د خښتن په شريعت باندې باور

۴۱ ماته دې راکړه خپله تلپاتې مينه ای خښتنه

او راکړه خلاصون لکه چې ځنګه دې وعده کړې ده

۴۲ نو بيا به زه ورکړم ځواب هغوی ته

چې سپکاوی مې کوي

ځکه چې زه کوم باور ستا په کلام باندې

۴۳ ماته توان راکړه چې وکړم همېشه د حقيقت خبرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ستا په قوانينو زه باور لرمه

۴۴ زه همېشه به اطاعت ستا د شريعت کومه

تر ابده او ابده پورې

۴۵ زه به کامله ازادۍ کې خپل ژوندون تېروم

ځکه کوښښ مې کړی چې عمل وکړمه

ستا په اصولو باندې

۴۶ زه به اعلان کړم ستا حکمونه پاچاهانو ته

او زه به نه شرمېږم

۴۷ ستا په حکمونو زه خوشحاله يمه

ځکه چې خوښ دي زما

۴۸ ستا حکمونه مې خوښېږي او عزت يې کوم

ستا قوانينو باندې غور کوم

۴۹ در په ياده کړه هغه وعده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دې کړې وه د خپل خادم سره

ځکه چې ماته يې اميد راکړی

٥٠ حتی په سخته کې مې وشي تسلي

ځکه وعده دې ماته ژوند راکوي

٥١ کبرجن خلک په ما ډېرې ملنډې وهي

خو ستا له شريعته زه مخ نه اړوم

٥٢ راته په ياد دي له پخوا نه قوانين د ستا

زما کيږي تسلي په هغو ای څښتنه

٥٣ زه ډېر په قهر يم په بدکاره خلکو

ځکه چې دوی ستا شريعت ماتوي

٥٤ په هرځای کې چې اوسېږمه زه

زه جوړوم سندرې ستا د قوانينو په هکله

٥٥ زه يادومه د شپې ستا نوم څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا په شریعت باندې عمل کومه

٥٦ دا ؤ عادت زما چې عمل وکړمه زه

ستا په اصولو باندې

## د څښتن شریعت ته وقف کېدنه

٥٧ ته زما هرڅه يې ای څښتنه

دا مې وعده ده چې عمل به کوم

ستا په کلام باندې

٥٨ د زړه له کومې تاته سوال کومه

چې په ما رحم وکړې

لکه چې څنګه دې وعده کړې ده

٥٩ د خپل کړو وړو په هکله فکر کوم

او دا مې وعده ده چې پیروي به کوم

ستا له حکمونو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۰ زه به په بیږه او بې له ځنډه

عمل کوم ستا په حکمونو باندې

۶۱ بدکاره خلکو راته ایښی دی دام

خو هېر به نه کړمه د ستا شریعت

۶۲ په نیمه شپه کې راپاخېږمه زه

چې ستا ثنا ووایم

ځکه چې ته قضاوتونه په انصاف کوې

۶۳ زه ملګری د هغو یم چې وېرېږي له تا

د هغو ټولو خلکو چې دې عمل په اصولو کوي

۶۴ دنیا ده ډکه ستا له تلپاتې مینې ای ښښتنه

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانین

## د ښښتن د شریعت ارزښت

۶۵ خپله وعده باندې ولاړ یې ای ښښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل خدمتګار سره دې ښه کوې ته

٦٦ ماته ښه حکمت او پوهه راکړه

ځکه چې زه کوم باور ستا په حکمونو باندې

٦٧ مخکې له دې چې مصيبت ووينم

بې لارې شوی وم زه

خو اوس ستا په کلام باندې عمل کوم زه

٦٨ ته نيک يې او نيک کارونه کوې

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانين

٦٩ مغروره خلک وايي دروغ زما په هکله

خو د زړه له کومي اطاعت ستا د اصولو کوم

٧٠ دغه دروغجن خلک شعور نه لري

خو ستا په شريعت باندې خوشحاله يمه

٧١ ښه وه زما دپاره چې په تکليف شوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه سبب شو د دې چې ستا قوانین زده کړم

۷۲ هغه شریعت چې تا راکړی

ډېر قیمتي دی ماته

له ډېرو سرو او سپینو زرو

## د څښتن د شریعت عدالت

۷۳ تا زه جوړ کړی یم په خپلو لاسو

او پیدا کړی دې یم

ته راته راکړه پوهه ترڅو زه زده کړمه حکمونه د ستا

۷۴ خوک چې وېرېږي له تا شي به خوشحاله په لیدلو زما

ځکه چې زه ستا په کلام باندې باور لرمه

۷۵ په دې پوهېږمه څښتنه چې قضاوت کوې په عدل سره

او ته په حقه یې چې را دې کړه سزا ماته

۷۶ لکه چې څنګه دې وعده کړې ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل خدمتګار سره

ماته دې راکړي تسلي ستا تلپاتې مينه

۷۷ په ما رحم وکړه چې زه ژوندی اوسم

ستا په شريعت کې خوشحالي ده زما

۷۸ ودې شرميږي مغرور خلک

چې په دروغو په ما تور لګوي

خو زه به غور کوم ستا په اصولو باندې

۷۹ څوک چې کړي ويره له تا بېرته دې راشي ماته

هغه خلک چې پوهيږي ستا حکمونو باندې

۸۰ پر بېړده چې وکړم اطاعت په پوره توګه

ستا له قوانينو څخه

بيا به زه هېڅکله خجل نه شم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸۱ ستومانه شوی یمه ای ښتنه له انتظاره

چې خلاصون راکړې ته

ستا په کلام باندې باور لرمه

۸۲ ستا د وعدې په انتظار مې سترګې سترې شولې

او پوښتنه کوم: «کله به ماته تسلي راکوې؟»

۸۳ زه یم وچ شوی د هغه مشک په شان

چې وي وهلی لوګي

خو ما هېر کړي نه دي ستا قوانین

۸۴ ستا خدمتګار به انتظار وباسي تر کومه پورې؟

ته به کله هغو خلکو ته سزا ورکوې

چې ما ځوروي؟

۸۵ هغه مغرور خلک چې نافرماني کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا له شریعته څخه

کندې وباسي ماته

چې مې په لومه کې راګېر کاندي

۸۶ ستا ټول حکمونه د باور وړ دي

ما سره مرسته وکړه

ځکه چې خلک مې ځوروي ناحقه

۸۷ دې ته نژدې وم چې مې کړي ورک

د ځمکې له مخه

خو ما پرېنښودل ستا اصول

۸۸ د خپلې مینې په خاطر دې ما ژوندی وساته

ترڅو زه وکړمه عمل ستا په حکمونو باندې

## د ښښتن په شریعت باندې ایمان لرل

۸۹ ابدي دی ستا کلام ښښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی په اسمان کې قايم

۹۰ وفاداري ستا دوام مومي ټولو نسلونو پورې

تا راپيدا کړه ځمکه او وي به ټينګه تل دپاره

۹۱ ستا په حکم ټول شيان دي

تر نن ورځې پورې پاتې

ځکه چې ټول ستا په خدمت کې دي

۹۲ که خوشحالي مې ستا شريعت کې نه وای

نو له دردونو نه مړ شوی به وای

۹۳ زه به هيڅکله ستا اصول هېر نه کړم

ځکه ژوندی دې يم ساتلی په هغو باندې

۹۴ زه د ستا يم ومې ژغوره

ځکه کوښښ مې کړی

چې عمل ستا په اصولو وکړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩٥ بدکاره خلک انتظار وباسي چې ومې وژني

خو زه به ستا په حکمونو باندې غور کوم

٩٦ په دې پوهېږم چې هر شی لري حد

خو ستا حکمونه هېڅ کوم حد نه لري

## د ښښتن د شريعت سره مينه

٩٧ زه څومره مينه کوم ستا د شريعت سره

زه ټوله ورځ کومه فکر د هغه په هکله

٩٨ هوښياروي مې ستا حکمونه

له دښمنه مې زيات

ځکه چې ما سره همېش وي هغه

٩٩ زه له خپلو ټولو استاذانو زيات پوهېږم

ځکه چې غور کوم ستا په حکمونو باندې

١٠٠ زه له مشرانو څخه زيات پوهېږم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې کړمه عمل ستا په اصولو باندې

۱۰۱ د بدو لارو مې ساتلي قدمونه خپل

ځکه زه غواړم عمل وکړم ستا په کلام باندې

۱۰۲ ستا قوانين مې له نظره غورځولي نه دي

ځکه چې تا راته زده کړي هغه

۱۰۳ دا ستا کلام دی څومره خوږ ماته

حتی د شاتو نه هم زيات خوږ دی

۱۰۴ حاصلومه زه حکمت ستا له اصولو څخه

نو زه نفرت کومه له ټولو بدو لارو

## رڼا د ښبنتن له شريعت څخه

۱۰۵ دا ستا کلام دی څراغ زما د پښو دپاره

او ده رڼا زما د لارو

۱۰۶ ما خوړلی دی قسم او ورباندې ټينګ ولاړ يم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې عمل وکړمه زه ستا په عادلانه قوانينو

۱۰۷ زما دردونه او سختئ دي اى ښتنته

په رښتيا ډېر زيات

لکه چې څنګه دې وعده کړې ده

ما ژوندى وساته

۱۰۸ د شکرګزارئ دعا قبوله کړه زما ښتنته

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانين

۱۰۹ زه اچوم خپل ژوند خطر کې همېش

خو نه هېروم به زه شريعت د ستا

۱۱۰ بدکاره خلکو راته دام ايښى دى

خو سرکښي مې کړې نه ده ستا له قوانينو څخه

۱۱۱ ستا حکمونه دي زما دپاره ابدي شتمني

خوشحالۍ زما زړه وربانديې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱۲ ما پرېکړه کړې ده چې به د مرګ تر ورځې

ستا د قوانينو اطاعت کومه

## د ښبنتن په شريعت کې خونديتوب

۱۱۳ زه له دوه‌مخي سړي کرکه کوم

خو ستا د شريعت سره زه مينه کوم

۱۱۴ ته پناه ځای يې زما او زما سپر يې

ستا په کلام باندې باور لرمه

۱۱۵ ای ګناهکارو خلکو، له ما نه لېرې شئ

ترڅو د خپل خدای په حکمونو زه عمل وکړمه

۱۱۶ لکه چې څنګه دې وعده کړې ده

ماته قوت راکړه ترڅو ژوندی پاتې شم

په مايوسی کې مې د شرم سره مخ نه کړې

۱۱۷ ملاتړ مې وکړه او زه به اوسم خوندي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو زه به همېش ستا په قوانينو باندې غور کوم

۱۱۸ ته رد کوې هغه خلک

چې اطاعت نه کوي ستا له قوانينو څخه

دي باطلې د هغوی هغه نقشې چې غولوونکې دي

۱۱۹ ټول بدعمله د دنيا ته غورځوې

لکه خزلو په شان

نو ځکه زه خوښوم ستا حکمونه

۱۲۰ ستا له وېرې مې بدن رپېږي

له قضاوتونو دې وېرېږمه زه

## د ښبنتن له شريعت څخه اطاعت

۱۲۱ ما باانصافه او ښه کارونه کړي

خپل دښمنانو ته مې مه پرېږده ته

۱۲۲ وکړه وعده راسره چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل خادم سره به مرسته کوې

مغروره خلک مه پرېږده چې په ما ظلم وکړي

١٢٣ ستا د نجات په انتظار مې سترګې سترې شولې

د کوم خلاصون دپاره چې دې وعده کړې ده

١٢٤ د خپلې مينې مطابق راسره وکړه رفتار

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانين

١٢٥ زه ستا خادم يم ماته پوهه راکړه

ترڅو زه پوه شم ستا په حکمونو باندې

١٢٦ ای څښتنه، د دې وخت راغلی

چې ته عمل وکړې

ځکه چې خلکو سرکښي کړې ده

ستا له شريعته څخه

١٢٧ نو ځکه د سرو زرو نه هم زيات

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما خوښيږي ستا حکمونه

هم زيات له ډيرې ښې طلا نه

۱۲۸ نو زه ستا ټول اصول سم ګڼمه

نفرت کوم له غولوونکو لارو

## د ښښتن د شريعت څخه د تابعدارۍ شوق

۱۲۹ ډېر عجيبه دي حکمونه ستا

نو ځکه زه ورباندې کومه عمل

۱۳۰ بيانول ستا د کلام

روښانوي د انسانانو ذهن

او ورکوي پوهه ساده ګانو ته

۱۳۱ ستا د حکمونو دومره تږی يمه

خوله مې خلاصه ده نيولې او ارمانجن يمه زه

۱۳۲ ماته وګوره او رحم په ما وکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه چې ښنګه يې کوې په هغو خلکو باندې

چې کوي مينه ستا له نوم سره

۱۳۳ زما قدمونه کړه ټينګ ستا د کلام په لاره

مه مې پرېږده چې غالبه شي ګناه په ما

۱۳۴ چې په ما ظلم کوي

د هغو خلکو نه مې خلاص کړه ته

ترڅو زه وکړای شم عمل ستا اصولو باندې

۱۳۵ په ورين تندي وګوره خپل خدمتګار ته

ماته رازده کړه ته دې خپل قوانين

۱۳۶ اوښکې بهيږي زما له سترګو ښخه لکه ويالو په شان

ځکه چې خلک ستا په شريعت باندې عمل نه کوي

## د ښښتن د شريعت عدالت

۱۳۷ ته عادل يې ای ښښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا قضاوتونه دي ولاړ په عدل

۱۳۸ هغه شریعت چې ټاکلی دی تا

عادلانه دی او بیخي سم دی

۱۳۹ زما غیرت زما بدن سوځوي

ځکه چې زما دښمنانو ستا کلام هېر کړی

۱۴۰ یقیني ده ثومره ستا وعده

زه ستا خدمتګار ورسره مینه کوم

۱۴۱ زه هېڅ شی نه یم او سپکاوی مې کیږي

خو نه هېرومه اصولونه د ستا

۱۴۲ ستا عدالت دی ابدي

او ستا شریعت دی همېشه ربښتینی

۱۴۳ په ما راغلي پرېشاني او تکلیف

خو زه خوشحاله یمه ستا له حکمونو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴۴ د ستا حکمونه عادلانه دي همېش

ته پوهه راکړه چې ژوندی پاتې شم

## د شریرانو څخه د خلاصون دپاره دعا

۱۴۵ د زړه له کومي درته کومه فریاد

ځواب راکړه ای څښتنه

او زه به وکړمه عمل ستا په قوانینو باندې

۱۴۶ تاته فریاد کومه وژغوره ما

او زه به کومه عمل په حکمونو د ستا

۱۴۷ زه راپاڅېږم لمرخاته نه مخکې

او ستا د کومک دپاره کړمه فریاد

ستا په کلام کې زما هیلې نغښتې

۱۴۸ ټوله شپه ویښ پروت یمه

چې ستا د وعدو په هکله غور وکړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴۹ د خپلې مينې په خاطر زما دعا واوره

ای څښتنه، د خپل انصاف له مخې وساته ژوند زما

۱۵۰ رانژدې شوي هغه خلک راته

چې دي روان په شرارت پسې

يعنې هغوی چې دي لېرې ستا شريعت نه

۱۵۱ خو ته نژدې يې راته ای څښتنه

او ټول حکمونه دي رښتيني د ستا

۱۵۲ د ډېر پخوا نه مې زده کړي دي

ستا د حکمونو څخه

چې قايم کړي تا ابدي دي هغه

## د مرستې دپاره زارۍ

۱۵۳ زما دردونه او سختۍ وګوره

ماته خلاصون راکړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه شريعت دې ما هېر کړی نه دی

۱۵۴ زما د حق نه دفاع وکړه او ازاد مې کړه

ماته نجات راکړه لکه چې ښتنګه دې وعده کړې ده

۱۵۵ بدکاره خلک به خلاصون نه مومي

ځکه چې ستا د قوانینو اطاعت نه کوي

۱۵۶ ای څښتنه، ستا رحمت ډېر لوی دی

د خپل انصاف له مخې وژغوره ژوند زما

۱۵۷ ډېر دښمنان دي زما چې ځوروي هغوی ما

خو ګرځېدلی نه یم ستا له حکمونو څخه

۱۵۸ کله چې ګورمه زه دغو خاینانو ته

نو د هغو نه مې نفرت راشي

ځکه چې نه کوي عمل ستا په کلام باندې

۱۵۹ ګوره څښتنه، څومره مینه کوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا له اصولو سره

مینه دي هېڅکله بدلېږي نه

نو زما ژوند وژغوره

۱۶۰ دی ربښتیني ستا ټول کلام

عادلانه او ابدي دي

ټول قضاوتونه ستا

## د ښبنتن شریعت ته وقف کېدل

۱۶۱ ما بېسببه ځوروي دا د قدرت خاوندان

خو زه درناوی ستا د کلام کومه

۱۶۲ ستا په وعدو داسې خوشحاله یمه

لکه څوک چې خزانه پیدا کړي

۱۶۳ زه د دروغو څخه کرکه کوم او بد وړمه

خو ستا د شریعت سره زه مینه کوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶۴ هره ورځ اووه ځلې ثنا دې وایم

ځکه چې دې عادلانه قضاوتونه د ستا

۱۶۵ هغوی چې مینه کوي ستا له شریعته سره

دي برخمن له پوره امن څخه

هیڅ داسې شی نشته چې دوی راوغورځوي

۱۶۶ ستا د خلاصون په انتظار یمه زه ای ښتنه

کړمه عمل ستا په حکمونو باندې

۱۶۷ زه اطاعت ستا د حکمونو کوم

ځکه چې زه ورسره لرمه ډېره مینه

۱۶۸ ستا په اصولو او حکمونو زه عمل کومه

ځکه چې زما ټولو کارونو نه خبر یې ته

## د ښتن د شریعت سره مینه

۱۶۹ زما د مرستې فریادونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ای څښتنه تاته دروړسیږي

خپلې وعدې سره دې سم ماته پوهه راکړه

۱۷۰ زما زاري دې تاته دروړسیږي

خپلې وعدې سره دې سم ماته نجات راکړه

۱۷۱ زما په ژبه به وي ستا ثنا او صفت

ځکه چې ماته زده کوې خپل قوانین

۱۷۲ زه به سندره وایم ستا د کلام په هکله

ځکه چې دي عادلانه ټول حکمونه ستا

۱۷۳ ماته لاس د مرستې راکړه

ځکه چې ما دا غوره کړي

چې پیروي کومه ستا له اصولو څخه

۱۷۴ زه په ارمان ستا د نجات یمه ای څښتنه

ستا په شریعت کې خوشحالي ده زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷۵ ژوندی مې پرېږده چې ثنا دې وایم

ستا قوانین دې زما مرسته وکړي

۱۷۶ لکه ورک شوی پسه زه سرګردانه یمه

راشه او ولټوه خپل خدمتګار

ځکه چې ما هېر کړي نه دي حکمونه ستا

## د دروغجنو خلکو څخه د خلاصون دپاره دعا

## (په اورشلیم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۰

۱ ما د سختۍ په وخت کې وکړ فریاد څښتن ته

او هغه قبوله کړه دعا زما

۲ ما له دروغجنو او مکارو خلکو

وساته ای څښتنه

۳ ای مکارو خلکو، خدای به څه کوي له تاسو سره؟

تاسو ته څرنګه سزا به درکړي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ په تېرو غشو د عسکرو به سزا درکړي

او په سرو سکروټو باندې

۵ افسوس دې وي په ما

چې زه اوسېږمه په ماشک کې

د مسافر په شان

او هم اوسېږم د قيدار خيمو کې

لکه پردي په شان

۶ د هغو خلکو سره زه زيات اوسېدلی يمه

څوک چې نفرت کوي له سولې څخه

۷ زه غواړم سوله

خو چې زه کوم خبرې د سولې

هغوی جنګ غواړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خښتن زما ساتونکی

(په اورشلیم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۱

۱ سترګې مې غرونو ته نیولې دي

ماته له کوم ځایه به مرسته راځي؟

۲ ما سره کیږي مرسته د خښتن له خوا نه

چا چې جوړ کړي اسمان او ځمکه

۳ تا به پرېنږدي چې وښويیږې

د ستا ساتونکی بېداره پاتې کیږي

۴ په رښتیا څوک چې ساتونکی دی د اسراییلو

بېداره پاتې کیږي او هېڅکله نه ویده کیږي

۵ خښتن ساتونکی دی ستا

خښتن د سیوري په شان تا سره دی

۶ نه به لمر د ورځې تاته کوم زیان رسوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه سپوږمۍ په شپه کې

٧ تا به ښبنتن له هر ضرره ساتي

او تا به خوندي ساتي

٨ په تلو راتللو کې به دې ساتي ښبنتن

له همدااوس نه تر ابده پورې

## د اورشليم صفت کول

(په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره او د داود زبور)

# ١٢٢

١ کله چې ماته هغوی وويل:

«راځئ چې لاړ شو د ښبنتن کور ته»

نو ډېر خوشحاله شومه

٢ اوس مونږه دلته يو

ای اورشليمه! يو ولاړ په دروازو کې ستا

٣ اورشليم يو داسې ښار دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې جوړ شوی برابر او ښه ترتیب باندې

۴ دا هغه ځای دی چې راځي ورته قبیلې

قبیلې د ښښتن

چې اسراییلو ته د هغه د اوامرو مطابق

د هغه د نوم صفت وکړي

۵ ځکه تخت د عدالت دی ټینګ په هغه ځای کې

یعني د داود د خاندان تخت

۶ وکړئ دعا د سلامتی د اورشلیم دپاره

چې ورته ګران یې هغه خلک دې نېکمرغه اوسي

۷ وي دې سلامتي په دربارونو کې ستا

او وي ارامي دې په ماڼیو کې ستا

۸ د خپلوانو او دوستانو په خاطر

زه به وایم اورشلیم ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې سلامت اوسې ته

٩ زمونږ د څښتن خدای د کور په خاطر

دعا کومه زه ستا د خوشبختی دپاره

## د رحم او مهربانی دپاره دعا

### (په اورشلیم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ١٢٣

١ سترګې مې ستا په لور نیولې دي څښتنه

تاته چې تخت دې په اسمان کې دی

٢ مونږه سترګې دې نیولې ای زمونږه څښتن خدایه

لکه نوکر چې وي نیولې سترګې خپل بادار ته

لکه چې وینځې وي نیولې سترګې خپلې باداري ته

ترڅو په مونږ باندې ته رحم وکړې

٣ ای څښتنه، په مونږ ورحمیږه او په مونږه رحم وکړه

ځکه چې مونږ سره دی شوی ډیر زیات سپک رفتار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ په مونږ ملنډې وهل شوې ډېرې زياتې د شتمنو له خوا

او مونږ زغملى ډېر سپکاوى دى د مغرورانو

## څښتن د خپل قوم ساتونکى دى

(په اورشليم کې د خداى کور ته د تګ سندره او د داود زبور)

# ۱۲۴

۱ راکړئ ځواب اى د اسراييلو قومه

څه به شوي واى په مونږه

که څښتن نه واى طرفدار زمونږه

۲ که څښتن نه واى طرفدار زمونږه

کله چې وکړه حمله خلکو په مونږ باندې

۳ کله چې دوى وو ډېر په قهر په مونږ

دوى به تېر کړي واى ژوندي مونږه

۴ بيا به مونږ وړي واى سېلاب

او لاندې کړي به اوبو واى مونږه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ او غرمبېدونکو څپو به وای ډوب کړي مونږه

۶ ثنا او صفت دې وي څښتن ته

چې پرې يې نښودلو چې

مونږه ښکار شو د دښمن د غاښو

۷ لکه مرغۍ په شان يو مونږه تښتېدلي

د ښکاري له دامه

هغه دام وشلېده او مونږه ترې وتښتېدو

۸ مونږ ته کومک رارسي د څښتن له خوا نه

چا چې جوړ کړی دی اسمان او ځمکه

## د خدای د قوم امنيت

### (په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۵

۱ څوک چې څښتن باندې توکل کوي

دي د صهيون د غره په شان هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هېڅکله نه لړزېږي او ټینګ وي تل دپاره

۲ لکه څنګه چې ساتنه کېږي له اورشلیم نه

په غرونو له هرې خوا نه

داسې څښتن کوي ساتنه د خپل قوم څخه

له همدااوس نه تر ابده پورې

۳ بدکاران به همېش نه کوي حکومت

په هغې ځمکې چې ورکړل شوې ده نېکانو ته

هسې نه چې نېکان خلک شي اخته بدو کارونو باندې

۴ کوم خلک چې ښه وي ای څښتنه، کوه ښه ورسره

د هغه چا سره چې زړونه یې پاک وي

۵ خو بدکارانو ته چې څښتن کله سزا ورکوي

نو سزا دې ورکړي هغو کسانو ته هم

چې ګرځېدلي ستا له لارې څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلامتي دې وي په اسراييلو باندې

## د اسيرتوب څخه وروسته د خوشبختۍ دپاره دعا

(په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۶

۱ کله چې بېرته څښتن راوستلو مونږه

اورشليم ته له اسارته څخه

معلومېده داسې چې مونږ ليدلی دی کوم خوب

۲ خومره مونږ وخندل

او د خوشحالۍ نه مونږ ووهلې چيغې

بيا نورو قومونو داسې وويل زمونږ په هکله

څه عجيبه کارونه وکړل څښتن هغوی ته

۳ په رښتيا چې څښتن وکړل مونږ ته عجيبه کارونه

خومره خوشحاله وو مونږ

۴ مونږه څښتنه يوځل بيا خوشبخت کړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه باران چې بېرته راولي اوبه وچو سيندونو ته

۵ ځوک چې په خپلو اوښکو کښت کوي

د خوشحالۍ په چيغو به هغه لو کاندي

۶ ځوک چې وځي په ژړا دباندې

او هغه وړي تخم د کښت دپاره

بېرته به راوړي خپل حاصل د خوشحالۍ په چيغو

## ښبنتن د کور جوړوونکی دی

(په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره او د سليمان زبور)

# ۱۲۷

۱ ترڅو ښبنتن جوړ نه کړي کور

نو بېفايدې به وي د جوړوونکو کار

ترڅو ښبنتن ونه ساتي هغه ښار

نو بېفايدې به وي ولاړ ورته پهرهدار

۲ دا بېفايدې ده چې سخت کار وکړئ خواړه پيدا کړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې شپې ویده شئ تر ناوخته، سهار وختي پاڅېږئ

ځکه ښښتن ورکوي رزق هغو ته چې مینه کړي ورسره

که ویده هم پراته وي

۳ اولادونه دي تحفې د ښښتن له خوا نه

او ماشومان دي اجر د هغه

۴ په ځوانۍ کې چې زامن د چا پیدا شي

لکه غشي چې وي لاس کې د عسکر

۵ بختور هغه سړی دی چې وي کڅوړه یې

له داسې غشو ډکه

ماتې به هېڅکله ونه خوري هغه

چې شي دعوه یې له دښمنه سره

د جرګې په ځای کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښبنتن ښخه د اطاعت کولو اجر

(په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۸

۱ بختور دي هغه خلک چې وېرېږي له ښبنتنه

او څوک چې روان وي د هغه په لاره

۲ ستاسو کار به کړي پوره ضرورتونه ستاسو

اوسئ خوشحاله او نېکمرغه به يئ

۳ ستا ښځه به ستا کور کې وي

لکه د مېوه‌دارو انګورو د تاک په شان

او ستا اولادونه به وي د زيتون د ونو په شان

وي به راتاو په دسترخوان د ستا

۴ هغه خلک به بختور وي

چې کوي وېره له ښبنتنه ښخه

۵ له صهيونه دې ښبنتن برکت درکړي درته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په ټول ژوند کې دې ته وينې اورشليم اباد

٦ او تر هغې دې يې ژوندی چې دې لمسيان ووينې

سلامتي دې وي په اسراييلو باندې!

## د اسراييلو د دښمنانو په ضد دعا

## (په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۲۹

١ پرېږده چې قوم د اسراييل ووايي:

«هغوی ځومره ځورولی يمه

خپل دښمنانو د ځوانی له وخته

٢ چې هغوی ځومره ځورولی يمه

خپل دښمنانو د ځوانی له وخته

خو دوی په ما بريالي شوي نه دي

٣ هغوی جوړ کړي دي زخمونه زما په ملا باندې

لکه چې ځوک وکړي قلبه په ځمکه»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ خو ښبنتن چې دی عادل

او زه يې ازاد کړمه

د بدکارانو له رسيو ښخه

۵ هرڅوک چې کرکه له صهيون نه کوي

هغوی دې وشرميږي او ودې تښتي

۶ هغوی دې شي هغو وابنو په شان

چې راشنه کيږي په بامونو باندې

چې شي وچ د غټېدو نه مخکې

۷ هېڅوک دې نه کاندي راټول هغه

يا ترې ګېډۍ جوړې کړي

۸ نه دې هېڅ يو لاروی ووايي

چې ښبنتن دې تاته برکت درکړي

يا د ښبنتن په نوم تاته برکت درکوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بخښنې او رحم دپاره دعا

(په اورشليم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۳۰

۱ د ډېرې زياتې مايوسۍ نه

کړم فرياد تاته ای ښښتنه

۲ زما زاری واوره ای ښښتنه

فرياد مې واوره د کومک په خاطر

۳ که مو حساب د ګناهونو وکړې ای ښښتنه

نو څوک ستا مخکې ودرېدلی شي؟

۴ خو ته بخښونکی يې

نو بايد مونږ وويرېږو ستا څخه

۵ زه ښښتن ته انتظار کومه

زه په خپله انتظار کومه

او په کلام يې زه باور لرمه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ زه انتظار کوم څښتن دپاره

د دې نه زيات انتظار

چې پهره‌دار يې تر سهاره کوي

د دې نه زيات انتظار

چې پهره‌دار يې تر سهاره کوي

۷ اى اسراييلو، په څښتن باندې باور ولرئ

ځکه چې مينه يې تلپاتې ده

او هغه راضي دى همېشه چې درکړي خلاصون

۸ هغه په خپله به خپل قوم اسراييل

له خپلو ټولو ګناهونو خلاص کړي

## د خاکساره سړي دعا

(په اورشليم کې د خداى کور ته د تګ سندره او د داود زبور)

# ۱۳۱

۱ اى څښتنه، زما په زړه کې کبر نشته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما په سترګو کې غرور نشته

نه کوم فکر هغه څه په هکله چې دي بهر زما له وسه

یا هغو کارو په هکله چې ډېر سخت دي راته

۲ بلکې ارام او خاموش مې کړ ځان

لکه ماشوم چې د خپلې مور غېږ کې ارام پروت وي

نو داسې ماشوم په شان مې زړه دی ارام

۳ ای اسراییلو، په څښتن باندې باور ولرئ

له همدااوس نه تر ابده پورې

## داود او د خدای کور

(په اورشلیم کې د خدای کور ته د تګ سندره)

# ۱۳۲

۱ ای څښتنه، در په یاد کړه داود

ټولې سختی یې چې زغملې در په یاد کړه هغه

۲ ای څښتنه، در په یاد هغه قسم کړه چې هغه کړی ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نذر يې ورکړ ستا په نوم:

«ای د يعقوب قادره خدايه

۳ نه به زه لاړ شمه خپل کور ته

او نه به وکړمه ارام خپل کټ کې

۴ زه به نه شم ويده

او يوه شيبه به هم ارام ونه کړم

۵ ترڅو تيار نه کړمه ځای زه د څښتن دپاره

او د اوسېدو ځای د يعقوب د قادر خدای دپاره»

۶ د لوط صندوق نه شو خبر په افراته کې

او هغه مو وموند د يعاريم سيمه کې

۷ مونږ داسې وويل:

«راځئ چې لاړ شو د څښتن د اوسېدو ځای ته

راځئ چې وکړو عبادت د هغه د تخت مخې ته»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ راشه خپل کور ته ای ښبتنه، د لوظ د صندوق سره

چې ده نښه د قدرت ستا

او هلته اوسه ته د تل دپاره

۹ ستا کاهنان دې ځان سمبال کړي د صداقت په لباس

ستا وفادار خلک دې وهي د خوشحالۍ چيغې

۱۰ خپل خدمتګار داود په خاطر

مخ مه اړوه د خپل غوره شوي پاچا څخه

۱۱ ښبتن خوړلی سخت قسم دی له داود سره

داسې قسم چې هغه به يې نه ماتوي:

«چې زه به يو کس ستا د زامنو څخه

د ستا په تخت کښېنوم

۱۲ که زما لوظ ته وفادار اوسي د ستا زامن

او هغو حکمونو ته چې زه يې ورکوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د دوی زامن به تر ابده پورې

ناست وي ستا په تخت باندې»

۱۳ ځکه څښتن دی خوښ کړی صهیون

او هغه غوښتل چې ورنه جوړ کړي خپل کور

۱۴ هغه وویل: «دا زما کور دی تر ابده پورې

زه به اوسېږم دلته ځکه خوښ کړی دی ما

۱۵ زه به يې پوره کړم حاجتونه ټول

او غریبان به يې په خوړو ماړه کړم

۱۶ کاهنان به يې سمبال کړم د خلاصون په لباس

او وفادار خلک به يې چیغې وهي د خوشحالۍ

۱۷ د داود د اولادې نه به یو تن قوي پاچا کړم دلته

زما غوره شوی پاچا به وي څراغ زما د قوم دپاره

۱۸ زه به رسوا کړم دښمنان د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو زه به کامیابه او ښایسته کړم پاچاهي د هغه»

## یو د بله سره په سوله کې ژوند تېرول

(په اورشلیم کې د خدای کور ته د تګ سندره او د داود زبور)

# ۱۳۳

۱ خومره ښه او په زړه پورې ده دا

د خدای د قوم دپاره چې کله اوسیږي

هغوی په اتفاق سره

۲ دا د مسح کولو د قیمتي تېلو په شان دي

چې راتویيږي د هارون په سر اوږیرې باندې

او راتویيږي یې د چپن په غاړه

۳ دا لکه پرخه چې پرته وي د حرمون په غره

چې راوریږي د صهیون په غرونو

دا هغه ځای دی چې ښښتن ورکړ برکت

د داسې ژوند چې ختميږي نه هیڅکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای ته د ثنا او صفت کولو دپاره بلنه

(په اورشلیم کښې د خدای کور ته د تګ سندره)

۱۳۴ ۱ ای د ښښتن ټول خادمانو

ای هغو خلکو چې خدمت کوئ

د شپې د هغه په کور کې

د ښښتن ثنا او صفت وکړئ

۲ لاسونه پورته کړئ سپیڅلي ځای ته د دعا دپاره

او د ښښتن ثنا او صفت وکړئ

۳ هغه ښښتن چې یې جوړ کړي دي اسمان او ځمکه

له صهیونه دې برکت درکړي درته

د ثنا او صفت سندره

۱۳۵ ۱ ثنا او صفت دې وي ښښتن ته!

ثنا او صفت وکړئ د هغه د نامه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای بندګانو د څښتن، د هغه ثنا او صفت وکړئ

۲ ای هغو خلکو چې خدمت کوئ

د څښتن په کور کې

په حویلی کې زمونږ د خدای د کور

۳ د څښتن ثنا او صفت وکړئ

ځکه چې نېک دی هغه

ثنا او صفت يې د نامه وکړئ په سندرو سره

ځکه چې خوند کوي

۴ ځکه هغه خوښ کړی دی يعقوب د خپل ځان دپاره

د اسراییلو خلک چې شي د هغه خپل ملکیت

۵ لوی دی څښتن په دې پوهېږمه زه

لوی دی څښتن زمونږه

له نورو ټولو خدایانو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ ښښتن کوي هغه څه چې څه يې خوښه وي

که په اسمان کې وي يا وي په ځمکه باندې

که دريابونو کې وي يا يې په تل کې وي

٧ راولي ورېځې د دنيا له اخر سره څخه

برېښنا رالېږي د بارانه سره

او له خپلو ذخيرو نه رالېږي بادونه

٨ لومړني زېږېدل شوي يې د مصريانو مړه کړل

هم د انسانانو او حيواناتو

٩ هغه په مصر کې ښکاره کړې معجزې

او ويې کړل عجيبه کارونه

د فرعون او د هغه د ټولو درباريانو په ضد

١٠ هغه له منځه يووړل ډېر قومونه

او هغه مړه کړل زورور پاچاهان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ يعنې سيحون د اموريانو پاچا

عوج د باشان پاچا

او د کنعان ټول پاچاهان

١٢ د هغوی هېوادونه يې خپل قوم ته

په ميراث کې ورکړل

يعنې اسراييلو ته چې د هغه خپل قوم ؤ

١٣ څښتنه، نوم به دې همېش يادېږي

او يادوي به ټول نسلونه تا

١٤ څښتن کوي به دفاع له خپلو خلکو څخه

هغه به رحم کوي خپل خادمانو باندې

١٥ د نورو قومونو بتان جوړ دي

له سرو او سپينو زرو څخه

هغه جوړ شوي د انسان په لاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ د هغوی خولې شته، خو خبرې پرې کولای نه شي

سترګې يې شته، خو پرې ليدلی نه شي

۱۷ غوږونه يې شته، خو پرې اورېدلی نه شي

په خپلو خولو باندې ساه اخيستلی نه شي

۱۸ چې جوړوي څوک هغه او څوک چې باور پرې لري

هغوی دې شي هغو بتانو په شان چې جوړوي هغه

۱۹ ای د اسراييلو قومه، ووايئ ثنا د څښتن

ای د هارون کورنۍ، د هغه ثنا ووايئ

۲۰ ای د لاوي قبيلې، ووايئ ثنا د څښتن

ای ټولو خلکو چې کړئ وېره له څښتنه

ووايئ ثنا د څښتن

۲۱ په صهيون کې د څښتن ثنا او صفت ووايئ

د هغه چا چې اوسيږي اورشليم کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښښتن ثنا او صفت وکړئ!

## د شکرګزارۍ سندره

# ۱۳۶

۱ د ښښتن شکر کوئ

ځکه چې نېک دی هغه

ده ابدي د هغه مينه

۲ کوئ شکر د خدايانو د خدای

ده ابدي د هغه مينه

۳ شکر کوئ د ښښتنانو د ښښتن

ده ابدي د هغه مينه

۴ يوازې هغه دی چې لويې معجزې ښايي

ده ابدي د هغه مينه

۵ هغه پيدا کړي اسمانونه

په خپل حکمت باندي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده ابدي د هغه مینه

۶ خپره کړې یې ده ځمکه د اوبو دپاسه

ده ابدي د هغه مینه

۷ پیدا کړې هغه لویې رڼاګانې

ده ابدي د هغه مینه

۸ لمر چې حکومت کوي په ورځ باندې

ده ابدي د هغه مینه

۹ سپوږمۍ او ستوري چې حکومت کوي

په شپې باندې

ده ابدي د هغه مینه

۱۰ لومړني زېږېدل شوي یې د مصریانو مړه کړل

ده ابدي د هغه مینه

۱۱ د اسراییلو قوم یې راوویست د مصر څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده ابدي د هغه مينه

۱۲ په خپل قوي لاس او قدرتمندو متږو

ده ابدي د هغه مينه

۱۳ سره بحيره يې کړله بېله منځ کې

ده ابدي د هغه مينه

۱۴ د هغې له منځ نه يې خپل قوم تېر کړ

ده ابدي د هغه مينه

۱۵ خو فرعون او د هغه لښکر يې

غرق کړل سره بحيره کې

ده ابدي د هغه مينه

۱۶ خپل خلک يې بوتلل د بيابان له لارې

ده ابدي د هغه مينه

۱۷ رانسکور کړل هغه لوی پاچاهان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده ابدي د هغه مینه

۱۸ هغه مړه کړل قدرتمند پاچاهان

ده ابدي د هغه مینه

۱۹ هغه مړ کړلو سیحون د اموریانو پاچا

ده ابدي د هغه مینه

۲۰ مړ یې کړ عوج د باشان پاچا

ده ابدي د هغه مینه

۲۱ د هغوی هېوادونه یې خپل قوم ته

په میراث کې ورکړل

ده ابدي د هغه مینه

۲۲ هغه یې ورکړل خپل خدمتګار اسراییل ته

ده ابدي د هغه مینه

۲۳ کله چې مونږ وخوړه ماتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه هېر نه کړلو

ده ابدي د هغه مینه

۲۴ مونږ یې له خپلو دښمنانو خلاص کړو

ده ابدي د هغه مینه

۲۵ هغه ورکوي رزق هر ژوندي مخلوق ته

ده ابدي د هغه مینه

۲۶ شکر وباسئ د اسمانونو خدای ته

ده ابدي د هغه مینه

## د اسراییلیانو د جلاوطنۍ په اړه ویر

# ۱۳۷

۱ مونږه په غاړه د سیندونو د بابل کښېناستو

مونږ هلته وژړل په یاد د صهیون

۲ مونږه ځوړند کړل خپل ربابونه

د سپېدار په څانګو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ هغو کسانو چې نیولي يې وو مونږ هلته

مونږ ته يې وويل چې سندرې وايئ

چې زمونږ وخت ښه تېر شي

مونږ ته ووايئ يوه سندره د صهيون په هکله

۴ څنګه کولای شو مونږ

چې د څښتن سندره ووايو

په پردي وطن کې؟

۵ ای اورشليمه، که مې هېر کړلې ته

نو زما ښي لاس دې شي شل

چې بيا ونه وهم رباب

۶ که زه تا ياد نه کړمه اورشليمه

که زه د ستا په هکله ونه کړم فکر

چې ته يې لويه خوشحالي زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ودې نښلي زما ژبه په تالو کې

چې بيا ونه وايم سندرې کله

٧ ياد کړه ښښتنه، څه وکړل ادوميانو

په هغه ورځ چې اورشليم تسخير شو

ياد کړه چې څنګه دوی وهلې چيغې:

«هغه وران کړئ، هغه وران کړئ

وران يې کړئ تر تهدابونو پورې»

٨ ته به نابود شې ای بابله

بختور دې هغه خلک

چې تا سره وکړي هغه کار

چې تا کړی ؤ زمونږ سره

٩ بختور دې هغه خلک

چې ماشومان ستا نيسي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او وهي يې د ګټانو سره

## د شکرګزارۍ دعا

(د داود زبور)

# ۱۳۸

۱ د زړه د اخلاصه دې وباسم شکر ای څښتنه

نورو خدايانو مخکې زه وايم ستا د ثنا سندره

۲ کوم سجده ستا د سپېڅلي کور په لور

او ثنا او صفت دې د نامه کومه

ستا د تلپاتې مينې او وفادارۍ په خاطر

څکه خپل نوم او خپل کلام دې کړ اوچت

ټولو شيانو باندې

۳ چې کله سوال درته ما کړی قبول کړی دی تا

په خپل قدرت دې قوي کړی يم زه

۴ د نړۍ ټول پاچاهان به ستا ستاينه کوي ای څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې خاطر چې ستا کلام دی اورېدلی هغوی

۵ وایي سندرې به هغوی هغو کارو په هکله

کوم چې کړي دي تا

ځکه چې لوی دی ستا جلال

۶ سره له دې چې ډېر عظیم یې ته

خو پام کوې په عاجزانو باندې

خو کبرجن خلک ته پېژنې له لیرې څخه

۷ کله چې زه لاس او ګرېوان یم تکلیفونو سره

ته مې خوندي ساتې

ته ودرېږې زما د قهرجنو دښمنانو مخې ته

او بچ کوې مې ته په خپل قوي لاسونو باندې

۸ ته به سرته رسوې خپل مقصد زما دپاره

ده ابدي ستا مینه ای څښتنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا پیدا کړي یو او مونږ مه پرېږده ته

## د خدای کامله پوهه او پاملرنه

(د سرود ویونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۱۳۹

۱ ای څښتنه، زه ازمایلی یم تا او ما پېژنې ته

۲ کله چې زه کوم ارام او یا کار کومه

نو ته خبرېږې پرې

ته د لېرې نه پوهېږې په فکرونو زما

۳ ته مې ښه وینې که زه ګرځم او که ملاست یم

ټولو اعمالو نه خبر یې زما

۴ خبره نه وي لا وتلې مې د خولې نه

ته پرې بیخي پوهېږې ای څښتنه

۵ د کټارې په شان زما نه ته چاپېر یې

خپل لاس دې ایښی وي زما په سر باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ داسې معلومات چې ته يې لرې زما په هکله

حيرانوونکی دی ډېر

زما د عقل نه اوچت دی دا

۷ وتېښتم چېرته ستا نه؟

ستا له حضوره چېرته لېرې لاړ شم؟

۸ که چېرې وخېژم اسمان ته نو ته يې هلته

که زه څملم د مړو دنيا کې نو ته يې هلته

۹ که ما کولای شول چې والوزمه هغه ځای ته

چې په کې لمر راخېژي

يا مې کولای شول چې واوسېږم هغه ځای کې

چېرته چې لمر پرېوځي

۱۰ هلته به هم يې چې ماته وکړې لارښوونه

ته به هلته يې چې ما سره کومک وکړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ که زه ووایم تیارې نه چې ما پټ کړي
یا رڼا نه چې شاوخوا مې ده بدله په تیاره شي
١٢ خو حتی تیاره هم تاته نه ده تیاره
او شپه د ستا دپاره ده د رڼا ورځې په شان
ځکه تاته رڼا او تیاره یوشان دي
١٣ تا جوړه کړې هره برخه د بدن ده زما
هغه دې ټولې یوځای کړې زما د مور ګېډه کې
١٤ ثنا او صفت کومه ستا ځکه چې زه دې پیدا کړی یمه
په عجیبه او په مرموزه توګه
او په دې خاطر چې ټول کارونه عجیبه دي ستا
په دې ډېر ښه پوهېږم
١٥ چې کله هډوکي جوړېدل زما
یوځای کېدل هغه په غور سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما د مور ګېډه کې

چې لويېدمه پټ په هغه ځای کې

ته پوهېدلې چې زه هلته ومه

١٦ مخکې له دې نه چې پيدا شمه زه

تا ليدلی ؤ زما نامکمله بدن

تا زما د ژوند ورځې چې دې ټاکلې وې زما دپاره

ټولې ليکلې دې وې په خپل کتاب کې

١٧ څومره قيمتي دي ستا فکرونه زما دپاره خدايه

څومره زيات دي هغه

١٨ که زه يې وشمېرمه

نو وي به زيات هغه له شګو څخه

چې راببېدار شمه زه نو بياهم تا سره يم

١٩ ای خدايه، کاشکې ته ووژنې بدکاره خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاشکې پرېږدي قاتلان خلک ما

۲۰ بدي خبرې کوي دوی تا پسې

او ستا دښمنان غلطه ګڼه اخلي ستا د نامه څخه

۲۱ ای څښتنه، ایا ونه کړم کرکه هغه چا نه

چې کوي کرکه تا نه؟

او بېزاره نه شم هغه چا نه

چې سرکښي کړي تا نه؟

۲۲ بیخي نفرت کوم هغوی نه

هغوی ګڼمه لکه خپل دښمنان

۲۳ ای خدایه، ته ما وازمایه او زما له زړه خبر شه

ما امتحان کړه او شه خبر له اندېښنو نه زما

۲۴ وګوره ماته که روان یم زه په بده لاره

او د تل ژوندون په لاره وکړه لارښوونه زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بدکارانو څخه د ساتنې دپاره دعا

(د سرود ويونکو د مشر دپاره: د داود زبور)

# ۱۴۰

۱ ماته نجات راکړه ای څښتنه

له بدکارانو څخه

له ظالمانو مې خوندي وساته

۲ جوړوي بدې دسيسې

په خپلو زړونو کې دوی

هميشه جنګ او دعوې جوړوي

۳ د مار د نيش په شان دي تيزې د هغوی ژبې

د دوی له خولې راوځي خبرې د زهرجن مار په شان

۴ ومې ساته ته ای څښتنه د بدکارانو له منګولو

له ظالمانو مې خوندي وساته

ځکه نقشې جوړوي زما د تباهی دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ مغروره خلکو راته ایښې دی دام

دوی راته ایښې تیلک

او زما په لاره کې یې ایښي دي دامونه

چې راګیر مې کړي

۶ څښتن ته وایمه زه: «ته زما خدای یې»

زارۍ مې واوره ای څښتنه د رحم دپاره

۷ ای زما څښتن تعالی، ای زما قوي ژغورونکیه

د جنګ میدان کې ته زما دپاره سپر شوې

۸ پوره نه کړې ارمانونه د بدکارو خلکو ای څښتنه

پرېنږدې چې کامیابې دسیسې شي د دوی

هسې نه چې مغروره شي دوی

۹ پرېنږدې چې کامیاب شي دښمنان زما

شي راګیر دې دوی په خپلو بدو خبرو کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ سرې سکروټې دې راووري هغوی باندې

اور ته دې وغورځول شي هغوی

او ودې غورځول شي ژورو کندو ته

او بیا دې هېڅکله راونه وځي

۱۱ هغه خلک دې کامیاب نه شي

چې په نورو په ناحقه لګوي تورونه

بدي دې راشي په ظالمو خلکو

او کړي برباد دې هغوی

۱۲ څښتنه، زه پوهېږم

چې ته کوې د غریبانو دفاع

او کوې انصاف د حاجتمندو سره

۱۳ نېکان خلک به په رښتیا وایي ثنا ستا د نوم

او صادقان به ستا حضور کې کوي ژوند

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د شپې دعا

(د داود زبور)

# ۱۴۱

۱ تاته زاري کوم څښتنه

همدااوس راسره وکړه مرسته

کله چې تاته کړم زاري نو ته مې واوره اواز

۲ ته قبوله کړه دعا زما لکه د خوشبويی په شان

ما لاسونه پورته کړي په دعا کې ته قبوله يې کړه

لکه چې څنګه قبلوې ته د ماښام قرباني

۳ ای څښتنه، راسره مرسته وکړه

چې وساتمه خپله خوله په واک کې

چې بدې خبرې مې ونه وځي له شونډو څخه

۴ ومې ساته چې شوقمن نه شم زه د بدو کارو

مه مې پرېږده چې شم شريک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بدو خلکو په کارونو کې زه

او شریک دې نه شم

د هغوی په مېلمستیاوو کې زه

۵ چې نېک سړی مې وهي

نو مهرباني به یې وي

که رټي مې هغه

دا به وي د ښې دوا په شان

چې زه یې رد نه کړمه

خو زه دعا کومه تل د بدکارانو د عملونو په ضد

۶ د ګړنګونو نه چې کله راګوزار شي حاکمان د هغوی

بدکاره خلک به اقرار وکړي

چې خبرې وې رښتیا زما

۷ هغوی به وايي: «لکه څنګه چې قلبه کوي څوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او میده کوي خاورې

داسې خواره واره پراته به وي

زمونږ هډوکي د قبر خوله کې»

۸ خو سترګې په لاره یمه زه تاته

د کومک دپاره ای څښتن تعالی

تا نه پناه غواړمه

مه مې پرېږده چې مړ شم

۹ ومې ساته هغو دامونو څخه

چې راته ایښې هغوی

د بدکارانو د تیلکونو څخه

۱۰ بدکاران دې شي راګیر خپلو دامونو کې

او زه ترې تېر شم روغ رمټ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دښمنانو څخه د خلاصون دپاره دعا

(د داود زبور کله چې هغه په سمڅه کې ؤ)

# ۱۴۲

۱ زه فرياد کوم څښتن ته

د رحم دپاره ورته کومه زارئ

۲ شکايتونه خپل ټول وړاندې کوم هغه ته

تکليفونه خپل ټول بيانوم هغه ته

۳ کله چې روح زما کمزورئ شي

نو ته پوهيږې چې په کومه لاره لاړ شمه زه

په هغه لاره چې روان يمه زه

زما دښمنانو راته ايښئ پټ دام

۴ کله چې خپل شاوخوا ته وګورم زه

هيڅوک نه وينم چې زما کومک ته راشي

هيڅ پناه ځای نه لرم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته هېڅوک چې په ما پام وکړي

٥ ای څښتنه، زه فریاد کومه تاته

ځکه چې ته یې پناه ځای زما

په دې ژوند کې چې څه غواړم هغه ته یې

٦ زما فریاد واوره کومک دپاره

ځکه چې زه خوار او زار شوی یمه

ماته نجات راکړه د خپلو دښمنانو څخه

ځکه هغوی دي ډېر قوي زما نه

٧ ته مې خلاص کړه له دې زندانه څخه

نو بیا به زه ستا د نامه ثنا او صفت کومه

ستا د نېکانو په غونډه کې

ځکه چې ما سره دې کړی احسان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د رحم دپاره دعا

(د داود زبور)

# ۱۴۳

۱ ای څښتنه، زما دعا واوره

زما زاريو ته ته غوږ ونيسه

خپلې وفادارئ او عدالت سره قبوله کړه دعا زما

۲ خپل خدمتګار دې محاکمه نه کړې ته

څوک بېګناه نشته دی ستا نظر کې

۳ دښمنان په ما پسې دي

او زه يې ځپلی يمه

زه يې اچولی يم تياره ځای کې

د هغو خلکو په شان

چې دي مړه شوي ډېر پخوا

۴ نو کمزوری شوی زما روح دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېر وېرېدلی او نااميده يمه

٥ رايادومه تېر وختونه زه

کوم کارونه چې تا کړي دي

د هغو ټولو په هکله کومه فکر زه

ستا ټول کارونه راولم ذهن ته

٦ پورته کومه خپل لاسونه په دعا کې تاته

د وچې ځمکې په شان تږی زما ځان دی تاته

٧ زر مې قبوله کړه دعا څښتنه

ټول اميدونه مې ورکړي دي له لاسه

ته دې خپل مخ له ما نه مه اړوه

که نه نو زه به د هغو په شان شم

چې وي روان قبر ته

٨ هر سهار راته رایاده کړه ته خپله تلپاتې مينه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې تا باندې باور لرمه

ستا درګاه ته زه دعا کومه

راته وښايه ته لاره چې پرې لاړ شمه زه

٩ د دښمنانو نه مې خلاص کړه ته

ځکه چې تاته مې راوړې ده پناه خښتنه

١٠ ته زما خدای يې، ماته وښايه ته خپله رضا

چې يې پوره کړمه زه

ستا نېک روح دې ماته وښايي سمه لاره

١١ د خپل نوم په خاطر دې ای خښتنه زما ژوند وساته

خپل عدالت په خاطر خلاص کړه تکليفونو نه ما

١٢ د خپلې تلپاتې مينې په خاطر

مړه دښمنان کړه زما

تباه کړه هغه خلک چې کوي ظلم په ما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې زه ستا خدمتګار يمه

## د برياليتوب په خاطر د پاچا شکرګزاري

(د داود زبور)

# ۱۴۴

۱ ثنا او صفت دې وي څښتن ته

چې دی ساتونکی زما

چې راکوي راته روزنه د جګړې دپاره

او تياروي مې جنګ ته

۲ هغه زما مينه ناک خدای دی

او قوي کلا ده زما

دی پناه ځای او ژغورونکی زما

هغه دی سپر زما چې په کې اخلم پناه

او خلک راولي زما د فرمان لاندې

۳ ای څښتنه، انسان څه دی چې پرې پام کوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فاني انسان چې ته يې خيال ساتې؟

۴ هغه دی لکه د ساه په شان

عمر يې تېرېږي لکه سيوري په شان

۵ دروازې خلاصې کړه

د خپلو اسمانونو ای څښتنه

او شه راښکته لاندې

غرونو ته لاس وروړه

چې ترې لوګی پورته شي

۶ ته راولېږه برېښنا او تندر

او خواره واره کړه دښمنان دې خپل

غشي ګوزار کړه او وارخطا کړه هغوی

۷ لاس دې رااوږد کړه له اسمانه

ژورو اوبو نه مې راوباسه او راکړه خلاصون

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما کړه خلاص د پردو خلکو د لاسونو څخه

٨ چې هغوی هېڅکله رښتیا نه وایي

او خوري قسم په دروغو

٩ ای خدایه، نوې سندره به زه وایم تاته

زه تاته وایم به سندرې د چنګ په غږولو سره

١٠ ته پاچاهانو ته بری ورکوې

او ته خلاصون ورکوې خپل خدمتګار داود ته

د وژونکې تورې څخه

١١ ماته خلاصون راکړه

ما کړه خلاص د پردو خلکو د لاسونو څخه

چې هغوی هېڅکله رښتیا نه وایي

او خوري قسم په دروغو

١٢ زمونږ زامن دې په ځوانۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي قوي لکه د بوټو په شان

زمونږ لورګانې دې وي د ښايسته ستنو په شان

چې پرې سينګار وي د ماڼۍ کنجونه

۱۳ ګودامونه دې وي ډک زمونږه

د هر ډول غلو دانو

په څړځايونو کې دې مېږې زمونږ

راوړي بچي په زرونو او لس ګونو زرو

۱۴ زمونږ غواګانې دې بچي راوړي پرېمانه

او درز دې نه وي زمونږ د ښار په دېوالونو کې

او څوک دې يو نه وړل شي په اسارت باندې

د غم ژړا دې نه وي زمونږ کوڅو کې

۱۵ بختور دي هغه خلک چې پرې وي برکتونه داسې

بختور دي هغه خلک چې څښتن يې خدای دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(د داود د ثنا او صفت یوه سندره)

# ۱۴۵

۱ بیانوم به ستا لویي ای زما خدایه ای زما پاچا

زه تر ابده به کوم ستا د نامه ستاینه

۲ زه هره ورځ به ستا ثنا وایمه

ثنا او صفت به ستا د نوم کړم تر ابده پورې

۳ څښتن لوی دی او لایق دی د ډېر زیات صفت

زمونږ د پوهې نه بهر ده د هغه لویي

۴ ستا د کارونو به صفت کیږي

له یوه نسل نه تر بله پورې

بیانوي به هغوی ستا زورور کارونه

۵ دوی به کوي ستا د جلال او شان او شوکت خبرې

او زه به کومه غور ستا په عجیبه کارونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خلک به خبرې کوي

ستا د قوي او هیبتناکه کارو په هکله

او بیانوم به زه لویي د ستا

۷ بیانوي به هغوی زیاتې نېکی ستا

او وایي سندرې به په خوشحالی سره

ستا د عدالت په هکله

۸ ښتن رحیم او مهربانه دی

زر نه په قهرېږي او مینه یې ډېره او تلپاتې ده

۹ مهربانه په هرچا دی هغه

او رحم کوي په خپلو ټولو مخلوقاتو باندې

۱۰ ټول مخلوقات به ستا ای ښتنه وکړي شکر ستا

او ستا وفادار خلک به ووایي ثنا د ستا

۱۱ هغوی به خبرې وکړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د پاچاهۍ د جلال په هکله

او بيانوي به ستا قدرت

۱۲ ترڅو خبر شي ټول خلک ستا له زورورو کارو

او ستا د شاهۍ له شان شوکته څخه

۱۳ ابدي ده پاچاهي ستا

او تل ترتله به پاچا يې ته

خپلو وعدو ته وفادار دی څښتن

او ټولو کارونو کې رحيم دی هغه

۱۴ کوي مرسته د هغو خلکو سره

چې په تکليف کې وي

لاس ورکوي کړوپ شويو خلکو ته

۱۵ ټولو ژونديو موجوداتو د اميد سترګې نيولې تاته

چې په خپل وخت ورته خواړه ورکړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ ته يې پرېمانه ورکوې هغوی ته

او پوره کوې غوښتنې د ټول ژوندي مخلوق

١٧ ټولو کارونو کې عادل دی ښښتن

او ټولو کارونو کې رحيم دی هغه

١٨ ښښتن نژدې دی هغه چاته چې ورته کړي فرياد

هغه چاته چې په اخلاص ورته فرياد کوي

١٩ پوره کوي غوښتنې د هغو چې وېره کړي له هغه

هغه يې اوري فريادونه او خلاصون ورکوي

٢٠ څوک چې کوي ورسره مينه نو ساتي يې هغه

خو بدکاران به ټول تباه کړي هغه

٢١ ثنا او صفت به زه د ښښتن کومه

ټول مخلوقات دې تل صفت کړي د هغه د پاک نوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۴۶

۱ د ښتن ثنا او صفت وکړئ

ووایه ثنا د ښتن ای زما ځانه!

۲ ترڅو ژوندی یم زه به وایمه ثنا د هغه

زه به خپل خدای ته ټول عمر سندرې وایم

۳ په قدرتمندو خلکو تاسو توکل مه کوئ

هېڅ فاني انسان تاسو ژغورلی نه شي

۴ کله چې مړه شي هغوی، بېرته ورځي خاورو ته

په هغه ورځ به شي برباد ټولې نقشې د دوی

۵ بختور دی هغه څوک چې مددګار یې دی خدای د یعقوب

چې یې امید په خپل ښتن خدای باندې وي

۶ چې دی خالق د اسمان، ځمکې او دریابونو

او هرڅه چې دي هغو کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ولاړ وي همېشه خپلو وعدو باندې

۷ چې انصاف کوي د مظلومانو سره

او وږيو خلکو ته خواړه ورکوي

څښتن بنديان ازادوي

۸ او بينا کوي ړانده

لاس ورکوي کږوپ شويو خلکو ته

د نېکو خلکو سره مينه کوي

۹ هغه ساتنه کوي د پردو خلکو

هغه پام کوي په کونډو او يتيمانو باندې

خو خرابوي د بدکارانو پلانونه

۱۰ څښتن به کړي پاچاهي د تل دپاره

ای صهيونه، پاچاهي به کړي ستا خدای

ټولو نسلونو پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ!

## د مطلق قادر خدای ثنا او صفت

# ۱۴۷

۱ د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ

څومره ښه ده چې خپل خدای دپاره ووایو سندره

څومره خوشحالوونکې او سمه ده

چې صفت يې وکړو

۲ ښبنتن بيا اباد وي اورشليم

شړلي خلک د اسراييلو

راولي بېرته خپل کور ته

۳ روغوي هغه مات زړونه

او ږدي پټۍ د دوی زخمونو باندې

۴ هغه ټاکلی دی د ستورو شمېر

او هر يوه ته يې خپل نوم ورکړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ زمونږ څښتن دی لوی

او ډېر زورور دی هغه

بې‌اندازې ده د هغه پوهه

۶ پورته کوي څښتن عاجزان خلک

خو بدکاران راغورځوي په ځمکه

۷ څښتن ته ووایئ د شکرګزارۍ سندره

وغږوئ ساز خپل خدای ته په رباب سره

۸ هغه په ورېځو پټوي اسمان

رااوروي هغه باران په ځمکه

او شنه کوي واښه غونډیو باندې

۹ حیواناتو ته خوراک رسوي

ورکوي خوراک چې کله وچغیږي

د کارغانو بچي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ د هغه خوشحالي نه ده د اس قوت کې

او نه یې خوښي شته د انسان طاقت کې

۱۱ خو څښتن خوشحاله وي د هغو خلکو څخه

چې کړي ویره له هغه

او څوک چې باور لري د هغه په تلپاتې مینه

۱۲ ای اورشلیمه، د څښتن ثنا او صفت وکړه

ای صهیونه، د خپل خدای ثنا او صفت وکړه

۱۳ ځکه قوي ساتي اړمونه ستا د ښار د دروازو

او برکت ورکوي ستا اوسېدونکو ته

۱۴ ستا سرحدونه په امان کې ساتي

او مړوي تا په ډېرو ښو غنمو باندې

۱۵ هغه امر کوي ځمکې ته

او څه چې وايي اجرا کیږي هغه زر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ وروي واوره لکه سپينو وړيو په شان

او خپروي پرخه لکه ايرې په شان

۱۷ هغه ږلی وروي لکه د کاڼو په شان

څوک تېنګېدلی نه شي د هغه يخنی ته

۱۸ د هغه په حکم ويلي کيږي يخ

رالېږي بادونه او جاري کيږي اوبه

۱۹ هغه يعقوب ته خپل پيغام ورکوي

يعنې اسراييلو ته خپل قوانين او احکام

۲۰ هغه بل قوم ته داسې نه دي کړي

دوی نه پوهيږي د هغه په قوانينو باندې

د خښتن ثنا او صفت وکړئ

## خدای ته د ثنا ويلو په خاطر کايناتو ته بلنه

# ۱۴۸

۱ د خښتن ثنا او صفت وکړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اسمانونو څخه وکړئ ثنا او صفت د څښتن

ای چې اوسېږئ تاسو اسماني ځايونو کې

٢ ای ټولو فرښتو، د هغه ثنا ووايئ

ای ټولو اسماني لښکرو، د هغه ثنا ووايئ

٣ ای لمر او سپوږمی، د هغه ثنا ووايئ

ای ټولو ځلېدونکو ستورو، د هغه ثنا ووايئ

٤ ای اوچتو اسمانونو، د هغه ثنا ووايئ

ای د اسمان دپاسه اوبو، د هغه ثنا ووايئ

٥ ټول دې ووايي ثنا د څښتن په نوم

ځکه چې ټول يې پيدا کړي دي په خپل حکم

٦ ځای په ځای کړي يې دي هغوی

خپلو ځايونو کې د تل دپاره

هغه جوړ کړی دی قانون

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بدلېدلی نه شي

٧ د ښېښتن ثنا او صفت وکړئ ای د ځمکې مخلوقاتو

ای لويو دريابي حيواناتو او مخلوقاتو

چې اوسېږئ د بحرونو تل کې

٨ ای برېښنا او ږلی، واورې او ورېځو

توفاني بادونو چې يې حکم منئ

٩ ای ټولو غرونو او غونډيو

ای مېوه دارو ونو او ای د سبر ونو

١٠ ای ټولو وحشي او اهلي ښارويو

ای خزندو او مرغانو

١١ ای د نړی پاچاهانو او ټولو خلکو

ای شاهزادګانو او ای ټولو حاکمانو

١٢ ای ځوانانو او پېغلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای زړو خلکو او ماشومانو

۱۳ ټول دې ووايي ثنا د څښتن په نوم

ځکه چې يوازې د هغه نوم لوی دی

شان او شوکت يې لوړ دی

له ځمکې او اسمانونو څخه

۱۴ هغه خپل قوم دی قوي کړی

ترڅو د هغه ټول وفادار خلک يې ثنا ووايي

هغه دا کار کړی دی د اسراييليانو دپاره

چې ورته ګران دي ډېر

د څښتن ثنا او صفت وکړئ

## د ثنا او صفت سندره

## ۱۴۹

۱ د څښتن ثنا او صفت وکړئ

څښتن ته ووايئ نوې سندره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د وفادارو په غونډه کې یې ثنا ووایئ

۲ ای اسراییلو، خوشحالي وکړئ

د خپل خالق په خاطر

ای د صهیون خلکو، خوشحالي وکړئ

د خپل پاچا په خاطر

۳ د هغه د نوم ثنا او صفت وکړئ په اتڼونو باندې

د چمبو او چنګونو په وهلو یې ثنا ووایئ

۴ ځکه خوشحاله دی ښښتن د خپلو خلکو څخه

عاجزانو ته په سر ږدي د بري تاج

۵ خوشحالي دې وکړي خدای ته وفادار خلک

خپلې کامیابۍ باندې

او په خپلو بسترو کې دې

د خوښۍ سندرې ووايي دوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ په لوړ اواز دې د څښتن ثنا او صفت وکړي

او دوه‌مخيزه تورې دې وي د دوی لاسونو کې

۷ چې د قومونو نه بدل واخلي

او سزا ورکړي هغو خلکو ته

۸ او زولانه کړي د هغوی پاچاهان

او په زنځيرونو يې مشران وتړي

۹ او لکه څنګه چې خدای حکم کړی

چې نورو قومونو ته سزا ورکړي

دا کاميابي به وي د خدای د وفادارو خلکو

د څښتن ثنا او صفت وکړئ

## د څښتن ثنا او صفت وکړئ

# ۱۵۰

۱ د څښتن ثنا او صفت وکړئ

د خدای ثنا او صفت وکړئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه په سپېڅلي ځای کې

د هغه ثنا او صفت وکړئ په اسمانونو کې

چې قوي يې ده کلا

٢ د هغه ثنا او صفت وکړئ

د هغه د عجيبه کارونو په خاطر

ثنا او صفت وکړئ د هغه د بې‌شانه لويی

٣ د هغه ثنا او صفت وکړئ د سرنيو په اواز

د هغه ثنا او صفت وکړئ په چنګونو او ربابونو

٤ د هغه ثنا او صفت وکړئ په چمبو او ګډاګانو

د هغه ثنا او صفت وکړئ په رباب او شپېلی وهلو

٥ د هغه ثنا او صفت وکړئ د تالونو په وهلو

د هغه ثنا او صفت وکړئ د تالونو په شرنګولو

٦ ټولو ژونديو مخلوقاتو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.